شمــا ره

مـضـمـ

ون
صفحه

1. د مرګ په اړه الله فرمايي 1
2. د مرګ په اړه اقوال 18
3. حضرت ابو بکر الصديق 18
4. حضرت علي 19
5. حضرت حذيفه 20
6. حضرت ابو الدرداء 20
7. حضرت حسن بصري 21
8. حضرت عمر بن عبد العزيز 22
9. حضرت ابراهيم التيمي 23
10. حضرت سلمان فارسي 24
11. واقعه 27
12. حضرت عبد الله ابن مبارک 30
13. ملغلرې 31
14. د ابن الجوزي اقوال 52
15. واقعه 55
16. مرګ 57
17. واقعه 59
18. واقعه 62
19. واقعه 74
20. واقعه 77
21. واقعه 79
22. نکتې 82

23. مرګ څه شی دی؟.. 90
24. مرګ یو دم راځي.. 91
25. واقعه.. 97
26. واقعه.. 106
27. واقعه.. 106
28. آخره (خاتمه).. 117
29. بده خاتمه.. 117
30. په ځانکدن کې له کلمې ویلو انکار.. 118
31. د شرابي ځانکدن.. 118
32. د سطرنج کونکي ځانکدن.. 120
33. په ځانکدن کې موسیقي.. 120
34. د تاجر ځانکدن.. 120
35. دا ټول عبروتونه دي.. 121
36. بده خاتمه په دوه ډوله ده.. 122
37. خاتمه ولې خرابیږي؟.. 123
38. ښه خاتمه.. 125
39. واقعه.. 125
40. واقعه.. 127
41. د ښې خاتمې نښې.. 128
42. د ځانکدن په وخت کې کلمه.. 130
43. په تندي باندې خوله راتلل.. 130
44. د جُمعې په شپه او ورځ کې مرګ.. 131
45. شهادت.. 131
46. ښځه د ماشوم په ولادت کې مړه کېدل.. 132
47. په اور سوزېدل.. 133

48. په ظلم سره وژل کېدل 133
49. د نېک عمل نه وروسته مړه کېدل............................ 133
50. د ښې خاتمې لپاره اسباب 134
51. استقامت.. 134
52. په الله باندې ښه گمان 135
53. تقوی.. 135
54. همېشه اطاعت.. 136
55. د مرگ زيات يادول 136
56. د بدې خاتمې نه ډارېدل... 136
57. ماخذونه 137
58. د مؤلف چاپ شوي آثار 139

Ÿ

الحمد لله رب العالمين، اللهم صلِّ على محمدٍ وآله وسلم وبارك، اللهم إنَّا نسألك من الخير كله عاجله وآجله ما علمنا منه وما لم نعلم، ونعوذ بك من الشر كله عاجله وآجله ما علمنا منه وما لم نعلم، اللهم إنَّا نعوذ بك من فتنة القول والعمل، آمين اللهم آمين، أمَّا بعد:

د مرګ په اړه الله فرمايي

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ إِلاَّ بِإِذْنِ اللَّهِ كِتَابًا مُؤَجَّلاً .[1]

ترجمه : او نشته هېڅ نفس لره دا چې مړ شي مګر په اذن (حکم) د الله سره چې ليکلی شوی دی (دا مرګ) په يوه مقرروخت کې (چې نه وړاندی او نه وروسته کيږی).

الله په بل ځای کې فرمايي :

لَوْ كُنْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إِلَى مَضَاجِعِهِمْ.[2]

ترجمه : که وی تاسې په کورونو خپلو کې (نو) خامخا به راوتلي وو هغه کسان چې مقرر شوی وو په دوی باندې وژل طرف د ځايو د پريوتلو خپلو ته ،

په بل ځای کې الله فرمايي :

---

[1] **سورة آل عمران آية ١٤٥**

[2] سورة آل عمران آية ١٤٥

وَلَنْ يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَاءَ أَجَلُهَا وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ . [1]

ترجمه : او له سره به نه وروستي کوي الله هېڅ نفس لره (له مرګه کله چې راشی نېټه ئی او الله ښه خبردار دی په هغه څه (ښه او بد) چې کوی ئې تاسې (نو جزا به پرې درکړي).

الله په بل ځای کې فرمايي :

إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلاَّ تَخَافُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ . [2]

ترجمه : بېشکه هغه کسان چې ويل يې زموږ رب الله دی بيا په همدې خبره ټينګ پاتې شول په هغوی باندې به ملائکې نازلېږي ورته وايي به چې تاسې مه ډارېږئ مه خفه کېږئ او د هغه جنت زيری قبول کړئ چې لتاسې سره يې وعده کېده .

1 سورة المنافقون آية ١١
2 سورة فصلت آية ٣٠

په بل ځای کې الله فرمايي :

الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَامٌ عَلَيْكُمُ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ .[1]

ترجمه : هغه (کسان) چې قبضوي ارواح) د دوی ملائکې په دې حال کې چې پاک دي دغه (متيقن له شر که او معصيته) وائي به دغه (ملائک دوی ته چې د الله) سلام دی وی پر تاسې باندی ننوزئ ! جنت ته په سبب د هغو نيکيو چې وئ تاسو چې عمل به مو کاوه (په دنيا کې)

او هغه کسان چې هغوی بد بختان دي الله د هغوی په اړه فرمايي :

وَلَوْ تَرَى إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَالْمَلَائِكَةُ بَاسِطُو أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوا أَنْفُسَكُمُ الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ آيَاتِهِ تَسْتَكْبِرُونَ .[2]

ترجمه : او که ووينې ته (ای محمده !) ظالمان يعنی کافران په هغه وخت کې چې په (باطنی او روحانی) سختيو د مرګ کې وی حال دا چې پرښتې (د عذاب) غځوونکې وی د لاسونو خپلو (د روح د قبض دپاره نو وائي دوی ته چې) راوباسئ تاسې ارواح خپل (چې ئې قبض کړو که ئې ايستی شئ يا ئې له عذابه وباسئ !) نن ورځ به جزا درکړه شي تاسې ته عذاب سپکوونکی (يعنی چې له سخت تکليف سره ذلت او رسوائي هم وی) په سبب د هغه چې وئ تاسې چې ويل به مو پر الله (وينا) ناحقه او وئ تاسې چې له آيتونو د ده څخه به مو تکبر

---

[1] سورة النحل آية ٣٢
[2] سورة الانعام آية ٩٣

کاوه (او نه به مو منل ، نو وبه ګورې یوه قبیحه منظره) .

په بل ځای کې الله فرمایي :

فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ . [1]

ترجمه : نو څرنګه به وی (حال د دوی) کله چی قبض کوی دوی لره پرښتې (سائی راکاږی) وهي به دوی مخونه د دوی او شاګانې د دوی.

الله په بل ځای کې فرمایي :

حَتَّى إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ * لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا وَمِنْ وَرَائِهِمْ بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ . [2]

ترجمه : تر هغه پورې کله چې راشي یو د دوی ته (اسباب د) مرګ نو وبه وائي ای ربه ځما بېرته و ګرځوه ته ما (دنیا ته) ښائي چې زه عمل و کړم نېک په هغه ځیز کې چې بېرته پریښي دي ما (په دنیا کې نو فرمائي الله چې) نه دي داسې (چې ته بېرته دنیا ته وګر ځېدی شې ایمان او صالح عمل ته) بېشکه دغه د رجعت خبره داسې چټې (بېکاره) خبره ده چې دی ویونکي د هغې دی او په مخ کې د دوی دی برزخ (پرده د قبر ده چې ئې نه پریږدي رجوع ته) تر هغې ورځې پورې چې بیا ژوندی راپاڅولی کیږي .

الله په بل ځای کې فرمایي :

---

[1] سورة محمد آیة ٢٧

[2] سورة المؤمنون آیة ٩٩، ١٠٠

وَأَنْفِقُوا مِنْ مَا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلاَ أَخَّرْتَنِي إِلَى أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُنْ مِنَ الصَّالِحِينَ * وَلَنْ يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَاءَ أَجَلُهَا وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ . [1]

ترجمه : او نفقه كړئ – ولګوئ تاسې له هغو مالونو څخه چې دركړي مو دي تاسې ته پخوا له هغه چې راشي يو ستاسې ته (اسباب) د مرګ (او پريوځي له مبرات او خيرات) نو وبه وائي اى ربه څما ولې دې وروستى نه كړ ما لره (يعني څه به وشي كه تاخير كړې موت) تر اجل نيتې نژدې پورې چې صدقه خيرات وكړم زه او شم زه له صالحانو نېكانو څخه (په موندلو د مافات سره نو فرمائي ﷲ) او له سره به نه وروستى كوى ﷲ هېڅ نفس لره (له مرګه) كله چې راشي نېټه ئې او ﷲ ښه خبردار دى په هغه څه (ښه او بد) چې كوئ ئې تاسې (نو جزا به پرى دركړى) .

ﷲ په بل ځاى كې فرمايي :

قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلاقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ . [2]

ترجمه : مرګ هغه چې تښتئ تاسې له هغه نه (او نه ئې غواړئ) پس بېشكه هغه مرګ ضرور رسېدونكى دى تاسې ته بيا به بوتلى شئ تاسې په لوري د (هغه) ښه پوهېدونكى په پټو او په ښكاره ۇ باندې پس خبربه كړى تاسې په هغو (كارونو باندى) چې وئ تاسې چې كول به مو (په دنيا كې نو جزاء به پر دركړى)

په بل ځاى كې ﷲ فرمايي :

[1] سورة المنافقون آية ١٠، ١١
[2] سورة الجمعة آية ٨

قُلْ لَنْ يَنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ إِنْ فَرَرْتُمْ مِنَ الْمَوْتِ أَوِ الْقَتْلِ وَإِذًا لاَ تُمَتَّعُونَ إِلاَّ قَلِيلاً. [1]

ترجمه : ووايه (اى محمده دوى ته) چى له سره به نفعه نه رسوى تاسې ته تېښته که چېرې وتښتئ تاسې له مرګه يا له قتله او کله چې وتښتيدئ نو ژوندي به پاتې نه کړى شئ مګر لږ (مدت)

په بل ځاى کې الله فرمايي:

أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكُكُمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوجٍ مُشَيَّدَةٍ. 2

ترجمه : هر چېرته چې اوسئ تاسې وبه مومي تاسې لره مرګ اګر که اوسئ تاسې په برجونو (په کلاګانو ، مانيو) ډېرو لوړو محکمو مضبوطو کړى شويو کې

1 **سورة الاحزاب آية ١٦**

2 سورة النساء آية ٧٨

الله پــه بــل ځــاى كــې فــرمــايــي :

وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ذَلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيدُ . [1]

تــرجــمــه : او راغــلــې بــې هــوشــي سختــي د مــرګ لــپــاره د دې چې پــه ستــر ګــوئــې وويــنــي پــه حق سره دا مــرګ هغه دى چې وې بــه تــه لــه دې ځخه پــه ځنګ كــيــدونــكى او نــه وې پــرې اقــرار كــوونــكى.

الله پــه بــل ځــاى كــې فــرمــايــي :

وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ . [2]

تــرجــمــه : او عبــادت كــوه د رب خپــل تــر هغه پــورې چې راشي تــاتــه يــقــيــن (يــعــنى مــرګ).

كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَنَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ . [3]

تــرجــمــه : هر يــو نــفــس ځكــونــكى د مــرګ دى (يــعــنى مــري)، او ازمــايــو مــوږ تــاسې (پــه دنــيــا كــې) پــه شر ، بــدي او پــه خيــر ، نــېكي سره پــه ازمــويــنــه ،او خاص مــوږ تــه بــه راوستــلى شئ تــاسې (دجزا دپــاره).

[1] سورة ق آيــة ١٩
[2] سورة الــحجر آيــة ٩٩
[3] سورة الانــبــيــاء آيــة ٣٥

الله   په بل ځای کې فرمایي :

وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ أَفَإِنْ مِتَّ فَهُمُ الْخَالِدُونَ .[1]

ترجمه : او نه دی ګرځولی موږ هېڅ یوه انسان ته پخوا له تانه (ای محمده) تل ژوندي پاتې کېدل (په دنیا کې) آ یا پس که ته مړ شی پس دوی به تل پاتې کېدونکي وي (په دنیا کې بلکه داسې نه ده)

الله   په بل ځای کې فرمایي :

إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ .[2]

ترجمه : بېشکه چې ته هم مړ کېدونکی ئې او بېشکه دوی هم مړه کېدونکي دي (او هېڅوک بې له الله   پاتې کېدونکي نه دي) .

په بل ځای کې الله   فرمایي :

ثُمَّ إِنَّكُمْ بَعْدَ ذَلِكَ لَمَيِّتُونَ.[3]

ترجمه : بیا بېشکه تاسې پس له دې ژوندي کولو د تاسې (په دغه پاس طریقه سره) خامخا مړه کېدونکی یئ

1 سورة الانبياء آية ٣٤
2 سورة الزمر آية ٣٠
3 سورة المؤمنون آية ١٥

الله پـه بـل ځـای کـې فـرمـايـي :

اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ مَنْ يَفْعَلُ مِنْ ذَلِكُمْ مِنْ شَيْءٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ. [1]

تـرجـمـه : الله هغـه (مـطـلـق قـادر دی) چـې پـيـدا کـړي ئـې يـئ تـاسـې (پـه در کـولـو د روح سره) بـيـا ئـې روزي درکـړې ده تـاسـې تـه بـيـا مـړه کـوي بـيـا ژونـدي کـړي تـاسـې (پـه بـعـث) سره آيـا شـتـه لـه دغو شريـکـانـو سـتـاسـې داسـې څـوک چـې کـولـی شي هغـه لـه دغو (څـلـورو وارو کـارونـو) څـخـه کـوم شـی؟ (بـلـکـه نـشي کـولـی) پـاکـي ده الله تـه او ډيـر لـوی پـورتـه دی شان د الله لـه دې نـه چـې شريـک پـيـدا کـوي دوی (لـه الله سره)

الله پـه بـل ځـای کـې فـرمـايـي :

وَاتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ آلِهَةً لا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ وَلا يَمْلِكُونَ لانفُسِهِمْ ضَرًّا وَلا نَفْعًا وَلا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلا حَيَاةً وَلا نُشُورًا. [2]

تـرجـمـه : او نـيـولـي دي دغو (کـفـارو) بـې لـه الله نـور مـعـبـودان چـې نـشي پـيـدا کـولـی (دغـه مـعـبـودان) هېڅ شی حال دا چـې دوی پـخـپـلـه پـيـدا کـول شی او نـه دي مـالـکـان دپـاره د ځـانـونـو خـپـلـو د ضرر (د دفـع کـولـو) او نـه د نـفـعې (د رسـولـو) او نـه دي مـالـکـان پـه وژلـو د چـا او نـه پـه ژونـدي کـولـو د چـا او نـه پـه بـيـا ژونـدی پـورتـه کـولـو د مـړيـو (لـه قـبـوروبـعـث تـه) .

الله پـه بـل ځـای کـې فـرمـايـي :

---

[1] سورة الروم آية ٤٠
[2] سورة الفرقان آية ٣

وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ .[1]

ترجمه : او هغه (رب) چې مړ کوي مې (په دنيا کې) بيا به مې ژوندى کوي (په عقبا کې)

الله په بل ځاى کې فرمايي :

اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ مَنْ يَفْعَلُ مِنْ ذَلِكُمْ مِنْ شَيْءٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ.[2]

ترجمه : الله هغه (مطلق قادر دى) چې پيدا کړى ئى يئ تاسې (په در کولو د روح سره) بيا ئې روزي درکړې ده تاسې ته بيا مړه کوي بيا ژوندي کړي تاسې (په بعث) سره آيا شته له دغو شريکانو ستاسې داسې څوک چې کولى شي هغه له دغو (څلورو واړو کارونو) څخه کوم شى؟ (بلکه نشي کولى) پاکي ده الله ته او ډير لوى پورته دى شان د الله له دې نه چې شريک پيدا کوي دوى (له الله سره)

---

1 سورة الشعراء آية ٨١

2 سورة الروم آية ٤٠

الله پـه بـل ځـای کـې فـرمـايـي :

اللَّهُ يَتَوَفَّى الانْفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الاخْرَى إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيات لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ. [1]

تـرجـمـه : الله راکـاږي (قـبـضـوي) نـفـسـونـه پـه وخـت د مـرګ د دوی او هـغـه نـفـس چـی نـه وي مـړ (هـغـه راکـاږی) پـه خـوب د هـغـه کـې پـس وسـاتـي هـغـه (نـفـس) چـې حـکـم کـړی پـر هـغـه د مـرګ او بـېـرتـه رالـېـږی (بـدن تـه) هـغـه بـل (نـفـس) تـر نـېـټـی پـه نـامـه کـړی شـوی پـورې، بـېـشـکـه پـه دغـه (قـبـض، امـسـاک، ارسـال) کـې خـامـخـا ډېـر دلائـل د قـدرت دي دپـاره د هـغـه قـوم چـې فـکـر کـوی (او عـبـرت تـرې اخـلـي لـېـکـن نـه کـوي فـکـر پـکـې کـفـار).

الله پـه بـل ځـای کـې فـرمـايـي :

وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُم بِاللَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَى أَجَلٌ مُّسَمًّى ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ * وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُم حَفَظَةً حَتَّىَ إِذَا جَاء أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لاَ يُفَرِّطُونَ. [2]

تـرجـمـه : او الله هـغـه (لـوی ذات) دی چـې وفـاتـوي (حـصـاروي او ويـده کـوي) تـاسـې پـه شـپـه کـې او پـوهـيـږي پـه هـر هـغـه څـه چـې کـسـب کـړی وي تـاسـې پـه ورځـې کـې (لـه طـاعـت او مـعـصـيـت څـخـه) بـيـا پـاڅـوي تـاسـې (لـه خـوبـه) پـه دغـه (ورځ) کـې چـې پـوره کـړ شـي اجـل (نـېـټـه) مـقـرره شـوې ، بـيـا خـاص هـم ده تـه بـېـرتـه ورتـلـل سـتـاسـې دي بـيـا بـه خـبـر کـړي (الله) تـاسـې پـه (جـزاء) د هـغـه څـه چـې وئ تـاسـې چـې کـول

1 سورة الـزمـر آيـة ٤١
2 سورة الانـعـام آيـة ٦٠، ٦١

به مو . (په دنيا کې له خير او شره) او هم دی دی غالب د پاسه په بند ګانو خپلو او ليږي پر تاسې ساتونکي (له ملائکو چې هغه ليکونکې د اعمالو ستاسې کرام الکاتبين دي) تر هغه پورې کله چې راشي يو ستاسې ته مرګ قبضوی روح د ده ليږلی شوی

(پرښتی زموږ چې ستاسې د ارواحو د قبضولو دپاره ليږلی کيږی) او دوی هېڅ تقصير نه کوی (د امر په امتثال کې د اجل له پوره کيدلو څخه وروسته).

په بل ځای کې الله فرمايي :

قَالُوا رَبَّنَا أَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلْ إِلَى خُرُوجٍ مِنْ سَبِيلٍ. [1]

ترجمه : (نو) وبه وائي (دا کفار) ای ربه زموږ مړه دی کړو مړنږ دوه ځلې او ژوندي دې کړو موږ دوه ځلې پس قايل شو موږ په ګناهونو خپلو پس آيا شته د وتلو (زموږ ته له دغه دوزخه) کومه لاره !

الله په بل ځای کې فرمايي :

كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ. [2]

ترجمه : څرنګه کافران کيږی په الله باندې حال دا چې وی تاسې مړه بيا (الله) ژوندي کړی تاسې (د روح په درکولوسره) بيا به (الله) مړه کړي

1 سورة غافر آية ١١
2 سورة البقرة آية ٢٨

تاسې بیا به (الله) ژوندي کړي تاسې (په بعث سره) بیا به خاص هم ده ته وروستی شی . (د خپلو اعمالو د جزا لپاره).

الله په بل ځای کې فرمايي :

هُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ فَإِذَا قَضَى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ. [1]

ترجمه : (الله) هم هغه (ذات) دی چی ژوندي کول کوي او مړه کول کوي پس هر کله چې اراده حکم و کړي د یوه کار پس بېشکه هم دا خبره ده چی وائي ورته چې (موجود) شه پس هغه موجود شي (بې له مهلته).

الله په بل ځای کې فرمايي :

لا إِلَهَ إِلا هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَائِكُمْ الاوَّلِينَ. [2]

ترجمه: نشته لائق د عبادت بل هېڅوک مګر هم دی دی چې ژوندي کول او وژل کوي (دغه الله) رب ستاسې دی او رب د پلرونو ړومبنيو ستاسې دی .

هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ. [3]

ترجمه : هم دغه (الله) ژوندي کول او مړه کول کوي او هم ده ته بیا بیولی کیږئ (په قیامت کې لپاره د جزا)

الله فرمايي :

---

[1] سورة غافر آية ٦٨
[2] سورة الدخان آية ٨
[3] سورة يونس آية ٥٦

وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِ وَنُمِيتُ وَنَحْنُ الْوَارِثُونَ. [1]

ترجمه : او بېشكه موږ خامخا هم دا موږ ژوندي كول او هم وژل كوو او هم دا موږ وارث باقي پاتې كېدونكي يو (پس له فنا د عالميانوهم) .

په بل ځاى كې الله فرمايي :

وَهُوَ الَّذِي أَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ إِنَّ الإنسان لَكَفُورٌ . [2]

ترجمه : او دغه (الله) هغه (قادر مطلق دى) چې ژوندي كړي يې يئ تاسې (په در كولو د روح سره پس له هغه چې نطفې وئ) بيا به مړه كاندي تاسې (كله چې اجل مو پوره شي) بيا به ژوندي كړي تاسې (په قيامت كې په بعث سره)، بېشكه انسان خامخا ناشكره دى .

الله فرمايي :

وَاتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ آلِهَةً لا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ وَلا يَمْلِكُونَ لانفُسِهِمْ ضَرًّا وَلا نَفْعًا وَلا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلا حَيَاةً وَلا نُشُورًا. [3]

ترجمه : او نيولي دي دغو (كفارو) بې له الله نور معبودان چې نشي پيدا كولى (دغه معبودان) هېڅ شى حال دا چې دوى پخپله پيدا كول شى او نه دي مالكان دپاره د ځانونو خپلو د ضرر (د دفع كولو) او نه د نفعې (د رسولو) او نه دي مالكان په وژلو د چا او نه په ژوندي كولو د چا او نه په بيا ژوندي پورته كولو د مړيو (له قبوروبعث ته) .

---

[1] سورة الحجر آية ٢٣
[2] سورة الحج آية ٦٦
[3] سورة الفرقان آية ٣

الله پـه بـل ځـاى کـې فـرمـايـي :

إِنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ والأرض يُحْيِ وَيُمِيتُ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلا نَصِيرٍ . [1]

تـرجـمـه : بـېشکـه چـې الله (خـاص) ده لـره دى سـلـطـنـت د آسمـانـونـو او د ځمکې، ژونـدي کـول او مـړه کـول کـوي، او نـشـتـه تـاسې تـه بې لـه الله ځـخـه هېڅ ولـی (دوست ساتـونـکی لـه آفـاتـو) او نـه مـدد گـار (خلاصوونـکی لـه بـلـيـاتـو) .

الله پـه بـل ځـاى کـې فـرمـايـي :

قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأرض لا إِلَهَ إِلا هُوَ يُحْيِ وَيُمِيتُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الامِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ. [2]

تـرجـمـه : ووايـه (اى مـحـمـده ! چـې) اى خـلـقـو بـېشکـه زه رسـول د الله يـم تـاسې ټـولـو تـه (نـه بـعـضـو تـه لـکـه نـور انـبـيـاء) هغـه الله چـې (خـاص) ده لـره دى مـلـک (پـاچـاهـي) د آسمـانـونـو او د ځمـکـې، نـشـتـه هېڅ لايـق د عـبـادت (پـه حقـه سـره) مـگـر هـم دى دى چـې ژونـدي کـول کـوى او مـړه کـول کـوي نـو ايـمـان راوړئ (يـقـيـن و کـړئ) پـر الله (چې واحد او لا شريـک دى) او پـه رسـول د دغـه (الله) چـې نـبـي امـي (نـالـوسـتـونـکـى نـالـيـکـونـکـى دى) هغـه رسـول چـې ايـمـان لـرى پـه الله او پـه گـردو (ټـولـو) خـبـرو د الله او مـتـابـعـت و کـړئ د ده دپـاره د دې چـې تـاسې لاره ومـومـئ.

الله پـه بـل ځـاى کـې فـرمـايـي :

---

[1] سورة الـتـوبـة آيـة ١١٦
[2] سورة الاعراف آيـة ١٥٨

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَكُونُوا كَالَّذِينَ كَفَرُوا وَقَالُوا لإخوانهم إِذَا ضَرَبُوا فِي الأرض أَوْ كَانُوا غُزًّى لَوْ كَانُوا عِنْدَنَا مَا مَاتُوا وَمَا قُتِلُوا لِيَجْعَلَ اللَّهُ ذَلِكَ حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ وَاللَّهُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ . [1]

ترجمه : ای هغو کسانو چې ایمان ئې راوړی دی (ای مؤمنانو !) مه کیږئ تاسې لکه هغه کسان چې کافران شوي دي. او ویل به دوی په (حق د) ورونو خپلو کې. کله به چې سفر ته وتل دوی په ځمکه (په ملک) کې یا به وو دوی غزا کوونکي که چیرې وی دوی په نزد زموږ کې نو نه به وو مړه شوی دوی او نه به قتل کړل شوي وو دوی ، دپاره د دې چې وګرځوي الله دا (ګمان) حسرت (افسوس ، ارمان) په زړونو د دوی کې. او الله ژوندی کول (ژوندي پرېښودل) او مړه کول کوي (نه جنګ نه سفر او نه نور، او الله پر هغو (ټولو) شیانو چې تاسې ئې کوئ ښه لیدونکی دی (عالم په پټو او ښکاره ؤ).

الله په بل ځای کې فرمایي :

نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ . [2]

ترجمه : موږ مقدر کړی مو دی په منځ ستاسې کې (ای مخلوقاتو) مرګ . او نه یو موږ عاجز چې څوک تیری رابانديې و کړی له دې نه چې پیدا کړو بدل ستاسې پشان (نور خلق) .

الله په بل ځای کې فرمایي :

وَلَنْ يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَاءَ أَجَلُهَا وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ . [1]

[1] سورة آل عمران آية ١٥٦
[2] سورة الواقعة آية ٦٠

ترجمه : او له سره به نه وروستى كوى الله هېڅ نفس لره (له مرګه كله چې راشى نيټه ئى او الله ښه خبردار دى په هغه څه (ښه او بد) چې كوى ئى تاسې (نو جزا به پرى دركړى).

الله په بل ځاى كې فرمايي :

قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ . [2]

ترجمه : ووايه (اى محمده ! دغو يهودانو ته) بېشكه مرګ هغه چې تښئ تاسې له هغه نه (او نه ئې غواړئ) پس بېشكه هغه مرګ ضرور رسېدونكى دى تاسې ته بيا به بوتلى شئ تاسې په لورى د (هغه) ښه پوهېدونكى په پټو او په ښكاره وو باندې پس خبر به كړى تاسې په هغو (كارونو باندى) چې وئ تاسې چې كول به مو (په دنيا كې نو جزاء به پرې دركړى)

الله په بل ځاى كې فرمايي :

الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ. [3]

ترجمه : هغه (الله) چې پيدا كړى ئې دى مرګ او ژوندون لپاره د دې چې وازموئې تاسې چې كوم يو له تاسې ډير ښه دى د عمل له مخې (چې دركړي تاسو ته جزاء د اعمالو) او هم دغه (الله) ښه غالب قوي دى ډير مغفرت كوونكى دى.

رسول الله فرمايي :

---

[1] سورة المنافقون آية ١١
[2] سورة الجمعة
[3] سورة الملک آية ٢

من استحيا من الله حقَّ الحياء فليحفظ الرأس وما وعى ، وليحفظ البطن وما حوى ، وليذكر الموت والبلى ، ومن أراد الآخرة ترك زينة الحياة الدنيا.

ترجمة : هغه څوک چې په رښتیا سره له الله څخه حیاء کوي نو سر او هغه څه چې په سر کې دي هغه د له ناروا څخه وساتي ، ګېډه او هغه څه چې په ګېډه کې دي هغه د وساتي ، مرګ او مصیبتونه د ځان ته ور یاد کړي ، د چا چې آخرت په کار وي نو ددنیا زینت د پرېږدي .

د مرګ په اړه اقوال

د مرګ په اړه د صحابه وو ، علماوو ، حکیمانو ، شاعرانو ، ادیبانو او په ژوند کې د تجربه لرونکو خلکو اقوال .

حضرت ابو بکر الصدیق

کله چې د حضرت ابي بکر صدیق د مرګ وخت وو او بیماري یې سخته وه یوه جامه وربانډې پرته وه حضرت عایشه چې ور ننوتله نو یو شعر ورپه زړه شو ویې ویل:

ترجمة : زما د ستا په عمر قسم وي کله چې د انسان په سینه کې تنګي راشي په هغه ورځ هېڅ شی فایده نه کوي ...

حضرت ابو بکر صدیق له مخ نه هغه ټوټه لرې کړه او مخ یې ورته را ښکاره کړو ویې فرمایل نه ددې په ځای داسې ووایه : **وَجَاءتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ذَلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ** (19) .[1]

---

[1] **سورة ق**

ترجمة : بېشکه د مرګ سختي راغله په حقه سره او دا هغه څه دي چې ته ورڅخه تښتېدلې.

بیا حضرت ابو بکر صدیق وفرمایل : زما دا دواړه جامې وګورئ دواړه وویڼځئ او له همدې نه ماته کفن جوړ کړئ ځکه نوې جامې ژوندي ته ښې دي (ددې په ځای چې ماته له نوې جامې نه کفن راکوئ له هغې نه د کوم ژوندی سړی کالي وکوي او ماته له همدې زړو جامو څخه کفن جوړ کړئ) څه صحابه ورته راغلل ورته یې وویل : طبیب درته را ونه غواړو؟

ده مبارک ورته وویل : زه مې خپل طبیب کتلی یم او هغه وویل : زه هغه څه کوم چې زما خوښه شي .

حضرت علي

حضرت علي فرمایي : که چېرته په دنیا کې یو کس پاتې کېدونکی وای نو حضرت داود به پاتې شوی وو چې الله ورته د انسانانو او پېریانو بادشاهي ورکړې وه ، ددې سره یې نبوت هم ورکړی وو او لوړه مرتبه یې ورکړې وه ، باد دده په اختیار کې وو لکن بیا یې هم چې په دنیا کې وخت پوره شو نو وفات شو او هغه ټوله بادشاهي ورڅخه پاتې شوه .

حضرت علي په یو شعر کې فرمایي :

لادار للمرء بعد الموت یسکنها

إلا التي هو قبل الموت بانیها

ترجمة : د سړي لپاره تر مرګ وروسته داسې کور نشته چې دی پکې و اوسيږي مګر هغه يو کور دی چې ده ځان ته له مرګ نه وړاندې جوړ کړی وي.

حضرت علي به صحابه په جنګ باندې ور تېزول او فرمايل به يې که تاسې جنګ ونه کوئ بيا هم تاسې ته مرګ راځي زما د په هغه ذات قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دی چې د تورې زر وارونه له هغه مرګ نه اسانه دي چې انسان ته په بستره باندې راځي .

حضرت علي به فرمايل : هغه څوک چې مرګ هر وخت ورته په ياد وي په دنيا کې ډېر په کم ژوند باندې هم خوشحاليدلی شي او هغه څوک چې مرګ يې هېر وي او د دنيا ژوند ته يې مقصودي ژوند ويلی وي هغه ته که ډېر سهولتونه ورکړل شي بيا هم خوشحالي پکې نشي پيدا کولی .

حضرت حذيفه

کله چې د حضرت حذيفة د وفات وخت شو دعاء يې وکوله او ويې فرمايل

اللهم إن كنت تعلم أن الفقر أحب إلي من الغنى والسقم أحب إلى من الصحة والموت احب إلى من العيش فسهل على الموت حتى ألقاك.

ترجمة : ای الله که ته پوهېږې چې فقر زما تر مالداري نه ډېر خوښ دی او بيماري زما د صحت نه خوښه ده او مرګ زما د ژوند نه خوښ دی نو زما مرګ لپاره اسان کړه ترڅو لتا سره مې ملاقات وشي .

حضرت ابو الدرداء

حضرت ابي الدرداء ته دده په بيماري کې وويل شول:

له څه شي نه تکليف يې؟

ده ورته وويل: له خپلو ګناهونو څخه.

دوی ورته وويل: څه شي ته د زړه کيږي؟

ده ورته وويل د الله بښنې او مغفرت ته.

دوی ورته وويل: طبيب درته را وغواړو؟

ده ورته وويل خپل طبيب بيمار کړی يم (که د هغه خوښه شي بېرته به مې جوړ کړي).

حضرت حسن بصري

حضرت حسن بصري به فرمايل: دا مرګ هم څه عجيب شی دی په دنيا کې يې د هوښيارانو لپاره خوشحالي نه ده پريښي (هغه څوک چې هوښيار وي هغوی له مرګ نه ډاريږي او د دنيا له نعمتونو څخه خوند او مزه نشي اخيستلی).

حضرت حسن بصري فرمايي: د مؤمن راحت د الله سره په ملاقات کې دی او د چا راحت چې د الله سره په ملاقات کې وي نو د مرګ ورځ د هغه د خوشحالي ورځ ده، د هغه د راحت ورځ ده او د هغه د عزت او شرافت ورځ ده.

حضرت حسن بصري چې يوه شپه را ويښ شو نو سخت سخت يې وژړل د کور خلکو ورڅخه پوښتنه وکوله: ولې ژاړې؟ ده وويل يوه ګناه مې را په زړه شوه ومې ژړل له مرګه وروسته به د هغې ګناه په اړه لما سره څه کيږي .... لوستونکيه کله تاته

خپله کومه گناه در په زړه شوې چې ته یې ژړولی یې؟ که هو ... وي نو بیا د ولې همدا ژړا د هر وخت لپاره عادت نه شوه ...؟ او که نه ....
نو ولی ته د حسن بصري په څېر انسان نه یې او کنه ستا بدن د اور مقابله کولی شي او د هغه یې نشوای کولی؟[1]

حضرت عمر بن عبد العزیز

حضرت عمر بن عبد العزیز به هره شپه علماء او فقهاء را ټول کړل او د مرگ په اړه به یې خبرې کولې قیامت او آخرت به یې یادولو چې بیا به ټولو داسې ژړل لکه د دوی په وړاندې چې جنازه ایښې وي .

حضرت عمر بن عبد العزیز یو عالم ته وویل : ماته نصیحت وکوه هغه ورته وفرمایل : ستا د پاره دا نصیحت بس دی چې ته اول خلیفه نه یې چې نه مړ کېږې ډېر لتا څخه مخکې خلفاء وو ښه ژوند او دبدبه یې وه او مړه شول .. حضرت عمر بن عبد العزیز ورته وویل : لږ نور هم راته وکوه هغه عالم ورته وویل : ستا په پلرونو او نیکونو کې له تا څخه نیولې تر حضرت آدم پورې داسې څوک نشته چې مرگ یې نه وي څکلی اوس ستا نمبر دی لدې خبرې سره حضرت عمر بن عبد العزیز په ژړا شو .

حضرت عمر بن عبد العزیز یو کس ته چې په شام کې والي وو لیکلي وو :**أما بعد: فكم للتراب في جسد ابن آدم من مأكل! وكم للدود فيه من طريق مخترق! وإنِّي أحذركم ونفسي – أيها الناس – العرض على الله عز وجل.**

---

[1] ابن الجوزي

ترجمة : د انسان په بدن کې د خاورو لپاره څومره د خوراک ځایونه دي ، څومره د هغوی په بدن کې د چینجیو لپاره لارې دي ، زه تاسې او خپل ځان لدې ډاروم ... اې خلکو الله ته له ور وړاندې کولو څخه .

حضرت عمر بن عبد العزیز یوه ورځ د خپلو ملګرو په مینځ کې ناست وو د یو څه خاموشي وروسته په ژړا شو چا ورڅخه د ژړا وجه وغوښته ده ورته وویل : ما په دنیا او د دنیا په مزو کې فکر وکاوه چې دا خلک یې څنګه په غفلت کې اچولي دي او له ټولو نه یې مرګ هېر کړی دی او یو عبرت راته پکې حاصل شو دا د دنیا شهوات ټول فاني کېدونکي دي انسان باید عبرت ترې واخلي او په دې هر شي کې دلته یو پند او نصیحت پروت دی .

حضرت ابراهیم التیمي

حضرت ابراهیم التیمي به فرمایل :

دوه شیان دي چې زما څخه د دنیا لذت اخیستی دی:

١. د مرګ یاد.

٢. د الله په وړاندې د دریدلو ویره .

۞۞۞

حضرت کعب به فرمایل : هغه څوک چې مرګ وپېژني د دنیا مصیبتونه ورباندې سپکیږي .

۞۞۞

حضرت مطرف بن عبد الله به فرمایل : دې مرګ په دنیا کې د نعمتونو ذایقه خرابه کړېده د داسې نعمتونو کوښښ وکوي چې پیدا یې کړئ چې په هغې پسې مرګ نه وي (د جنت نعمتونه به یې یادول) .

۞۞۞

حضرت ابو سلیمان الدارانی فرمایي ما ام هارون ته وویل : مرګ د خوښ دی؟ هغې راته وویل : نه ما ورته وویل ولې نه؟ هغې وویل : که زه د کوم بنده نافرماني وکوم نو د هغه سره به مې مخامخ کېدل خوښ نه شي نو ما چې د الله نافرماني کړې ده او د هغه ګناهونه مې کړي دي نو د هغوی سره به څنګه په ملاقات خوشحاله شم ؟

حضرت سلمان فارسي

حضرت سلمان فارسي به فرمایل : درې شیان دي چې زه یې حیران کړی یم تردې چې خندا مې ورته راغله:

۱. د دنیا په طلب کې ستړی انسان چې مرګ دده په طلب کې وي.

۲. هغه غافل انسان چې لده څخه څوک غافل نه وي (که دی هرڅو غافل شي خو دده هره دقیقه او ثانیه په ده پسې شمارل کیږي) .

۳. هغه په ډکه خوله خندیدونکی چې پدې نه وي خبر چې پدې حالت کې به دده رب ده ته په قهر وي او که به له ده څخه رضا وي.

او درې شیان دي چې زه یې خفه کړم تردې چې ما وژړل:

۱. د دوستانو یعني د رسول الله او د هغه د ملګرو جدایي.

۲. د قبر نه د را پاڅېدلو په وخت کې د هغه وخت هیبت او وېره.

۳. د الله په وړاندې درېدل چې زه به پدې نه وم خبر چې ماته به اوس امر کیږي چې جنت ته به ځم او که دوزخ ته.

کله چې د حضرت سلمان فارسي ځانکدن شو په ژړا شو چا ترې پوښتنه وکوله ولې ژاړې؟ ده مبارک وفرمایل:

ما أبكي جزعا على الدنيا، ولكن عهد إلينا رسول الله صلى الله عليه وسلم أن تكون بلغة أحدنا من الدنيا كزاد الراكب.

ترجمه: زه پدې نه ژاړم چې دنیا رانه پاتې کیږي بلکه پدې ژاړم چې رسول الله موږ ته ویلي وو چې په دنیا کې ستاسې دارایي باید صرف دومره وي لکه د مسافر توښه.

او کله چې وفات شو دده نه چې کوم شی پاتې وو چې هغه ټول وکتل شول څولس (لس او څه د پاسه) درهمه کېدل.

امام شعبي فرمایي: حضرت سلمان فارسي ته د جلولاء د فتح په ورځ د مسکو یوه وړوکې کڅوړه رسېدلې وه مېرمن ته یې ورکړې وه چې دا وساته کله یې چې د ځانکدن وخت شو مېرمن ته یې وویل: ورشه هغه مسک راوړه کله یې چې هغه ورته راوړل ده ورته وویل: دا په اوبو کې ګډ کړه او زما شاوخوا ته یې وشینده اوس داسې څه مېلمانه راځي چې د هغوی ښه بوی ډېر ښه ایشي ... دوی همداسې وکول دی مبارک په همدې حالت کې د لنډې لحظې لپاره پروت وو چې بیا یې ساه ورکړه نو خلک پوه شول چې هغه راغلي مېلمانه ده مبارک فرښتې یادولې.

يو حكيم كوچى سخت بيمار وو شاوخوا خلكو ورته ويل ته خو مړ كېږې.

ده ورته وويل : زه چې مړ شم ما به چېرته وړي؟

دوی ورته وويل : بيا به د الله ته وروړي.

هغه ورته وويل نو ما چې داسې چا ته وروړي چې د هغه په وړاندې صرف او خير وي نو زه په څه وډار شم ؟

حضرت ابو المعتمر بن سليمان فرمايي : زما د پلار چې كله د مرګ وخت شو ماته يې وويل : اې معتمر ماته د رخصتونو خبرې وكوه چې په الله مې ښه ګمان شي او پخوانيو علماوو به ښه ګڼله چې د مرګ په وخت كې دده نېک عملونه ور په ياد كړي چې ترڅو يې په الله باندې ګمان شي چې ما به بښي .

واقعه

ملک الموت د حضرت سلیمان مجلس ته حاضر شو په مجلس کې یو کس وو چې د حضرت داود وزیر وو بیا د حضرت سلیمان په خدمت کې هم حاضرېدلو په مجلس کې ملک الموت دې وزیر ته په ځیر ځیر کتل کله چې لاړو دې وزیر حضرت سلیمان ته وویل :

دا مېلمه څوک وو؟

هغه ورته وویل دا ملک الموت وو ولې؟

هغه وزیر وویل والله زه خو له ده څخه وډار شوم خیر دی ما لدې ځای نه چېرته لرې ولېږه .

حضرت سلیمان ورته وویل ته څه غواړې؟

هغه وزیر وویل : زه صرف دا غواړم چې له ده څخه لرې لاړ شم او له ده څخه خلاص شم خیر دی ته باد ته امر وکوه چې ما لدې ځای نه چېرته لرې یوسي حضرت سلیمان باد ته امر وکولو او دی یې یوې لرې ساحې ته د هند هغه بل لوري ته یوړو کله چې ملک الموت د حضرت سلیمان مجلس ته بل وخت حاضر شو حضرت سلیمان ورته وویل : ستا له هغه بل ځل راتللو څخه زما هغه ملګری ډار شوی وو تا ورته په ځیر ځیر کتلي وو ..

ملک الموت ورته ویل: ما چې دی دلته لتا سره ولیدو زه ورته حیران شوم هغه دلته وو او ماته دده د روح اخیستلو امر شوی وو پداسې ځای کې چې هغه لدې ځای نه ډېر لرې وو او دده د روح په اخیستلو کې لږ وخت وو نو زه حیران وم چې دی به په څو ساعتونو کې هلته څنګه ځي خو کله یې چې د روح اخیستلو وخت شو زه ورغلم دی په هغه ځای کې وو چې چېرته ماته دده د روح د

اخستلو حکم شوی وو بیا زه ورغلم او دده روح مې واخیستو .

۞۞۞

کله چې د هارون رشید د مرگ وخت شو خپل کفن یې په غېږ کې اچولی وو ورته کتل یې او ورته ویل یې:

مَا أَغْنَى عَنِّي مَالِيهْ (28) هَلَكَ عَنِّي سُلْطَانِيهْ (29) .[1]

ترجمة : زما څخه زما مال هېڅ کار ونه کولو (لما څخه یې هېڅ عذاب دفع نه شوای کړلی) او زما بادشاهي زما څخه هلاکه شوه یعني پاتې شوه.

۞۞۞

د مامون خلیفه ډېره ښکلې بادشاهي وه کله یې چې د مرگ وخت شو په ریگ باندې څملاست او ویل یې :

اې هغه بادشاه چې بادشاهي یې له مینځه نه ځي په هغه چا باندې رحم وکوه چې بادشاهي یې ختمه شوه .

۞۞۞

کله چې د حجاج بن یوسف د مرگ وخت شو ویل یې:

ای الله ته ماته ښښنه وکوه ځکه خلک وایي چې ته ماته ښښنه نه کوې د حجاج په خبرو کې دا خبره د حضرت عمر بن عبد العزیز ډېره زیاته خوښه وه .

---

[1] سورة الحاقة

کله چې د حضرت معاذ ځانکدن وو ویې فرمایل :

ای الله زه لتا څخه ډاریدم او اوس درته امید کوم ، ای الله ته پوهېدې چې زما دنیا خوښه نه وه او په دنیا کې مې د نهرونو د بهولو او د ونو د کېښودلو لپاره پاتې کېدل نه وو خوښ بلکه ستا لپاره د تندې تېرولو ، تکلیف تېرولو او د علماوو مجلس ته د ذکر په حلقو کې د شرکت لپاره د ورتللو لپاره مې په دنیا کې پاتې کېدل خوښ وو .

کله چې د حضرت بلال ځانکدن وو مېرمن یې وویل :

هی افسوس ...

ده ورته وویل : **"بل واطرباه ! غدا نلقى الأحبة محمدا وحزبه."**

(اې خوشحالي سبا به مونږ د دوستانو سره ملاقې کیږو محمد او د هغه له ډلې سره) .

حضرت عبد الله ابن مبارک

کله چې د حضرت عبد الله بن مبارک ځانکدن وو سترګې يې خلاصې کړې او ويې خندل او بيا يې وفرمايل :

لمثل هذا فليعمل العاملون.

(د داسې حالت لپاره د عمل کونکي عمل وکوي)

کله چې د حضرت ابن مبارک ځانکدن وو خپل مولا نصر ته يې وويل : سر مې په زمکه کېږده

نصر په ژړا شو ...

ابن مبارک ورته وويل : ولې ژاړې؟

ده ورته وويل هغه وخت مې ياديږي چې ته په نعمتونو کې وې او دا اوس په داسې غربت کې يې ...

ده ورته وويل : چُپ شه ما له الله نه سوال کړی وو چې ماته ژوند لکه د مالدارانو داسې راکړي او مرګ لکه د غريبانوداسې راکړي .

بيا يې ورته وويل : ماته د تشهد کلمه وايه ترڅو چې ما بله خبره نه وې کړې ماته کلمه وايه ..

۞۞۞

کله چې د حضرت ابراهيم النخعي ځانکدن شو په ژړا شو ...

چا ترينه پوښتنه وکوله ولې ژاړې؟

ده مبارک ورته وفرمايل :

أنتظر من الله رسولا يبشرني بالجنة أو بالنار

(زه اوس ددې انتظار کوم چې د الله له لورې کوم رسول راشي ماته يا د جنت او يا د دوزخ خبر راکړي) .

کله چې د حضرت ابن المنکدر ځانکدن شو په ژړا شو .. چا ترېنه د ژړا د وجې پوښتنه وکوله ده وويل :

"والله ما أبكي لذنب أعلم أني أتيته، ولكن أخاف أني أتيت شيئا حسبته هينا وهو عند الله عظيم."

ترجمه : و الله زه ددې امله نه ژاړم چې ما کومه ګناه کړېده بلکه زه پدې ډاريږم چې ما به کوم کار کړی وي ماته به وړوکی ښکاره شوی وي او هغه به د الله په وړاندې لوی وي .

ملغلرې

چا چې دربانده ظلم کولو ترڅو د چې وس وي هغه محکمې ته يې وسپاره چې په آخرت کې به تر مرګ وروسته کيږي او هلته به فيصله يوازې د الله فيصله وي چې نه به پکې څه زياتی وي او نه به پکې د ګواهانو پېش کولو ضرورت وي او نه به پکې د خيانت ويره وي .

که دې پدې يقين وي چې ته به مړ کېږې نو د ځان لپاره د هغه دنيا د جوړولو زيات کوښښ وکوه په يوه ثانيه کې يوځل سبحان الله ويلی شې ، په يوه

دقیقه کې ته د یوې نیکي فکر کولی شي ، په یوه ساعت کې یو نېک عمل ته کولی شي .

❁❁❁

ژوند په ټولو خلکو تیریږي د بنګلې په څېښتن باندې هم تیریږي او د جونګړې په مالک هم تیریږي خو د مرګ نه وروسته به معلومیږي چې نېک بخت څوک وو .

❁❁❁

کله چې درسره وخت پیدا کېدو نو په خپل تېر عمر او راتلونکي کې فکر کوه او د دواړو څخه داسې عبرت اخله چې تر مرګ وروسته درته په کار شي او هغه ژوند د وربانديې ښائسته شي .

❁❁❁

موږ نه خپله ماضي بدلولی شي او نه په خپله خوښه راتلونکې زمانه جوړولی شو او نه له خپل ځان نه له خپلو دوستانو څخه مرګ لرې کولی او دفع کول شو نو بیا چې هېڅ مو په وس نشته په دنیا کې د خفګان څه ضرورت دی چې د داسې کوم کار په اړه خفه کیږو چې موږ پکې څه تغیر نشو راوستلی .

❁❁❁

که ستا د ژوند اسمان نن په وریځو کې پټ وي او صفا اسمان پکې نه ښکاره کیږي ته سترګې پټې کړه او وریځو ته مه ګوره په خپل تصور او خپلو امیدونو کې داسې ژور لاړ شه چې تر وریځ پورته ستوري درته ښکاره شي .

۞۞۞

تر مرګ وړاندې له ډېرو نعمتونو څخه يو نعمت نېکه ښځه ده چې په دنيا کې تر مرګ وړاندې د کور نه جنت جوړولی شي او انسان پکې د خوشحالي او سکون عمر تېرولی شي او خرابه ښځه په دنيا کې تر مرګ وړاندې له کور نه دوزخ جوړولی شي چې زندګي کول پکې مشکل وي .

۞۞۞

کله چې د حضرت عامر بن عبد القيس ځانکدن شو په ژړا شو چا ورڅخه پوښتنه وکوله ولې ژاړې؟ ده وويل :

"ما أبكي جزعا من الموت ولا حرصا على الدنيا، ولكن أبكي على ما يفوتني من ظمأ الهواجر، وعلى قيام الليل في الشتاء."

ترجمه : داسې نه ژاړم چې زه له مرګ نه ډاريږم او نه په دنيا کې د حرص له امله ژاړم بلکه په هغه روژو ژاړم چې په ګرمي کې رانه پاتې شوې او هغه د شپې مونځ چې په ژمي کې راڅخه پاتې شوی دی .

۞۞۞

کله چې د حضرت فضيل بن عياض ځانکدن وو بې هوښه شو کله يې چې سترګې خلاصې کړې په افسوس سره يې وويل : ":

وابعد سفراه ! واقلة زاداه."!

(اې زما اوږده سفره او زما لږې توښې)

د يو عالم ځانكدن وو په ژړا شو چې د ژړا د وجې پوښتنه تري وشوه ده ورته وويل په قرآن كريم كې يو آيت دى هغه مې ژړوي الله فرمايي : إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ (الله يې د متقيانو څخه قبلوي) .

امام جريري فرمايي : د جنيد سره په ځانكدن كې وم د جُمعې ورځ وه او د نوروز ورځ وه دى لګيا وو تلاوت يې كاوه قرآن كريم يې ختم كړو ما ورته وويل ابالقاسم پدې وخت كې؟ ده وويل : زما نه څوك پدې سره زيات لائق دى دا وګوره زما عملنامه نوره تړليږي؟

يو عالم فرمايي : زه د ممشاد الدينوري سره وم چې يو فقير راغلو عجيب حالت يې وو په مينه يې وويل : السلام عليكم .. دلته داسې پاک ځاى شته چې يو انسان پكې مړ شي؟

په خوا كې د اوبه چينه وه چا ورته هغه ځاى ته اشاره وكړه فقير ورغلو هلته يې ښه اودس وكولو او څه مونځ يې وكولو او لږ له چينې لرې شو هلته څملاستو او پښې يې وغزولې او مړ شو .. سبحان الله .

د حضرت ابي علي الروذباري مباركه خور فاطمه قصه کوي چې کله د ابي علي الروذباري ځانکدن شو سر يې زما په غېږ کې وو سترګې يې خلاصې کړې ويې ويل : **هذه أبواب السماء قد فتحت، وهذه الجنان قد زينت** (دا دي د اسمان دروازې خلاصې شوې او جنتونه ښائسته کړل شول) .

۞۞۞

کله چې د جنيد ځانکدن وو چا ورته وويل : وايه **لا اله الا الله** ... پداسې حالت کې چې دده حالت ډېر خراب وو چې په هغه وخت کې د چا دماغ او ذهن کار نه کوي ده وويل : نه ده راڅخه هېره شوې په ياد مې ده .

۞۞۞

جعفر بن نصير د بکر الدينوري د يو خادم الشبلي نه پوښتنه وکوله : له هغه نه د څه خاص ليدلي وو؟ ده وويل کله چې دده ځانکدن وو ماته يې وويل : اودس را وکوه ما اودس ور وکولو پدې وخت کې هغه وخت وو چې دده ژبه بنده شوې وه خبرې يې نشوای کولی ... ما ټول اودس په سمه توګه ور وکولو خو د ږيرې خلال رانه پاتې شوی وو ده زما لاس واخيستو او په خپله ږيره کې يې ننه ايستو (ترڅو د ږيرې خلال پرې وکوي چې په اوداسه کې يو ادب دی) پدې سره جعفر بن نصير په ژړا شو او ويې فرمايل : **"ما تقولون في رجل لم يفته في آخر عمره أدب من آداب الشريعة؟."** (د هغه کس په اړه تاسې څه واياست چې د ژوند په آخري برخه کې هم ورڅخه د شريعت له ادبونو څخه کوم ادب پاتې نشو؟) .

۞۞۞

کله چې د حضرت بشر بن الحارث ځانکدن شو وربانديې سخت وو چا ورته وويل : ژوند د ډېر خوښ دی ...؟ ده وويل : الله ته ورانديې کېدل ډېر سخت دي .

۞۞۞

د صالح بن مسمار ځانکدن وو چا ورته وويل :

د خپل اولاد او عيال په اړه چاته وصيت نه کوې؟

ده وفرمايل : زه شرمېږم چې د الله نه بغير بل چاته د دوی په اړه وصيت وکوم .

۞۞۞

کله چې د حضرت ابو سليمان الداراني ځانکدن وو څه ملګري يې ورته راغلل ورته يې وويل : زيری قبول کړه ځکه ته غفور رحيم رب ته ورځې ده ورته وويل : **"ألا تقولون: احذر ! فإنك تقدم على رب يحاسبك بالصغير ويعاقبك بالكبير؟."** (ولې داسې نه واياست : وډار شه ځکه ته داسې رب ته ورځې چې په وړو به در سره حساب کوي او په لويو به عذاب درکوي) .

۞۞۞

د حضرت ابو بکر الواسطي ځانکدن وو خلکو ورته وويل : موږ ته وصيت وکوه ده ورته وويل : خپل حقونه وساتئ (د چا چې کوم حق در باندې وي هغه مه ضائع کوئ)

حضرت سعید بن عطیة فرمایي کله چې د ابا عطیة د مرګ وخت شو نو هغه فریاد وکولو چا ورته وویل :

د مرګ نه فریاد کوې؟

ده ورته وویل فریاد به ولې نه کوم دا یو داسې ساعت دی چې لدې نه وروسته زه نه یم خبر چې زه چېرته بېول کیږم .

کله چې د حضرت احمد بن خضرویه د مرګ وخت شو اوښکې یې په مخ راغلې زوی یې ورڅخه د اوښکو وجه و پوښته ده ورته وویل : بچیه یوه دروازه مې ۹۵ کاله ټکوله او دادی اوس راته خلاصیږي خو زه نه پوهېږم چې په قبول او نیکبختي راته خلاصیږي او که په بد بختي سره ؟ .

یو حکیم فرمایي دا چې موږ له مرګ نه ډاریږو په اصل کې دا موږ له هغه ژوند ډاریږو چې موږ کړی دی هغه څوک چې خپل ژوند په ښه توګه تېر کړي هغه هروخت مرګ ته تیار وي او په راتلو یې د هېڅ ډول ویرې اظهار نه کوي .

یو حکیم فرمایي دا مهمه نه ده چې موږ یو چاته وګورو چې ده ته مرګ په څنګه حالت کې راځي بلکه مهمه داده چې موږ د چا له ژوند نه معلوم کړو چې ده ژوند په څه ډول سره تېر کړو بیا

موړ فیصله کولی شو چې له مرګه وروسته به هغه په څنګه حالت کې وي .

یو عالم فرمایي که د تولد په وخت کې خوشحالي نه وای نو د چا د مرګ په وخت کې به هم غم نه وای ، که چېرته پدې باندې ټینګ یقین نه وای چې دا مالداري به همېشه وي نو د فقر د راتلو سره به فریاد نه وای او که چېرته په وصال کې مزه نه وای نو څوک به له جدایي نه ډارېدل .[1]

که چېرته موږ له خپل ژوند نه ښه فایده پورته کړې وي نو باید موږ بیا له مرګ نه هم ونه ډار شو ځکه دا مرګ هم د هغه چا لخوا موږ ته راکول کیږي چې چا موږ ته ژوند راکړی وو او ژوند یې ددې لپاره راکړی وو چې بیا مرګ راکړي او په ژوند کې موږ هغه اعمال وکوو چې تر مرګ وروسته مو بل ژوند وربانډې ښایسته شي .

قذافي به یوه خبره کوله چې د مرګ په وړاندې فریاد مه کوئ هغه ستاسې فریاد نه آوري بلکه هغه ته په استقامت او غیرت سره په مخه ورځئ او له مرګ څخه هېڅ ترحم مه غواړئ زموږ او د هغه په مینځ کې فیصله شوېده چې هغه یو داسې دښمن دی چې نه ورسره صلح کیږي او نه ورڅخه د رحم او ترحم امید کیږي او نه هغه څوک معاف کوي او نه له چا سره څه ډول معامله او ګذاره کوي .

[1] مصطفی لطفي

مرګ ته تیاری وکوئ بیا به هغه درته دومره لویه خبره نه ښکاره کیږي ځکه د هغه ټول تریخ والی ددې امله دی چې خلک ورته تیاری نه کوي او له راتلو نه یې ډاریږي .

یو حکیم به فرمایل : دا په ژوند کې چې تکلیفونه او زحمتونه دي دا ددې امله دي چې دا سم او پوره ژوند نه دی په اصلي معنی کې ژوند په یو بل ځای کې دی چېرته چې به نه تکلیفونه او نه څه زحمتونه او غمونه وي .

یو حکیم به فرمایل : دا ژوند هم څه عجیبه دی هر تکلیف یې لکه په لاره کې خواره کاڼي داسې دي خو ددې امله چې پدې کې منزل سخت دی انسان باید له خپل سفر څخه نا امیده نه شي بلکه همدا د لارې کاڼي را ټول کړي او لدې نه زینه جوړه کړي چې خپل منزل ته پرې ورسیږي.

یو حکیم به فرمایل : ژوند له شروع نه تر مرګ پورې سخت دی او که چېرته دا ژوند سخت نه وای نو ماشوم چې څنګه له مور نه پیدا شي هغه به نه په ژړا کېدو .

نېک انسان ته چې کله مرګ راشي نو دی پخپله له تکليفونو او غمونو څخه بېغمه او خلاص شي او بد عمل انسان چې مړ شي نو خلک ورڅخه په ارام شي .

۞۞۞

د هغه چا مرګ ډېره لويه خبره وي چې د هغه ژوند قيمتي وي او ژوند د هغه چا ډېر قيمتي وي چې د خلکو لپاره ژوند کوي او هغه څوک چې د ځان لپاره ژوند کوي هغه ته چې مرګ راځي نو د نورو خلکو لپاره کومه لويه خبره نه وي .

۞۞۞

په کردي ژبه کې يو متل دی :

مرګ يو داسې مېلمه دی چې بې د غوښتلو او بې د خبر کولو د چا کور ته ورځي .

۞۞۞

يو انګريزي متل وايي :

د لېوه مرګ د مېږو لپاره ژوند دی (يعني داسې ژوند مه کوه چې په مرګ د ډېر خلک خوشحال شي) .

۞۞۞

يو انګريزي متل دی:

As soon as man is born he begins to die

ترجمة : انسان چې له کومه وخته پیدا کیږي په مړه کېدلو شروع کوي (یعني د مرګ شروع یې له هغه وخت نه کیږي چې ژوند شروع کیږي تردې چې دا مرحله پای ته ورسیږي)

۞۞۞

یو انګریزي متل دی :

Death keeps no calendar

ترجمة : مرګ هېڅ ډول جنتري نه ساتي (یعني مرګ د هېڅ جنتري مطابق نه راځي او د هېڅ تاریخ انتظار نه کوي بس چې کله د انسان پوره شي ورته راشي که د اختر ورځ وي او که د واده شپه یې وي او که د واده یې یوه شپه کیږي او که اختر ته یوه شپه پاتې وي د ده پرې څه پروا نشته) .

۞۞۞

یوه انګریزي مقوله ده :

Some people are so afraid do die that they never begin to live. [1]

ترجمة : ځیني خلک له مرګ نه ډېر زیات ډاریږي هغه داسې خلک دي چې لا یې ژوند نه دی شروع کړی (ژوند چې د څه لپاره دوی ته ورکړل شوی دی تر اوسه پورې دوی هغه کارونه پکې نه دي کړي)

۞۞۞

[1] Henry Van Dyke

یوه انګریزي مقوله ده :

Death is the end of one story and the beginning of another. [1]

ترجمة : مرګ د یوې قصې آخر او د بلې شروع ده .

❁❁❁

یو یوناني متل دی : د ځینې خلکو مرګ تر غره نه لوی وي او د ځینو تر وربشې نه وړوکی وي .

❁❁❁

یو حکیم وایي : هغه کس چې خلکو ته یې په ژوند څه ډول فایده نه رسیږي د خلکو لپاره هغه له وخته مړ شوی دی .

❁❁❁

موږ باید په هغه دوستانو ونه ژاړو چې هغوی مړه کیږي او موږ یې له لاسه ورکوو بلکه دا د خوشحالي خبره ده چې مونږ هغه وخت له لاسه ورنه کړل چې هغوی ژوندي وو (په ژوند مو له لاسه ورنه کړل) .

❁❁❁

یو عربي شاعر وایي :

ومن لم یمتْ بالسیفِ ماتَ بغیرِهِ

[1] Philip Moeller

تنوعتِ الأسبابُ والداءُ واحدُ

(ترجمة : هغه څوک چې په توره مړ نه شي په بل شي سره به مړ شي اسباب ډېر دي او بيماري يوه ده) .[1]

۞۞۞

كله چې د زرو كلونو عمر وروسته ملك الموت حضرت نوح ته راغلو ورته يې وويل : اې په نبيانو كې د اوږده عمر خاونده ژوند د څنګه محسوس كړو؟ ده ورته وويل : لكه د چا چې كور وي او دوه دروازې يې وي له يوې دروازې ور ننوزي او له بلې نه ووزي .

۞۞۞

كوم بنده چې مرګ ډېر يادوي دنيا د هغه په نظر كې سپكيږي .[2]

۞۞۞

حضرت ابو الدرداء فرمايي :

كله د چې د مړيو په اړه څه خبره كوله نو خپل ځان هم له دوی څخه شماره .

۞۞۞

يو عربي متل دی :

---

[1] ابن نباتة السعدي
[2] حسن بصري

استقبال الموت خير من استدباره

ترجمة : مرګ خو خامخا راتلونکی دی تردې چې انسان ورته شا کوي تردې خو ښه داده چې مخ ور واړوي او ځان ورته تیار کړي.

۞۞۞

یو عربي شاعر وایي :

الموتُ خيرٌ من رُكوبِ العارِ

والعارُ خيرٌ من دُخولِ النارِ

ترجمة : مرګ د شرم د کار کولو نه غوره دی او شرم په غاړه اخیستل بیا اور ته د ور ننوتلو څخه غوره دی.

۞۞۞

کوم عمل او کوم شی چې داسې وو چې هغه لتا سره وو د هغې له امله د له مرګ نه کرکه کوله هغه شی پریږده بیا چې هر وخت مړ شې پروا به د نه وې .[1]

۞۞۞

د مرګ لپاره ځان هر وخت تیار ساته له ژوند نه به خوند واخلې .[2]

۞۞۞

[1] حضرت عمربن الخطاب
[2] حضرت ابو بکر صدیق

یو ځل چې الله مور ته ژوند راکړی هغه یې له مور نه بېرته په مرګ سره نه اخلي بلکه په مرګ سره الله مور له یو دار نه بل دار ته نقل کوي او پدې دار کې مور ته امر کوي چې له مرګ نه وړاندې د هغه دار لپاره تیاری وکوئ.[1]

۞۞۞

کوم قوم چې د مرګ په اړه ښه تجربه ولري او دا یې زده وي چې څوک څنګه د شرافت په مرګ مړ شي نو الله هغه قوم ته د عزت ژوند ورکوي په دنیا کې او نعمتونه ورکوي په آخرت کې او دا مور چې له مرګ نه ډاریږو دا ټول د دنیا د مینې او مرګ نه د نفرت له امله دي .[2]

۞۞۞

ډارن خلک مخکې لدې چې دوی ته مرګ راشي څو ځله مړه کیږي او د شجاع خلق صرف یوځل مړه کیږي کله چې مرګ ورته راشي .[3]

۞۞۞

حضرت سفیان الثوري فرمایل :

یا نفسُ توبي فإن الموتَ قد حانا
واعصِ الهوى فالهوى مازال فَتَّانا
في كل يوم لنا مَيْتٌ نشيعهُ
ننسى بمـــــصرعهِ آثارَ مَوْتانا

---

[1] مصطفی محمود
[2] حسن البناء
[3] شکسپیر

ترجمة : اې نفسه توبه وباسه ځکه د مرګ وخت شوی دی.

د خپلو خواهشاتو نا فرمانې وکوه بېشکه خواهشات هر وخت انسان په فتنه کې اچوي.

هره ورځ موږ د یو مړي په جنازه پسې ځو .

د هغه په مرګ سره موږ د خپلو مړیو آثار هېروو .

مرګ چې هوښيار سړي ته ورځي اجازه ورڅخه غواړي او غافل انسان ته چې ورځي دروازه پرې ور ټېله کوي او هغه بې خبره وي چې دى ورځي .[1]

۞۞۞

كله چې قاضي د عمر المختار په مرګ فيصله وكوله او ده ته يې د اعدام سزا ډېره په كبر كې ور واوروله عمر مختار په ډېره زړورتيا په قهقه ورته وخندل ورته يې وويل :

فيصله د الله ده چې د چا په مرګ او ژوند يې كوي څه به تاسې ياست او څه به ستاسې فيصله وي .

۞۞۞

كله چې د مانځه وخت شي زه ښه اودس وكوم او هغه ځاى ته راشم چېرته چې مونځ كول غواړم هلته كينم ترڅو مې اندامونه ټول په قرار شي بيا مانځه ته پاڅېږم كعبه مې د دوو وريځو په منيځ كې فرض كړم ، پل صراط مې تر پښو لاندې ، جنت مې ښي او دوزخ مې چپ طرف ته فرض كړم او ملک الموت مې شا ته فرض كړم او پدې فكر كې په مانځه شروع وكوم چې دا مې آخرنى مونځ دى بيا د الله د رحمت په اميد او د هغه له عذاب نه د ويرې سره سره ودرېږم او الله اكبر ووايم تلاوت په ورو ورو سره كوم او تواضع كوم او د عاجزي سره الله ته له پوره توجه سره سجده اېږدم او ټول مونځ له پوره توجه سره ختم كړم بيا نه پوهېږم چې الله يې لما څخه قبلوي او كنه څكه انسان دلته عملونه كوي خو د مرګ نه وروسته به ورته

---

[1] احمد شوقي

ښکاره شي چې دده عملونه څومره قبول شوي او څومره رد کړل شوي او دده په مخ ور ویشتل شوي دي .[1]

یو ایټالیایي متل دی :

مونږ باید په سمه توګه ژوند وکوو چې په سمه توګه مړه شو تکلیف په مرګ کې نشته بلکه تکلیف په ژوند کې دی.

(یعني چې څوک په سمه توګه خپل ژوند وکوي د هغه لپاره مرګ اسان دی او اصل تکلیف پدې کې دی چې انسان باید خپل ژوند په سمه توګه تېر کړي او هغه څوک چې په سمه توګه ژوند تېر کړي د هغه لپاره مرګ څه تکلیف نه دی) .

له مرګ نه تېښته مرګ دی او د مرګ غوښتل یو ډول ژوند دی له ستوماني څخه ډارېدل اصلي ستوماني ده او ستوماني ته مخ کول انسان ته راحت ورکوي ازادي یوه اصیله ونه ده او ددې اوبه د وینو څاڅکي دي او غلامي د زقوم ونه ده او اوبه یې د وینو نهرونه دي.

(چې څوک په غیرت سره پاڅیږي چې لږ وینه تویه کړي ازادي به یې په نصیب شي او هغه څوک چې بې غیرتي وکوي د هغوی به ډېره وینه تویېږي او بیا به هم غلامان او له ازادي څخه محروم وي) .[2]

---

[1] حضرت حاتم اصم
[2] عبد الرحمن الکواکبي

۞۞۞

په هوښيار باندې لازم دي چې د سفر لپاره تيار اوسي ځکه دی پدې نه دی خبر چې څه وخت به د الله د امر سره مخامخ کيږي ، دی نه دی خبر چې څه وخت به غوښتل کيږي ، ما ډير خلک ليدلي دي چې دوی خپلې ځوانی ته په غوره کې وو ، د ملګرو تلل او جدايي او د هغوی مرګ يې هېر کړی وو ، د دوی په زړونو کې اوږده اميدونه وو ډير ځله به يې د عالم خبرې داسې ګڼلې لکه هغه چې دوی ته نه وايي ، د وعظ خبرې به ورته داسې ښکاره کېدلې چې دا ددوی لپاره نه دي ، دوی به داسې فکر کاوه چې دا مرګ د نورو خلکو لپاره دی په دوی باندې نه راځي په همدې حالت کې وربانډې مرګ ناګهانه حمله وکوله او د دوی ډير کارونه يې په نيمايي کې ور پرې کړل او او دوی يې ډيرو هدفونو ته له رسېدلو وړاندې قبر ته ور ښکته کړل .[1]

۞۞۞

يو پرتګالي متل دی :

مرګ موږ صرف يو شان قبرونو ته ور ننباسي او بيا وروسته په قبر کې ټولو ته يو ډول زندګي او يو ډول حالات نه ورکوي.

(يعني وروسته چې څه کيږي هغه زموږ د عملونو ثمره وي خو په مرګ سره ټول خلک په يو ډول خاورو ته ور ښکته کول کيږي بيا دی او دده اعمال سره پرېښودل کيږي) .

۞۞۞

[1] ابن الجوزي د يو څه تصرف سره

يو ترکي متل دی :

آسونه مړه کيږي او زينونه ورڅخه پاتې کيږي انسانان مړه کيږي او نومونه يې پاتې کيږي .

۞۞۞

هغه څوک چې په ژوند کې يې ډېر نه خندل کله چې مړ کيږي نو په شونډو به يې مُسکا خپره وي .

۞۞۞

يو تُرکي متل دی :

مرګ يو داسې تور اوښ دی چې د هرې دروازې په وړاندې د ننوتلو لپاره سر ښکته کوي .

۞۞۞

يو فرانسوي متل دی :

خلک د هر چا په جنازه کې ځي لکن ژاړي يوازې په خپل مړي .

۞۞۞

يو ويتنامي متل دی :

لدې چې ګنده ژوند کوې تردې خو دا ښه ده چې پاک مرګ د په نصيب شي .

يو عربي شاعر ماوردي وايي :

وفي الجهل قبل الموت موت لأهله

فأجسادهم دون القبور قبور

(ترجمة : په جهل کې د مرګ نه وړاندې مرګ دی (جاهلان که ژوندي هم وي دا په اصل کې مړه دي) نو د دوی بدنونه تر قبرونو څخه وړاندې د دوی د روحونو لپاره قبرونه دي .

۞۞۞

يو عربي شاعر دراج الضبابي وايي :

فلا السجن أبكاني ولا القيد شفني

ولا أنني من خشية الموت أجزع

ولكن أقواما ورائي أخافـــــهم

إذا مت ان يعطوا الذي كنت أمنع.

ترجمة : نه بنديخانې په ژړا کړم او نه قيد خفه کړم .

او نه له مرګ نه ډارېږم او نه لدې امله فرياد کوم .

لکن په ما پسې شا ته داسې خلک دي چې زه له دوی نه ډارېږم .

چې دوی به هغه څه ورکړي چې ما نه ورکول .

(ما خپله ازادي چا ته نه ورکوله او لدې امله مې مرګ ته غاړه کېښوده زه له مرګ څخه نه ډارېږم او نه له بنديخانې او قيد څخه ډارېږم بلکه لدې څخه ډارېږم چې ما چا ته خپله ازادي ورنه کړه لمانه وروسته چې کوم خلک وي دوی به له خپلې ازادي تېر شي)

۞۞۞

مشهور عربي شاعر متنبي وايي:

وإذا لم يكن من الموت بد

فمن العجز أن تموت جبانا

ترجمة : کله چې له مرګ څخه خلاصی نشته او خامخا مړه کېدل دي نو بیا دا یو ډول عاجزي ده چې انسان پداسې حالت کې مړ شي چې هغه ډارن وي.

❁❁❁

عربي شاعر ابو فراس الهمداني فرمايي :

ولما لم أجد إلا فـــــــرارا

أشد من المنية أو حماما

حملت على ورود الموت نفسي

وقلت لصحبتي: موتوا كراما.

ترجمة : کله چې زما په وړاندې بله لاره نه وه مګر یوازې تېښته وه

کومه چې سخته وه له مرګ او بیماري نه .

نو خپل نفس مې پدې مجبور کړو چې مرګ ته به غاړه ایږدي.

او خپلو ملګرو ته مې وویل : په عزت کې مړه شئ .

د ابن الجوزي اقوال

کله چې زړه د مرګ له یادولو نه غافل شي نو دښمن (شیطان) د غفلت له دروازې ورننوزي .

ورونو مور په دنیا کې د نېکو عملونو کولو لپاره پیدا شوي یو خامخا په مور پسې مرګ را تلونکی دی ګناهونه په زړونو باندې پردې راولي ، کله چې د زړه آینه تیاره شي بیا ورته د هدایت رڼا نه ښکاره کیږي ، هغه څوک چې د ګناه په ضرر پوه شي هغه خامخا پښېمانه کیږي خو چې څوک تر مرګ وړاندې پښېمان شي نو دا پښېمانتیا یې کېدای شي ځای ونیسي او چې څوک تر مرګ وروسته پېښېمان شي دا پښېمانتیا به یې هېڅ ځای ونه نیسي.

ای ګناه کونکیه ولې ستا اوښکې نه څي ، ای په ګناهونو کې آخته انسانه په تېرو ګناهونو وژاړه او په راتلونکې کې ورڅخه توبه وباسه ، ډېر افسوس دی ستا په حال چې مرګ درته راشي او ته نا خبره یې ، ډېر افسوس دی ستا په حال چې توبې ته غوښتل کېږې لکن ته توبه نه اوباسې څه به کوې کله چې د سفر اواز وشي او ته تیار نه وې آیا ته هغه کس نه یې چې ته ګناهونه کوې او څه وخت وروسته به ته مړ کېږې او که ته توبه ونه باسې د ګناه په حالت کې به مړ شې؟

د بنده په حال باندې افسوس دی کله یې چې د صحت او حالت وخت وي ګناهونه یې ډېر او استغفار یې لږ وي کله چې قبر ته نېږدې شي حالت یې خطرناک خو بدن یې سست او نېک اعمال یې کم شي .

داسې څوک شته چې ماته د داسې چا نوم واخلي چې کله انسان ورته مطیع شي هغه فایده ورکوي ، کله چې ورته په یوه نعمت شکر وباسې هغه یې ور زیاتوي ، او هغه چې څوک دده لپاره خپل وخت مصرف کړي د هغه په زړه کې اصلاح راولي؟

اې نا خبره انسانه ته د خپل ځان په اړه خبر یې؟ ته د خپل ځان لپاره پدې خبر یې چې ته به خامخا مړ کېږې؟ او کنه ته صرف پدې خبر یې چې وږی شې نو خوراک وکوې، چې موړ شې نو ویده شې ، چې غصه شې نو جنګ وکوې ، نو ته له نورو حیواناتو په څه سره بېل یې؟ [1]

اې د خپل مرګ نه غافله انسانه ته د الله لور ته رجوع ولې نه کوې؟ ته چې ښکلی خط ووینې نو ورته حیرانېږې د الله د قدرت عجائب وینې او د صانع لور ته د تابع کېدلو کوښښ نه کوې او که د الله دا د قدرتونو کمال ستا زړه نشي را ویښولی زه حیران یم څنګه د د سر سترګې خلاصې او د زړه سترګې پټې شوې دي .

ای هغه انسانه چې خپله ځوانې دي په ګناهونو لړلې ده ، اې هغه کسه چې عملنامه د له ګناهونو ډکه شویده ، ته پدې نه یې خبر چې یو وخت به شرمنې خبرې کوي ، ته پدې نه یې خبر چې

[1] ابن الجوزي

اور د ګناهکارانو لپاره پیدا شوی دی ، او هغه تول هغه څه سوزوي چې پکې واچول شي در یاد کړه چې توبه لتا څخه د اور مخه نیولی شي ، په دنیا کې د الله له ویرې نه یوه اوښکه هغه خطرناک اور ګلولی شي .

کله مو چې وخت پیدا کړو له قبر نه پوښتنه وکوئ چې هلته اوسېدونکي خلک اوس څنګه دي؟ له لحدونو څخه پوښتنه وکوئ چې هلته د ویدو خلکو حال څه دی؟ نو تاسې ته به ووایي چې تول خفه دي ، پښېمانه دي ، دلته راغلی هر څوک وایي چې کاش بېرته را ګرځول شوی وای او لږ وخت نور ورته ورکړل شوی وای صرف ددې لپاره چې نېک اعمال پکې کوي ... نو دا تولې خبرې چې تاسې آورئ نو ولې تاسې اوس ځان ته په خپله دلته د نېکو عملونو لپاره وخت نه ورکوئ؟

واقعه

حضرت براء بن عازب فرمایي یوه ورځ چې موږ له رسول الله سره وو یوه ډله خلک یې ولیدل پوښتنه یې وکوله **علی مَ اجتمع هؤلاء** ؟ (دا خلک په څه را تول شوي دي؟) چا ورته وویل : قبر و باسې رسول الله ددې لفظ آورېدلو سره سخت و ډار شو او د صحابه وو له مینځ نه پاڅېدو زر زر د هغه خلکو خوا ته ورغلو هغه و درېدو حضرت براء بن عازب فرمایي زه ورته مخامخ و درېدم چې وینم رسول الله څه کوي ده مبارک سخت سخت وژړل تردې چې اوښکې یې زمکې ته و بهېدلې بیا یې موږ ته مخ را واوړولو او ویې فرمایل :
أي أخواني لمثل هذا اليوم فأعدوا

(ورونو د دې ورځې لپاره تیاری وکوئ) .

❁❁❁

حضرت اویس قرني په کوفه کې خلکو ته خطبه ویله ورته یې وویل :

يا أهل الكوفة توسدوا الموت إذا نمتم ، واجعلوه نصب أعينكم إذا قمتم (اې د کوفې خلکو کله چې تاسې ویده کېږئ مرګ درته د بالښت په ځای کېږدئ او کله چې پاڅېږئ نو په خپلو سترګو کې یې ساتئ چې درڅخه هېر نه شي) .

❁❁❁

یو عالم ته چا وویل : ښه نصیحت څه دی؟

هغه مبارک ورته وفرمایل : دا چې انسان هدیرې ته وګوري او له هغه څخه د پند اخیستلو کوښښ وکوي دا بهترین نصیحت دی او چې زړه لږ جوړ وي ډېر ښه اثر وربانديې کوي .

❁❁❁

یو بل عالم وایي هغه کس چې د قرآن کریم د تلاوت او د مرګ له یادېدلو څخه ونه ډار شي که بیا غرونه د ده په مخ کې میده میده شي هم نه ورڅخه ډارېږي .

❁❁❁

حضرت لبیدي فرمایي ما ابا اسحاق هغه وخت ولید چې ژوندی وو هر وخت به یې یوه دکاغذ صفحه مخې ته نیولې وه او هغې ته به یې کتل خو

کله چې دی مبارک وفات شو ما هغه ورقه وکتله په هغه باندې ليکلي وو **أحسن عملك فقد دنا أجلك** .. **أحسن عملك فقد دنا أجلك**.. (خپل عمل د نېک کړه د مرګ وخت د رانېږدې شوی دی ... خپل عمل د نېک کړه د مرګ وخت د رانېږدې شوی دی ...)

❁❁❁

حضرت شقيق بلخي فرمايي : کله چې مرګ درته راځي تر هغه وړاندې ورته تياری وکوه بيابه د ددې ضرورت نه کيږي چې ته چيغې او فرياد وکوې او بيا به د ددې ضرورت نه کيږي چې ته له الله نه وغواړې چې بېرته مې دنيا ته وګرځوه او الله به درته وايي چې نه بېرته ګرځېدل نشته .

مرګ

- يو داسې حقيقت دی چې :
- هغه کس ته هم راځي چې هغه هوښيار وي .
- هغه کس ته هم راځي چې غافل او نا خبره وي .
- هغه کس ته هم راځي چې هغه نېک وي .
- هغه کس ته هم راځي چې هغه بد عمل وي .
- ظالم ته هم راځي او مظلوم ته هم .
- ګناهکار ته هم راځي او تقوی دار ته هم .
- مجاهد ته هم راځي او په کور ناست کس ته هم .
- هغه کسانو ته هم راځي چې په زړه کې لوړ او مقدس مقصدونه وي او هغه کسانو ته هم راځي چې صرف د خپلو شهواتو د پوره کولو او عيش کولو لپاره ژوند کوي .

- هغه کسانو ته هم راځي چې هغه نیکان او شریفان وي او هغه کسانو ته هم راځي چې بدنام او بد عمله وي .
- هغه شی دی چې موږ ورځخه هر وخت تښتیږو .
- هغه شی دی چې هېڅوک نه غواړي چې ورسره مخامخ شي او هرڅوک به ورسره مخامخ کیږي .
- هغه شی دی چې څوک یې ډېر یادوي هغه ورته تیار وي او چا چې هېر کړی وي په هغه چې راشي صرف ارمانونه او فریاونه کولی شي .
- هغه حالت دی چې څوک ورته تیار وي په هغو چې راشي په خندا سره یې استقبال کوي او چې څوک ورته تیار نه وي نو په فریاد سره یې بدرګه کوي .

۞۞۞

کامیاب کسان هغه دي چې له مرګ نه وړاندې مرګ ته تیاری وکوي لکه یو عرب شاعر چې دې خبرې ته زموږ ور پام کوي او فرمایي :

يا ابن آدم أنت الذي ولدتك أمك باكياً
والناس حولك يضحكون سروراً
فاعمـــل لنفسك أن تـكون إذا بــكوا
في يوم موتك ضاحكاً مـــسروراً

ترجمة : اې انسانه ته هغه یې چې ستا مور ته پداسې حالت کې پیدا کړې چې تا ژړل
او ستا په شاوخوا کې خلکو له خوشحالۍ نه خندل
د خپل ځان لپاره داسې کار وکوه چې صباء کله دوی ژاړي
ستا دمرګ په وخت کې او ته د خوشحالۍ نه خاندې .

۞۞۞

مرګ یو داسې حالت دی چې په هغه کې ټول حقیقتونه را ښکاره کیږي او انسان د داسې شیانو تمې او امیدونه کوي چې هغه به ده ته نه رسیږي الله فرمایي چې په هغه وخت کې به انسان وایي **يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي** (کاش ما د خپل ژوند لپاره څه شی مخکې را لیږلي وای) .

۞۞۞

مرګ یو داسې حالت دی چې هلته انسان ته ټولې هغه خبرې ښکاره شي چې ده به آوریدلې لکن دده په زړه به یې اثر نه کاوه او همدا هغه حالت دی چې انسان ته معلومیږي چې دی به اوس جنت او که دوزخ ته ځي .

واقعه

یوعرب شیخ ماته د یو ځوان قصه کوله چې هغه په اول کې بې پروا ځوان وو او اوس نېک شوی وو هغه وویل زما د یو ملګري ځانکدن وو زه ورغلم په ځانکدن کې مې پوښتنه ورڅخه وکوله څنګه یې؟ ده راته وویل : زه به اور ته ځم فلانی به هم ځي او فلانی به هم ځي
(زما د نورو ملګرو نومونه یې راته واخیستل)
او بیا یې راته وویل ته به هم ځې که سم نه شوې او الله ته راجع نه شوې نو دا خبرې چې ما واوریدلې ما توبه وویسته .

۞۞۞

یو عرب شاعر وایي :

يا سالكاً طريق الغـــــــــافلين
ويا راضياً بطريق الجـــــــاهلين
متى تُرى هذا القلب القاسي يلين
متى تبيع الدنيا وتشتري الـــــدين

ترجمة : اې د غافلینو په لاره روان انسانه
اې د جاهلانو په لاره خوشحاله
ستا څه رایه ده ستا دا سخت زړه به څه وخت نرم شي
څه وخت به ته دنیا خرڅه کړې او دین به پرې واخلې؟

۞۞۞

یو عرب خطیب وایي :

أين الحبيب الذي كان وانتقل ؟.!
أين كثير المال وطويل الأمل ؟!
أما خلا كلٌّ في لحده مع العمل.!!
أين من تنعَّم في قصره ؟!
أليس في قبره نزل.!!

ترجمة : هغه دوست څه شو چې دوست وو او انتقال یې وکولو ؟

هغه ډیر مال او اوږد امید څه شو؟

آیا داسې نه ده چې هرڅوک په قبر کې له خپل عمل سره یوازې پاتې شو ؟ هغه کس څه شو چې په خپله ماڼۍ کې به یې مزې کولې ؟

آیا هغه اوس خپل قبر ته ور ښکته نه کړل شو؟

۞۞۞

یو بل عرب خطیب مسجع الفاظ ویلي دي زه یې لتاسې سره شریکوم هغه وایي :

إنَّ العاقل من راقب العواقب ، والجاهل من مضى قُدُماً ولم يراقب..
كم يوم غابت شمسه وقلبك غائب. !

وكم ظلام أُسبل ستره وأنت في معاصي وعجائب. !
وكم أسبغ الله عليك وأنت على معاصيه تواظب. !
وكم صحيفة قد ملأتها بالذنوب والمَلَكُ كاتب.!
وكم أنذرك الموت يأخذ أقرانك من حولك وأنت ساه ولاعب !. وكم أنذرك الموت
يأخذ أقرانك وأنت ساه ولاعب.!

ترجمة : بېشکه هوښيار کس هغه دی چې د کارونو عواقبو ته وګوري او جاهل هغه کس دی چې مخ په وړاندې ځي او هېڅ فکر او تصور نه کوي .

څومره ځله لمر غائب شوی دی خو ستا زړه بيا هم غائب دی (الله ته رجوع نه کوي)

څومره تيارو خپله پرده خپره کړه او ته په خپلو ګناهونو کې او غفلتونو کې غيب يې .

څومره الله په تا باندې خپل نعمتونه نازل کړي دي او ته په خپلو ګناهونو کې آخته يې .

څومره کتابونه به تا په خپلو ګناهونو باندې ډک کړي وي او ملائک ستا ليکل کوي .

څومره ځله مرګ تاته د راتلو خبر درکړو او تاته يې ويره درکړه چې ستا ملګري يې لتا څخه واخيستل خو ته تر اوسه پورې بې پرواه او مستي کونکی يې .

۞۞۞

په دنيا کې د انسان ژبه په ګناهونو او هرشي باندې چليږي ، چې څه ستا خوښه وي هغه وايې او په ژبه يې راولې ، کله چې په خپلو صفتونو باندې لګيا شي د ځان څخه کله د زمانې پهلوان او کله د ټولې دنيا بزرګ جوړ کړې ، کله چې خپلې واقعې ويل شروع کړې بيا ختميږي نه تاته

په یاد دي چې الله ویلي دي په قیامت کې به مونږ د دوی په ژبو باندې مهرونه ولګوو الله فرمایي : **الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِم** (پدې ورځ به مونږ د دوی په ژبو باندې مهرونه ولګوو) .

واقعه

یو کس یو نېږدې خپلوان په خوب ولیدو وروسته لدې چې هغه مړ شوی وو پوښتنه یې ورڅخه کوله څنګه یې؟ هغه ورته وویل ډېر زیات پښېمانه شوو په ډېر لوی کار باندې مونږ ښه پدې پوهېدو چې مړه کیږو بیا مو هم نېک اعمال نه کول او تاسې اوس هم پدې پوهېږئ چې مړه کېږئ او تاسې اوس هم نیک اعمال نه کوئ و الله چې یو ځل او یا دوه ځله سبحان الله چې مونږ په خپله عملنامه کې پیدا کوو دا مونږ ته له ټولې دنیا او هغه څه چې په دنیا کې دي غوره دي .

۞۞۞

یو عرب خطیب وایي .

یا ابن العشرین کم مات من أقرانك وتخلَّفت ؟.!
یا ابن الثلاثین : أدرکت الشباب فما تأسفت ؟.!
یا ابن الأربعین : ذهب الصبا وأنت على اللهو قد عكفت ؟.!
یا ابن الخمسین : أنت زرع قد دنا حصاده .. أنت زرع قد دنا حصاده .. لقد تنصّفت المئة وما أنصفت ؟.!
یا ابن الستین : هیا إلى الحساب فأنت على معترك المنایا قد أشرفت ؟.!
یا ابن السبعین : ماذا قدمَّت وماذا أخرت ؟. !
یا ابن الثمانین : لا عذر لك فقد أُعذرت ؟.!

ترجمة : ای شل کلنه ستا څومره ملګري وفات شول او ته پاتې شوې

اې دېرش کلنه ستا نه څواني تېره شوه او ته خفه نه شوې .

اې څلوېښت کلنه ماشوم توب او کشر توب د تېر شو لکن ته تر اوسه په لهوياتو کې آخته يې .

اې پنځوس کلنه ته هغه فصل يې چې اوس يې د لو کولو وخت راغلی دی ته د سلو نيمې ته ورسېدې لکن له ځان سره د انصاف ونه کولو .

اې شپېته کلنه راځه حساب ته ته د مرګ غاړې ته را رسېدلی يې .

اې اويا کلنه : دا ووايه چې تا له ځان څخه وړاندې څه شی لېږلې دي او په ځان پسې د وروسته څه نېک شی پريښي دي .

اې اتيا کلنه ستا هېڅ عذر نشته ته ډېر معذور و ګڼل شوې .

يو عالم فرمايي :

هغه کس چې اوس يې د چا مړی په اوږو کړی دی داسې ورځ به راشي چې دی به په اوږو باندې اخيستل شوی وي ، هغه څوک چې نن هديرې ته د قبرونو د زيارت لپاره تللی دی يوه ورځ به پداسې توګه هديرې ته ورشي چې بېرته به ترې رانشي ، هغه څوک چې هديرې ته لاړو او بېرته خپل کور ته ستون شو يوه ورځ به وربانديې داسې راشي چې هديرې ته به لاړ شي ټول خلک به ستانه شي لکن دی به هماغلته پاتې شي .

حضرت عمر به اکثر ویل : دا خلک هره ورځ وایي فلانی مړ شو فلانی مړ شو یوه ورځ به داسې هم راشي چې دوی به وایي عمر مړ شو .

۞۞۞

حضرت بشر الحافي به اکثر ویښ پاتې کېدو چا ورته وویل: تاسې ولې اکثر ویښ یاست؟ ده مبارک وفرمایل : زه پدې ډارېږم هسې نه چې د الله له لوري زما د مرګ امر راشي او زه پدې وخت کې ویده وم.[1]

۞۞۞

هغه څوک چې په مرګ باندې یقین ولري او پدې پوه شي چې څومره سخت حالات په موږ را تلونکي دي او په هغه سختو حالاتو کې چې موږ څومره د الله ذکر کوو هغه پاتې کیږي ، هغه څوک چې پدې پوه شي چې دنیا تلونکې ده او د هغې عار او شرم پاتې کېدونکی دی دنیا فنا کېدونکې ده او د هغې لپاره که موږ کوم ناروا کار کوو نو د هغه ګناه پاتې کېدونکې ده نو بیا هغه په اسانه سره کولی شي چې دنیا پریږدي.[2]

۞۞۞

ټول انسانان مړه کیږي بختور هغه کسان وي چې د خپل آخرت د ښائسته کولو فکر زیات او د دنیا په اړه کوښښ کم وکوي زه هغه چا ته حیران یم چې دا فاني دنیا ښکلې کوي او هغه همېشه پاتې آخرت ته توجه نه کوي ، زه هغه چا ته حیران یم

---

[1] ابن الجوزي

[2] ابن الجوزي

چې په یوه کوزه ابو باندې یو بحر اوبه ورکوي، زه هغه چا ته حیران یم چې د صفایي نه ډک ځای د ګندګیو په ځای ورکوي، زه هغه چاته حیران یم چې د بیماریو نه ډک ژوند اخلي او د صحت نه ډک ژوند ورته پریږدي.[1]

❁❁❁

حضرت محمد بن واسع ته یې د تره زوی راغلو چې په کوم دنیاوي کار پسې تللی وو ورته یې وویل له کومه ځایه راغلې؟ هغه ورته وویل څه کار مې وو په هغه پسې ورغلی وم ده مبارک ورته وویل : په لاس درغلو؟ هغه وویل : نـــــــه ده ورته وویل : حیرانتیا ده چې ته د کوم کار په طلب پسې وتلی وې په لاس درنغلو نو هغه به څنګه په لاس درشي چې ته یې طلب هم نه کوې .[2]

❁❁❁

تر مرګ وروسته یو حالت راځي چې ټول انسانان به په یو ځای کې سره را ټول کړل شي او هلته به په نېک بخت او بد بخت باندې تقسیم کړل شي یوه به هغه ډله وي چې تر مرګ وړاندې یې داسې کارونه کړي وي چې له امله یې د عذاب مستحقین وي او بله داسې ډله وي چې تر مرګ وړاندې یې داسې کارونه کړي وي چې له امله یې د جنت او نعمتونو مستحقین وي انسانه تا کله فکر کړی دی چې ته به په کومه ډله کې وې؟[3]

❁❁❁

---

[1] **ابن الجوزي**
[2] **ابن الجوزي**
[3] **ابن الجوزي**

تر مرګ وړاندې ډېر ځله انسان داسې نظر کوي چې په اوس وخت کې خوږ لګيږي لکن تر مرګ وروسته انسان ته معلوميږي چې هغه څومره تريخ نظر وو انسان په دنيا کې د ښه او بد په مينځ کې پوره تميز نشي کولی که انسان پدې پوهېدلی چې دا يو ناروا نظر ماته څومره تاوان راکوي نو کله به يې هم د ناروا په لور خپلې سترګې نه وې پورته کړې .[1]

انسان کله کله لکه ماشوم داسې وې مرګ يې هېر وي په خپلو ګناهونو باندې نه خفه کيږي ، سترګې يې په حرامو کې خلاصې وي ، ژبه يې په ګناهونو کې آخته وي ، او بدن يې د ګناهونو په کولو کې مصروف وي .[2]

ای انسانه ته په خپلو ګناهونو باندې ولې نه پښېمانه کېږې؟
ته په خپلو عيبونو ولې نه غمجن کېږې؟
ترڅو به ځان ته په ګناهونو باندې عذاب ورکوې؟
ترڅو به خپله نن ورځ داسې ضائع کوې لکه پرون د چې ضائع کړې وه؟
ترڅو به ستا دا حال وي چې له صادقانو سره به دې هېڅ قدم نه وي ، په خپلو ګناهونو به دې پښېمانتيا نه وي کله د هغه ذات ته چې تاته يې ژوند درکړی دی او تاته به مرګ درکوي د زړه له اخلاص نه خپل د سوال لاسونه اوږده کړي دي؟

1 ابن الجوزي
2 ابن الجوزي

کله د د خپل مرګ په اړه فکر کړی دی او د شپې په آخره برخه کې دې اوښکې تویې کړې دي؟ [1]

انسانه تا فکر کړی دی چې په هغه وخت کې به ته څه کوې چې درد دربانديې زيات شي ، اواز د ښکته شي او بيا بالکل ورک شي، ژبه د بنده شي او تندی د خولې شي او يقين د راشي چې نور مرګ درته راغلو؟ بيا به هغه وخت څه کوې چې ستا مرګ واقع شي روح د ملک الموت واخلي او داسې ځای ته لاړ شې چې هلته ستا ارام نه وې او څه به کوې که د خپلو عملونو په نتيجه کې د د قبر زندګي داسې وي چې هلته به ته چيغې وهې لکن هېڅوک به نه وي چې واوري ؟ [2]

کله چې څوک د مرګ خبرې کوې موږ يې داسې آورو لکه موږ چې زړونه نه لرو لکه دا خبرې چې زموږ نه بغير بل چاته کېږي لکه موږ چې مرګ نه لرو چې د چا د مرګ اواز آورو ولې يې په داسې بې پرواهي سره آورو لکه موږ چې انسانان نه وو ، موږ هم پدې لار روان نه وو؟ [3]

ای انسانه له مرګ وړاندې چې کومه ګناه کوې خوشحالي يې اوس ډېره کمه ده لکن سبا تر مرګ وروسته يې خفګان ډېر اوږد دی ، ترڅو چې مؤمن په تقوی وي هغه ته د هدايت لاره ښکاره کيږي

---

[1] ابن الجوزي
[2] ابن الجوزي
[3] ابن الجوزي

کله چې د خواهشاتو تیارۍ یو په بل د پاسه راشي نو د زړه ځخه رڼایي ورکه کړي او زړه مکمل تیاره شي .[1]

۞۞۞

ای هغه انسانه چې عملونه د ګډ وډ دي، کله چې د نویو خلکو سره مخامخ کېږې ځومره ښه ځان جوړوې؟ تا کله فکر کړی دی چې تاته به مرګ راځي او بیا به له فرښتو سره ستا مخامخ کېدل کیږي تا کله ددې ملاقات لپاره تیاری کړی دی؟ دا ملاقات هم تیاری غواړي خو صرف فرق یې دادی چې دې ملاقات ته ځان په باطني ډول سره جوړیږي او د خلکو سره چې ملاقات وي د هغوی لپاره صرف ظاهر ښائسته کول بس دي .[2]

۞۞۞

ای هغه انسانه چې د دنیا په خوندونو کې داسې ننوتلی یې چې آخرت د بالکل هېر کړی دی تا کله فکر کړی دی چې هغه به څنګه حالت وي چې ته به خلکو په اوږو اخیستی وې او هدیرې ته د وړې؟ تا کله فکر کړی دی چې هغه حالت به څنګه وي چې تا د قبلې خوا ته د قبر لپاسه کیږدي او له هغه لوري نه دې قبر ته ور ښکته کوي؟[3]

۞۞۞

انسانه تا کله فکر کړی دی چې ته له مرګ نه وروسته هېڅ عمل نشې کولی او چې په همدې حالت کې مړ شې او د مرګ سره د عمل قطع شي ته چې

---

[1] ابن الجوزي
[2] ابن الجوزي
[3] ابن الجوزي

کله د قیامت په ورځ د تلې او میزان مخې ته ودرېږې ستا په عملنامه کې به د نېکو عملونو په پله کې څه ایږدي؟

داسې څه عمل د شته چې ته ورته خوشحاله وي چې ستا د نجات وسیله به شي؟

که د دا فکر نه وي کړی نو دا فکر خو به د کړی وي چې ستا ګناهونه کله زیات درانده شي نو ته به په هغه وخت کې څه کوې؟ [1]

۞۞۞

الله د په هغه هډوکو رحم وکوي چې د الله په عبادت کې درېږي او ستړي کېږي ، هغه چې شپه ورباندې راشي لکن دی د الله په عبادت کې ستړی وي او ارام نه کوي ، کله چې جهنم ورته یاد کړل شي نو و رېږدي او وډار شي کله چې خپل ګناهونه ور په زړه شي نو ورباندې وژاړي او پښېمانه شي کله چې مرګ ورپه زړه شي نو پاڅېږي د هغه لپاره په تیاري کولو مصروف شي . [2]

۞۞۞

اې انسانه سخت خوب د زړه غافل کېدل دي ، سخت او بد مالک خپل شهوت د انسان مالک کېدل دي ، د زړه مرګ لوی مصیبت دی ، د انسان په وېښتو کې سپین والی د مرګ زیری دی لکه په ګیاه کې چې کله له شین والي وروسته سپین والی را پیدا

[1] ابن الجوزي
[2] ابن الجوزي

شي نو ددې نښه ده چې د لو (قطع کولو) وخت یې را نیږدې دی .[1]

❁❁❁

انسانه ستا اعمال به تر څو پورې ټول بد وي؟ تر څو پورې به ته ټوکې کوې رښتونی عمل به څه وخت شروع کوې؟ عملونه د ټول له فساد څخه ډک دي مرګ له خپلو راتلو وړاندې تاته نه وایې چې زه درغلم ځان تیار کړه ته به خپل ځان څه وخت سموې؟ دا ارواح به له بدن څخه یا په صباء کې او یا په بیګاه کې جدا کیږي ستا پدې خبرو کې شک دی او که دا ټولې درته ټوکې ښکاره کیږي؟[2]

❁❁❁

یو بادشاه یو کس د ډېر وخت لپاره بندي کړو کله یې چې را خلاص کړو ورته یې وویل : په بندیخانه کې د ژوند څنګه وو؟ هغه ورته وویل: په تا باندې چې په راحت او نعمتونو کې یوه ورځ تېره شوه داسې په ما باندې د تکلیف یوه ورځ تېره شوه او دادي اوس داسې یوه ورځ ده چې زه او ته دواړه په یوه ځای کې یو نو داسې که انسان په نعمتونو کې وي او که په تکلیف کې وي په ټولو باندې یوه ورځ را روانه ده چې په هغې کې به ده ته مرګ راځي او بیا به مالدار او غریب دواړه په یو ډول کفن کې یو ډول قبر ته ور ښکته کول کیږي.[3]

❁❁❁

---

[1] ابن الجوزي
[2] ابن الجوزي
[3] ابن الجوزي

زړونه ټول داسې جوړ دي چې له انسان سره ځوک نیکي کوي په زړه کې د هغه لپاره نرمي او د هغه مینه پېکې راځي نو زه حیران یم چې له الله نه ښه احسان کونکی بل چېرته دی چې د انسان په زړه کې د الله مینه نه راځي او ددې په ځای د نورو خلکو مینې ته میلان کوي؟ او د هر انسان په زړه کې د هغه شي نه ویره وي چې هغه خطرناک وي او دی ورسره مخامخ کېدونکی وي زه حیران یم چې تر مرګ خطرناک شی بل چېرته دی او انسان لدې نه ولې نه ډارېږي؟[1]

❁❁❁

انسانه په دنیا کې د چینې اوبه د زمکې د ژوند لپاره دي او پدې سره زمکه او د زمکې نباتات ژوندي کېږي او د سترګې اوبه چې په غامبوري باندې راځي پدې سره زړه ژوندی کېږي او آخرت ورسره تازه کېږي چې ترمرګ وروسته به یې بیا انسان ترهرڅه زیات دېته اړ وي .[2]

❁❁❁

په ټولو خلکو کې هوښیار هغه کس دی چې نیک کارونه کوي او بیا هم ډارېږي چې له مرګ نه وروسته به ورسره څه کیږي او په ټولو خلکو کې زیات احمق هغه کس دی چې بد کارونه او ګناهونه کوي او بیا یې هم په زړه کې هېڅ وېره نه وي .[3]

❁❁❁

---

[1] ابن الجوزي
[2] ابن الجوزي
[3] ابن الجوزي

انسان باید پدې پوه شي چې راحت په راحت سره نه پیدا کیږي ، هغه ځوک به میوې اخلي چې کښت او لو وکوي ، هغه ځوک چې کوښښ وکوي نعمتونو ته به ورسیږي ، مال په ستوماني سره لاس ته راوړل کیږي ، علم په تکلیف سره پیدا کیږي ، د جواد نوم بخیل ته کله هم نه ورکول کیږي ، د شجاع نوم له ډېرې ستومانۍ وروسته انسان ته ورکول کېدلی شي نو هغه کسان چې په دنیا کې هم د راحت نه ډک ژوند کوي هغه څنګه دا تمه کوي چې په آخرت کې به هم دوی ته د راحت ژوند ورکړل شي هغه چې نېک کارونه او نېک اعمال نه کوي هغه به څنګه له مرګ نه وروسته په هغه کسانو کې حساب کړل شي چې هغوی نېکان وي؟ . [1]

۞۞۞

زه حیران یم چې د انسان په ژوند کې یو ځوک څنګه خوشحالېدلی شي چې دده ورځ لګیا ده دده له عمر نه میاشت ور ختموي او دده میاشت لګیا ده دده د عمر نه کال ور ختموي او دده کلونه لګیا دي دده عمر ور ختموي هغه ځوک څنګه غافل کېدلی شي چې دده عمر دی دده د اجل خوا ته ور کش کوي او دده ژوند دی د مرګ خوا ته ور کش کوي؟ [2]

۞۞۞

رسول ﷺ فرمايي : کله چې بیګاه شو نو د صباء انتظار مه کوه او کله چې صباء شو نودبیګاه انتظار مه کوه کله چې جوړ وې د هغه ورځو لپاره کار وکوه چې ته بیمار وې (اوی په هغه ورځ بیا ته کار نشې کولی) کله چې ژوندی وې د

---

[1] **ابن الجوزي**
[2] **ابن الجوزي**

هغه ورځې لپاره د كار وكوه چې ته مړ وې (او بيا ستا د عملونو سلسله پرې شوې وي) .

ګومره د چې خوښه وي ښه ژوند وكوه ځكه ته مړ كېدونكى يې ، څوک د چې خوښ وي ښه ورسره وكوه ځكه ته ترې جدا كېدونكى يې ، څومره د چې خوښ وي عمل وكوه ځكه تاته پرې اجر دركول كيږي .[1]

د مرګ هېرول د زړه يو ډول بيماري ده .[2]

پخوانيو علماوو به ويل : كوم كور ته چې د مرګ ذكر ور ننوزي نو د هغه كور اهل په خپل ژوند خوشحال وي .

يو عرب شاعر وايي :

الموت داء لا دواء له

إلا التقى والعمل الصالح

ترجمة : مرګ يوه داسې بيماري ده چې دواء نلري مرګ تقوى او نېک اعمال يعني چې څوک تقوى او نېک اعمال زيات وكوي د هغه لپاره مرګ لويه

---

1 امام غزالي
2 حضرت علي

خبره نه ده بلکه له يو ډول ژوند نه بل ژوند ته ورنقل کېدل دي او د هغوی لپاره هغه ژوند تردې ژوند نه ډېر غوره وي .

واقعه

حضرت مالک بن دينار فرمايي يوه ورځ هديرې ته راغلم چې لږ به دلته حصار شم او په زړه کې به مې څه نرمي راشي چې د دوی حالاتو ته وګورم او د دوی له قبرونو سره کينم نو په ژبه مې څه شعرونه راغلل ومې ويل :

أتيت المقابر ناديتـــــها
فأين المعظم والمفتخر
وأين المـــدل بسلطانه
وأين العزيز إذا ما قدر ؟
وأين المــــلبي إذا ما دعا
وأين المزكي إذا حضر؟

ترجمة : زه قبرونو ته راغلم اواز مې ورته وکولو .
چېرته دی هغه کس چې ځان به ورته غټ ښکاريدو او هغه چې کبر به يې کولو .
هغه چې په خپله بادشاهي به غره وو.
هغه معزز کس څه شو چې کله به يې قدرت وو؟
څه شو هغه چې اواز به ورته کېدو ده به ځواب ويلو .
او څه شو هغه پاکی بيانونکی چې حاضر به وو ؟
لږ ناست وم چې يو نا اشنا اواز راغلو چې ماته يې ځواب ويل او له نا معلوم لوري نه اواز راته راتلو راته يې وويل :

تفانوا جميـــــعاً فــلا مخــــبر
ومـــــاتوا جميعاً وهــذا الخبر
تــــروح وتغدو بنات الثـــرى
وتمحوا محاسن تلك الصـــدور

لقـــد قلد القـــــوم أعمالهم
فأمــــا نعيــــم وإمــــــا سقر
وصــــــاروا إلى ملك قــــــادر
عزيــــز مطاع إذا مــــا أمـــر
فيا ســــائلي عن أناس مضــوا
أمالك فيمـــــــن مضى معتبر

ترجمة :

هغه ټول فاني شوي دي خبر درکونکی نشته
هغوی ټول مړه شوي دي او همدا خبر دی .
هروخت په هغوی باندې خاورې راځي
او ختموي له دوی نه هغه د سينو ښکلا
قوم ته اوس خپل عملونه په غاړو کې ور اچول شوي دي
يا نعمتونه (چې عملونه يې نېک وو) او يا دوزخ (چې عملونه يې خراب وو)
دوی قادر بادشاه ته ورغلي دي
هغه چې غالب دی او چې د کوم شي امر وکوي هغه منل کيږي .
ای لماڅخه سوال کونکيه د داسې خلکو چې هغوی تللي دي
تاته پدې تېرو خلکو کې عبرته نشته ؟

❁❁❁

اې هغه انسانه چې دنيا ته د عملونو لپاره راغلی يې اې هغه انسانه چې ستا د افعالو به لتا څخه پوښتنه کيږي ، اې هغه انسانه چې لتا سره به ستا د هر حال په اړه خبره کيږي لتا څخه دا هرڅه هېر دي؟

تـا تـه دا پـه يـاد نـه دي چې يـوه ورځ بـه پـه تـا بـانـدې د مـرګ اواز کـيـږي او تـه بـه لـدې دنـيـا څخه رخصت کـيـږې؟ [1]

۞۞۞

بـېشکـه د قـرآن کـريـم وعظ وسپـنـه ويـلـې کـوي ، هغـه عقـل چې پـوهـيـږي د هغـه لـپـاره هـر آيـت يـوه مـعجزه ده او زړه تـه لـه هـر ځل آورېـدلـو او لـوستـلـو سره نـوی اثـر ورکـوي ، هـر آيـت يې انـسـان تـه مـرګ ور پـه يـاد کـوي خـو د ځيـنې خـلـکـو زړونـه غـافـل دي او نـه پـوهـيـږي. [2]

۞۞۞

حضرت ابـن عمـر فـرمـايـي :

كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَجَاءَهُ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ، فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ثُمَّ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الْمُؤْمِنِينَ أَفْضَلُ؟ قَالَ: أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا، قَالَ: فَأَيُّ الْمُؤْمِنِينَ أَكْيَسُ؟ قَالَ: أَكْثَرُهُمْ لِلْمَوْتِ ذِكْرًا، وَأَحْسَنُهُمْ لِمَا بَعْدَهُ اسْتِعْدَادًا، أُولَئِكَ الأَكْيَاسُ.

تـرجمـة : زه د رسول ﷲ سره وم چې لـه انـصـارو څخه يـو کس ورتـه راغـلـو پـه رسول ﷲ يې سلام واچـولـو بـيـا يې وويـل : يـا رسول ﷲ کـوم مـؤمـن غـوره دی؟ رسول ﷲ وفـرمـايـل : هغـه چې اخلاق يې غـوره وي بـيـا يې ورتـه وويـل کـوم مـؤمـن هـوښيـار دی ؟ رسول ﷲ ورتـه وويـل : هغـه چې مـرګ ډېـر يـادوي او هغـه چې د مـرګ نـه وروستـه کـوم حـالات د هغـه لـپـاره ښه تـيـاری کـوي همـدا هـوښيـار دي .

---

[1] **ابـن الـجوزي**
[2] **ابـن الـجوزي**

په پورتني حدیث کې رسول الله هغه کس ته هوښیار وویل چې مرګ ډېر یادوي او هغه ته ځان تیاروي مرګ ته انسان ځان په څه سره تیاروي؟ توبه ، وصیت ، نېک اعمال ، د الله په لاره کې د مال په مصرف، د الله دین ته د خلکو راغوښتل، خلک له منکراتو او بدو کارونو څخه منع کول ، په نېکو باندې ورته امر کول ، د خلکو خدمت کول ، عبادت زیات کول ، نوافل کول ، د علم طلب کول ، د قرآن کریم تلاوت زیات کول او داسې هر نېک کار کول هغه څه دي چې انسان یې زیات وکوي نو دېته د مرګ لپاره تیاری ویل کیږي او د مرګ لپاره همدا تیاری دی.

رسول الله هغه هستي وه چې الله د انسانانو د هدایت لپاره را لېږلی وو او هغه ښه انسان او خراب انسان همدارنګه هوښیار انسان او کم عقل انسان ډېر ښه پېژندل د رسول الله په معیار باندې هوښیار سړی هغه دی چې مرګ ډېر یادوي او دمرګ لپاره تیاری کوي او په همدې باندې د دنیا او آخرت کامیابي انسان ته رسیږي .

واقعه

چې الله ونه غواړې هېڅوک هم نه پدې خپلو ورځینو کارونو کې کامیاب کېدلی شي او نه به یې بیا دا هوښیاري وي چې په څومره هوښیاري سره اوس کار کوي پدې اړه ماته د یو عرب شیخ قصه را یادیږي چې زما ورسره ملاقات وو ماته یې وویل :

زما یو معزز ورور دی (نېږدي ملګری مې دی لکه ورور داسې) هغه په کمپیوټر کې ډېره زیاته تجربه لري او لوړې زده کړې یې پکې کړي دي ماسټري او تر هغې وروسته زده کړې یې ټولې د کمپیوټر په برخه کې کړي دي هغه قصه کوله چې یوه ورځ ماته یو کس راغلو چې په کمپیوټري سیستم کې یې څه مسئله راغلې وه څرنګه چې د هغه په کمپیوټر کې ډېر قیمتي اسناد او فایلونه ساتل شوي وو نو هرچا ته یې دا نه شوای ور ښکاره کولی د هغه اسنادو او د فایلونو د ختمېدلو او خرابېدلو وېره وه نو ځکه ماته راغلی وو نو ما ورته څه پیسې یادې کړې چې زما دومره مزدوري کیږي لکن هغه چې یا سخت وو او یا به کېدای شي غریب وو لما سره ټینګ شو چې پیسې کمې واخلم او په هغه کمپیوټر کې زما د نیم ساعت کار وو خو ده چې خبرې سختې کړې زه هم په خپله خبره ورته ټینګ شوم هغه راته وویل : زه خو هم تاته کمې پیسې نه درکوم خو دا کار ستا نه دومره وخت هم کېدای شي وانخلي دا کار راته وکوه زه چې څرنګه په خپل علم او معلوماتو غره وم نو مې ورته وویل : وروره ماته ستا حاجت دی زما درته څه حاجت نشته زما همدغه پیسې دي که دا کار په ما کوې زه تردې کمې نه اخلم خو څرنګه چې هغه ډېر مجبور وو ماته یې هغه کار حواله کړو او په هماغه پیسو رضا شو چې ما ورڅخه غوښتې خو زه کار ته کېناستم ساعت پوره شو کار ونه شو نو تر ساعت وروسته چې ما پدې کې کار کولو دا زما لپاره تاوان وو ځکه دا پیسې ما له هغه کس څخه پدې فکر غوښتې وې چې په نیم ساعت کې به دا کار ختم کړم دوهم ساعت واوښت دریم ، څلورم پنځم شپږ ساعته مې پکې کار وکولو هېڅ نتیجه یې ورنه کړه صباء بیا ورته کېناستم ټوله ورځ مې پرې تېره کړه داسې آته ورځې مې پرې تېرې کړې کار ونه شو بالآخره مې بله لاره پیدا نه کړه الله ته مې مخ کړو او دخپلو ټولو ګناهونو

بښنه مې وغوښته فکر مې وکاوه چې ما به کومه ګناه کړې وي چې له امله به يې دا د کار لاره زما په مخ بنده شوې وي؟ د ډېر ساعت وروسته دا خپله د کبر خبره را په ياد شوه چې ما هغه کس ته ويلي وو (ته راته احتياج يې زه درته احتياج نه يم) د الله نه مې بښنه وغوښته او ددې خپلې غلطې خبرې مې څه کفاره صدقه ورکړه په نهمه ورځ چې کمپيوټر ته کېناستم په ١٥ دقيقوکې مې جوړ کړو .

واقعه

د مرګ چې کله وخت راشي بيا مرګ راځي بيا ورته ډېره وړه خبره بهانه شي او کله چې د مرګ وخت نه وي راغلی نو ډېر لوی لوی خطرونه د يو انسان مخې ته راشي لکن بيا هم انسان په حفاظت سره ترېنه خلاص شي د پورتني عرب شيخ سره زما خبرې اوږدې وې هغه راته د يو بل کس قصه وکوله چې د هغه د ماشوم د پيدا کېدو وخت وو خو د څه تکليفونو له امله ددې اميد ډېر کم وو چې دده مېرمن به لدې بيمارۍ نه جوړه شي نو له ډېره وخته يې د يوې ماهرې ډاکټرې لټون کاوه چې اخلاق يې هم نېک وي او تجربه يې هم ښه وي بالآخره يې د يوې ډاکټرې په اړه واورېدل چې د هغې سره ډېر سخت ماشومان هم پيدا کيږي نو ده هم قصد وکولو چې خپله مېرمن ددې امله هلته بوزي چې دده مېرمن په خطر کې ده دوی چې کله هغې ته ور روان وو مېرمن يې په نيمه لاره کې تکليف شوه او د ماشوم د پيدا کېدلو وخت پوره شو په دښته کې روان وو او هېڅ نېږدې شفاخانه او کلينيک ورته نه وو او نه آبادي وه صرف په لاره تيريدونکي مسافر او موټر وو نو يې موټر له سړک نه په دښته کې يو طرف ته تاو کړو او ماشوم په موټر کې پيدا شو حتی چې د ماشوم نو (نوم) يې د دوو تيږو په مينځ کې کړو او پرې

يـې كړو او حمد او ثـنـاء ده الله لـره چې هغه مـېړمـن يـې سره ددې چې ډاكـټرانـو ورتـه ډېـر كم فـيصده د ژونـد امـيـد وركړى وو بـالـكل جوړه روغه پـاتـې شوه او هغه مـاشوم هم ښه پـه صحت او سلامـتـي سره پـيـدا شو او اوس ګـرځـي نـه پـكـې د مـاهـرې طبـيـبې د مـهـارت ضرورت شو او نـه پـكـې د درنـدو پـيسونـو د وركـولـو ضرورت شو د هرڅه انـتـظـام الله پـه خـپـلـه وكـولـو .

۞۞۞

يـو بـل عربـي شاعر وايـي :

إلهي لست للفردوس أهلا

ولا أقوى على نار الجحيم

فهب لي توبة واغفر ذنوبي

فإنك غافر الذنب العظيم

تـرجمـة : اى الله زه د فـردوس (جنت) قـابـل نـه يـم

او نـه د دوزخ د اور زور لـرم

مـاتـه د تـوبـې تـوفـيـق راكړه او زمـا ګـنـاهـونـه و بـښـه

بـېشكـه تـه د لـويـې ګـنـاه بـښـونـكـى يـې .

۞۞۞

يـو عـالـم فـرمـايـي زمـا لـفـټ (هغه آلـه چې خلك پـه لـوړو تـعمـيـرونـو كې پـكـې ښكـتـه او پـورتـه ځي) ډېـر زيـات خوښ دى او زه يـې استعمـالـوم ددې امـلـه نـه چې زه سست يـم او پـه زيـنـو كې مې ښكـتـه او پـورتـه كېدلـو تـه د لاسه نـه كـيـږي بـلـكـه زه اكـثـر پـه هغه كې فـكـر كـوم چې دا لـفـټ لـكـه ژونـد داسې دى پـه

ژوند کې اکثر د یوه وړوکي کار له امله خلک ښکته او یا پورته ځي داسې په لفټ کې هم صرف په یوه بټن ګوته کېږده او تخته یې کړه ته به ښکته لاړ شې او بیا چې وغواړې نو پورته به لاړ شې .

❁❁❁

یو حکیم وایي په دنیا کې چې څومره ژوندي دي دا ټول مړه کیږي خو د انسانانو دا ژوند ماته ډېر لنډ ښکاره کیږي او زما په فکر دا دومره اوږد نه دی چې انسان یې له نورو خلکو سره په کینه کې او د نورو خلکو په غلطیو شمارلو کې مصرف کړي .

❁❁❁

یو عالم فرمایي څوک چې د ژوند نه فایده پورته کول غواړي دا ډېر اوږد دی او هغه خلک چې یې عبث تېروي د هغوی لپاره ژوند ډېر لنډ دی پدې کې راز دادی چې څوک یې د خپل مقصد لپاره استعمال کړي ژوند پوره دی او چې څوک یې عبث تېر نه کړي ډېر کار پکې کیږي او هغه چې عبث یې تېر کړي نو بیا په ژوند کې هېڅ نشي کولی .

❁❁❁

یو عالم فرمایي زما په شاګردانو کې هغه شاګرد خوښ وي چې کله سوال ورته په ذهن کې ورشي نو پخپله لټون وکوي او ځواب ورته پیدا کړي عام شاګردان داسې نه وي بلکه هغوی له استاذ نه تیار ځواب غواړي او همغې ته خوشحال وي او ژوند انسان ته ددې لاره ورښیي چې پخپله به

كوښښ كوي او د ځان لپاره به هغه څه برابروي چې ستا ورته ضرورت وي .

❁❁❁

كه انسان د دنيا په ژوند كې فكر وكوي ډېر څه به زده كړي لكه اطفايې واله خلك اور په اور نه ګل كوي بلكه د هغې ضد يعني اوبه ور وړي چې اور پرې ګل كړي داسې كه انسان ددې كوښښ كوي چې راحت پيدا كړي نو ددې لپاره به زحمت تېروي كه انسان غواړي چې تر مرګ وروسته حالات يې ښه وي نو د هغې لپاره به تر مرګ وړاندې راحتونه قرباني كوي .

❁❁❁

موږ چې كله ماشومان وو يو استاذ موږ ته ويلي وو د غنمو په پټي كې چې كوم وږى تش وي هغه نېغ ولاړ وي او لوړ ښكاره كيږي لكن كوم چې ډك وي هغه ښكته تللى وي او نه ښكاره كيږي نو لدې نه تاسې درس واخلئ چې كوم انسان په څه نه پوهيږي هغه سر لوړ نيولى وي او هغه انسان چې ډېر علم ولري هغه سر ښكته اچولى وي او ځان نه ښكاره كوي او دا به له مرګ نه وروسته بيا سر چپه شي هغه چې څه ورسره وي هغه به سرلوړى وي او هغه چې څه شى ورسره نه وي د هغې به سر ښكته شي .

نكتې

يو عالم فرمايي تاسې پدې څو لفظونو كې فكر كړى دى موت ، مات ، ميت ، قبر ، نشر، حشر، عرض ، جنة ، نار دا ټولې داسې كلمې دي چې هره يوه يې صرف له دريو ټكيو جوړه ده لكن ژونديو زړونو ته حركت وركوي او د ويښو

انسانانو خوبونه تښتوي او هوښیارانو انسانانو ته هره یوه یو فکر او سوچ ورکوي د مثال په ډول :

موت (مرګ)

داسې یوه کلمه ده چې تا له یوه داسې مېلمه څخه خبروي هغه چې په تا باندې یو دم راځي او له راتلو مخکې تا نه خبروي ددې امله هغه یو خاص مېلمه دی او هغه یو داسې مېلمه دی چې هېڅوک هغه ته نشي ویلی چې دده کور ته د نه ورځي او په دنیا کې د هر جابر ، ظالم ، پهلوان ، تکړه انسان د ملا په ماتولو باندې زورور دی .

مَا تَ (مړ شو)

داسې یوه کلمه ده چې تا لدې نه خبروي چې یو انسان لتا نه داسې جدا شو چې هغه بېرته نه راګرځي او نه به لتا سره بیا ووینې او هغه اوس له هغه کسانو څخه شو چې یوازې د هغه اعمال کړه وړه او د هغه خبرې به یادیږي او هغه نور په دنیا کې د نویو کارنامو څخه عاجز دی .

میت (مړی)

داسې یوه کلمه ده چې یو وخت به دا ستا نوم وي او ته به په همدې نوم سره یادیږې او خلک به اوس ستا دا ښائسته نومونه له متعددو القابو سره نه یادوي او نه به ورسره صاحب ، جان یادیږي یوازې درته به ویل کیږي چې مړی را رواخلئ ، مړی نور وړو ، مړي ته غسل ورکړل شو ، په مړي جنازه وشوه او همدا به ستا نوم وي .

قبر

هغه ځای دی چې یو څه وخت وروسته به بیا ته همدلته ارام کوې په زمکه کې ژور ځای وي ، په خاورو کې کېنستل شوې کنده وي ، نه پکې کړکۍ وي ، نه پکې شیشه وي او نه هلته څوک په خپل اختیار کې وي ، نه پکې سیمنټ ځای وي او نه پکې سنګ مرمر وي هغه که څوک ښائسته کول غواړي نو اوس د په عملونو ښائسته کړي آیا تا په خپلو عملونو ښائسته کړی دی؟

نشر (له قبر نه بېرته را پاڅېدل)

هغه وخت دی چې ته به له قبر نه را پورته کېږې او ددې انتظار به کوې چې اوس به ستا په اړه د جنت او که د جهنم فیصله کیږي په هغه وخت کې هرڅوک په ډار کې وي مګر هغه کسان په امن کې وي چې په دنیا کې یې د ځان لپاره داسې څه کړي وي چې دی په امن کې کړي .

حشر (قیامت)

هغه وخت وي چې ته به له ټولو تللیو خلکو سره یو ځای کېږې ، هغه وخت وي چې هرڅوک به په خپل ځان آخته وي او هېچا ته به خپل ، خپلوان ، مور ، پلار اولادونه او نور دوستان ور په زړه نه وي هرڅوک به په خپلو خولو کې ډوب وي او د هېچا په سر به سیوری نه وي مګر هغه کسان چې دلته یې د هغې ورځې غم کړی وي او د ځان لپاره یې سیوری پیدا کړی وي ځینې به داسې بختوران وي چې د انبیاوو او شهیدانو سره به د عرش تر سیوري لاندې ولاړ وي آیا تا دا غم کړی چې په هغه ورځ به ستا څه حال وي؟

عرض (حساب ته وړاندې کېدل)

هغه حالت وي چې انسانان به د الله په حضور کې له خپلو عملونو سره وړاندې کيږي که ښه وي او که الله مه کړه بد وي پنځوس زره کاله اوږده ورځ وي همدا ورځ به د ځينو لپاره ډېره بې تکليفه او لنډه وي او د ډېرو لپاره به همدومره (د پنځوس زرو کلونو) په اندازه باندې اوږده وي هرڅوک به ددې انتظار کوي چې اوس به الله دده په حق کې څه فيصله کوي لمر به دومره را ښکته شوی وي چې له انسانانو څخه به دومره خولې بهيږي چې څنګه ددوی اعمال وي ځينې به تر ګونډو پورې په خپلو خولو کې پټ وي او ځينې تر نو پورې او ځينې تر اوږو او ځينې تر غاړې او ځينې تر خولې پورې چې په تکليف سره به تنفس کوي تا کله پدې اړه فکر کړی چې پدې ورځ به ستا څه حال وي؟ هغه ورځ چې ټول انبياء او پيغمبران به هيبت اخيستې وي او اواز به کوي چې نفسي نفسي (زما ځان زما ځان) يوازې رسول الله به وايي امتي امتي (زما امت زما امت) .

جنت

د نېک بختو خلکو آخري منزل دی چې دلته به همېشه پکې پاتې کيږي هغه څوک چې په دنيا کې له دنيايي مزو تېر شو او خپل ژوند د الله عبادت ، جهاد او اطاعت ته وقف کړي ، هغه کسان چې الله ته قبول شي ، هغه کسان چې په آخري درجه بختور وي هغه به د جنت اهل وي او چې يو ځل ور ننوزي هغوی به دلته د همېشه لپاره پاتې وي او په هېڅ وجه به بيا ورڅخه نه ايستل کيږي او همدلته به د جنت له نعمتونو خوند اخلي او په همدې ځای کې به يې ژوند وي او هلته چې انسان د يوې ثانيې لپاره هم پاتې شي نو د

دنیا ټول عیشونه ، خوندونه او مزې به یې هېرې وي زه به د جنت په اړه څه ووایم خو رسول الله فرمایلي دي چې هلته داسې نعمتونه دي چې نه چا لیدلي نه آوریدلي او نه د کوم بشر په زړه کې ور تېر شوي دي آیا تا کله فکر کړی دی چې په هغه کې تاته هم ځای په کار دی؟ آیا ستا په عملونو کې داسې عملونه شته چې له امله یې ته ددې تمه کوې چې الله به تاته په جنت کې ځای درکړي؟

نار (دوزخ)

د ګناهکارانو ځای دی دلته به تر هغه وخته پورې اوسیږي ترڅو چې د الله خوښه وي او یا د کفارو لپاره د هروخت لپاره ځای دی همېشه به دلته اوسیږي په کوم ځای کې چې اسانه عذاب دادی چې د اور پڼې به ور په پښو کړل شي د هغه پڼو د حرارت له زوره به یې په سر کې ماغزه جوش کوي تاسې ددې عذاب تصور کولی شئ؟ تاسې کله اور ته لاس او ګوته ور نېږدې کړې ده چې څومره سخت کار دی؟ تاسې کله ژوندی انسان لیدلی چې سوزیدلی وي زړه مو ورته بد شوی؟ په دنیا کې که انسان په اور کې واچول شي نو د یو څه تکلیف نه وروسته به مړ شي او له عذاب نه به خلاص شي په هغه وخت کې چې عذاب هر څومره سخت وي انسان ته مرګ نه راځي ددې امله خو علماء فرمایي له مرګ نه صرف په خوله مه ډارېږئ بلکه د مرګ لپاره تیاری وکوئ مخکې لدې چې تاسې ته مرګ راشي تاسې ورته تیار شئ په آخرت کې به داسې حالت وي چې ډېر خلک به مرګ غواړي خو دوی ته به مرګ نه راځي او کفار به ډېر ووایي کاش ربه زه خاورې وای ... خو هېڅ به هم نه کیږي تا تر اوسه کله پدې فکر کړی دی چې هسې نه دې ځای ته ته هم ور واچول شې؟

تـا کـلـه پـدې اړه فـکـر کـړی دی چې داسې څـه وکـوې چې الله د لــه دوزخ نــه پـرې مـحفـوظ کـړي؟ .

مـدرسـه او مـکـتب هم انـسـان تـه درس ورکـوي او ژونـد هم انـسـان تـه درس ورکـوي خـو فـرق یـې صرف دا وي چې پـه مـدرسـه او مـکـتب کـې اول مـوږ تـه درس راکـوي بـیـا ورپـسې راځـخه امـتـحـان اخـلـي او ژونـد اول پـه مـوږ امـتـحـان راولـي بـیـا راتـه درس راکـوي خـو پـدې درس یـوازې هـغه کـسان پـوهـیـږي چې هـغـوی عـبـرت اخـیـسـتـونـکـي وي.

دری شـیـان دي چې انـسـان تـه بـې خـبـره راځـي

1. مـیـنـه
2. خـپـل قـسمت
3. مـرګ

پـدې دنـیـا کـې د هـرشـي لـپـاره یـو قـیـمت وي (هـېڅ شـی هم خـوشې او بـې پـیـسو نــه وي) حـتې چې کـفـن هم خـوشي نـشـتـه .

دری شـیـان دي چې شـوقـیـان یـې پـه مـرګ مـړیـږي او تـر مـرګ وړانـدې مـړیـدل نـه لـري .

1. د عـلم طـلـب

2. د مال طلب
3. د شهرت طلب

❁❁❁

دری کسان چې له دریو سره وي چې ترڅو یې مرګ سره بېل نه کړي نه سره جدا کیږي او بیا بیا سره مخامخ کېدل غواړي .

1. ښځه له آینې سره
2. د مطالعې شوقي له کتاب سره
3. منافق له هغه چا سره چې ورسره منافقت کوي .

❁❁❁

سستیا د تردد (په هره خبره کې د هو او نه په مینځ کې پاتې کېدلو) لور ده او د خپل وخت نه د کار د وروسته کولو د تره لور ده او دا دری واړه هغه شی دي چې اکثر خلک ددې له امله غریبان پاتې دي .

❁❁❁

هغه کسان چې په سیاست کې آخته وي هغوی تر مرګ وړاندې نه ثابت حقیقت وینې او نه حقیقي ثابت شی او خبره وینې .

❁❁❁

د انسان لپاره هغه مرګ خطرناک دی چې د تمنا کولو قدرت له لاسه ورکړي او کله چې د تنفس

کولو قدرت له لاسه ورکړي دا دومره خطرناک نه دی .

❁❁❁

د انسان د مرګ او د هغه د پیدائښت دواړه داسې وختونه دي چې نه تکرار کیږي که څوک یې له یوځل واقع کېدلو پند اخیستی شي نو ښه ده کنې تکرار نلري .

❁❁❁

ښځه تر مرګه پورې لکه رښتیا ګل داسې دی دهغې ښه انسانیت یې ښه بوی دی او د هغې پاکي یې ازغي دي چې د هرچا لاس نه ور پریږدي او په کومه ښځه کې چې دا دواړه نه وي هغه لکه پلاستیکي ګل داسې وي .

❁❁❁

په موږ کې هوښیار خلک د خپلو تجربونو څخه پند اخلي او غافل انسان له خپلو غلطیو څخه ډیر په ورو ورو پند اخلي او بیا بیا غلطي کوي .

مرګ څه شی دی؟

ابن ابي مليكة فرمايي حضرت عمر د حضرت كعب الاحبار نه پوښتنه وکوله : ماته ووایه دا مرګ څنګه شی دی ؟

هغه ورته وویل : هغه لکه یوه ازغي لرونکې ونه ده چې ډیر ازغي لري او په انسان کې د ننه ده او هېڅ داسې بند او داسې رګ نشته چې په هغه کې ازغی نه وي ور ننوتلی او یو بل پهلوان

او تکړه سړی دی هغه دا ونه نیولې ده او له دې کس نه یې راکش کوي او ترې را وباسي یې ... د حضرت عمر له سترګو نه اوښکې راغلي او په ژړا شو . 1

مرګ یو دم راځي

حضرت عبد الله ابن مسعود فرمایل : تاسې د شپې او ورځې په تېرېدو کې یاست دا ورځې او شپې ستاسې د ژوند برخې دي او تیریږي ستاسې عملونه ټول ساتل کیږي مرګ یو دم راځي او له راتلو وړاندې هېڅ ډول خبر چا ته نه کوي نو تاسې دې دنیا ته د کرلو لپاره راغلي یئ څوک چې خیر کري نو د مرګ نه پس به یې د خیر فصل په لاس ورشي او څوک چې شر وکري د مرګ نه وروسته به صرف شرمندګي او پښېمانې په لاس ورشي چې بیا به د هېڅ عمل کولو وخت نه وي .

۞۞۞

ابو مطیع یو تقوی دار انسان وو یوه ورځ یې خپل کور ته وکتل ډېر یې خوښ شو خپل کور ته په ژړا شو بیا یې وویل :
و الله که چېرته مرګ نه وای نو زه به په تا باندې زیات خوشحال وی او که زه لتا نه تنګ قبر ته نه ورتلی نو تاته به مې ډېره خوشحالي کړې وه او په تا باندې به زما سترګې یخې وې بیا یې سخت سخت وژړل تردې چې اواز یې پورته شو . 2

۞۞۞

1 موسوعة ابن أبي الدنیا
2 موسوعة ابن أبي الدنیا

حضرت ابو عبیدة الخواص به فرمایل : ترڅو پورې به د خلکو له جنازې سره ځې او بېرته به کور ته را ستنیږې ، هغه به په لحد کې ایږدې او ته به ترې کور ته راځې ؟ زر به داسې وخت راشي چې خلک به تا په لحد کې کیږدي او دوی به درڅخه را ستانه شي .

۞۞۞

رسول الله فرمایي : ما هېڅ سخت منظر نه دی لیدلی مګر قبر ترې ډېر بد دی .[1]

۞۞۞

ابو معاویة فرمایي لما سره به چې کله هم حضرت مالک بن مغول مخامخ شو راته ویل به یې : **لا تغرنك الحياة، واحذر القبر، إن للقبر شأنًا.**

ترجمة : د دنیا ژوند د تا دوکه نه کړي ، له قبر نه وډار شئ بېشکه د قبر لپاره یو شان دی .

۞۞۞

حضرت یحیی بن معاذ فرمایل : اې بني آدمه ستا رب ته دار السلام ته ور غوښتی یې خو اوس خبره داده چې ته به څه وخت هغه ته لبیک وایې که چېرته دې په دنیا کې ورته لبیک وویل ته به دار السلام (جنت) ته ور ننوزې او که د له قبر نه ورته وویل نو بیا به ته ورڅخه منع کړل شې او تاته به د ننوتلو اجازه درنه کړله شي .

---

[1] رواه الترمذي

حضرت عبدالله بن العیزار فرمایل : د انسان لپاره دوه کورونه دي یو یې د زمکې پر مخ دی او بل یې د زمکې په مینځ کې دی هغه څه چې د هغه کور لپاره یې کوي چې د زمکې په مخ دی صرف ښکلا ، ښائست او د زینت شیان پکې زیاتول دي شمال لور ته یې پکې دروازې جوړې کړې وي او جنوب ته یې هم پکې دروازې ورکړې وي او داسې څه یې پکې جوړ کړي وي چې دده د اوړي لپاره پکې سهولتونه وي او د دوی د ژمي لپاره پکې د ارام ځای وي لکن د هغه کور نه چې دده په زمکه کې وي دی ترې غافل وي هغه ورڅخه خراب پاتې وي او ده د هغه لپاره هېڅ نه وي کړي تردې چې اواز کونکی پرې اواز وکوي چې په دنیا کې ستا وخت نور ختم دی اوس هغه انسانه چې پدې کور کې چې ستا د زمکې په مخ دی هرڅه سهولتونه دې پکې جوړ کړي دي ته پدې خبر یې چې پدې کې ته د څومره وخت لپاره پاتې کیږې؟ البته انسان به وایي چې زه نه یم خبر او هېڅوک هم نه دي خبر چې پدې کور کې به انسان تر څومره وخت پورې پاتې کیږي او هغه کور چې انسان یې د جوړولو فکر نه دی کړی او خراب یې پریښی دی په هغه کې به انسان تر څومره وخته پورې پاتې کیږي؟ تاسې ته ددې خبرې ځواب معلوم دی؟ خامخا تر قیامت پورې او بیا تر قیامت نه وروسته به هم یا د نعمتونو ژوند وي او یا مه کړه د عذابونو او دا ټوله ثمره به په دنیا کې د عملونو وي.

حضرت سلیم بن عامر فرمایي : موږ په دمشق کې له یوې جنازې سره ووتلو او له موږ سره حضرت امامة الباهلي موجود وو کله یې چې جنازه

وکوله او خلکو د هغه په دفن باندې شروع وکوله ده وفرمایل : تاسې پداسې کور کې سبا او بیګاه کوی چې په هغه کې تاسې نیکي او بدي کوئ او ددې لپاره وخت تېروئ چې لدې نه وروسته بل کور ته تاسې لاړ شئ او هغه بل کور مو دادی (قبر ته یې اشاره وکوله) او بیا یې زیاته کړه دا د وحشت کور دی ، د تیارو کور دی ، تنګ کور دی صرف د هغه کسانو لپاره فراخ دی چې د چا لپاره الله فراخ کړی وي او بیا به له همدې کور نه تاسې د قیامت ورځې ته منتقل شئ .

۞۞۞

نصر بن محمد السمرقندي فرمایي : څوک چې غواړي د قبر له عذاب نه نجات ورکړل شي نو څلور کارونه د وکوي:

١ . د مونځ پابندي.

٢ . صدقه .

٣ . تلاوت.

٤ . زیات تسبیح.

ځکه دا شیان قبر رڼا کوي او فراخوي او له څلورو شیانو د ځان وساتي:

١ . دروا غ

٢ . خیانت

٣ . د مسلمانانو په مینځ کې شیطانت

٤ . د متیازو څخه ځان پاک نه ساتل .

۞۞۞

د حضرت فضل الرقاشي نه روایت دی هغه به چې کله د قبر د خلکو په اړه خبرې کولې ویل به یې : افسوس دی د دوی په حال الله ورته مخونه ورکړي دي لکن د سجدې کولو وخت نه لري او دوی به ارمان کوي چې له دوی سره وخت وی چې دوی

پکې سجده کړې وای وروسته له دې چې دوی له موږ نه زیات څه لیدلي دي که چېرته دوی ته وخت ورکړل شوی وای نو دوی به ډېر په مننه سجدې او نورو عباداتو ته ورغلي وو بیا به یې ژړل او ویل به یې : ورونو اوس تاسې هغه څه کولی شي چې ستاسې غاړې وربانديې خلاصیږي یو وخت به په تاسې باندې مرګ راشي ډېر زیات به غواړئ چې تاسې ته د عبادت وخت درکړل شي لکن نه به درکول کیږي .

۞۞۞

د حضرت سفیان الثوري په مجلس کې به چې د مرګ په اړه خبرې وشوې هغه به تر څو ورځو پورې ژوند نشوای کولی او بې سوره به وو چې د کوم شي پوښتنه به ورځخه کېدله ده به ویل نه پوهېږم ... نه پوهېږم .

۞۞۞

انسان ته چې په ژوند کې په مینه یو ګل ورکړې دا له هغه د ګلونو ګېډۍ څخه غوره دی چې د مرګ نه وروسته یې ورته په قبر کېږدې .

۞۞۞

حضرت عمر بن عبد العزیز به فرمایل

ألا ترون أنكم في الدنيا في أسلاب الهالكين، وسيسلبها بعدكم الباقون، حتى يرث ذلك الخير الوارثون.

ترجمة : تاسې دیته نه ګورئ چې تاسې په دنیا کې په هغه شیانو کې ژوند کوئ چې له هغه کسانو څخه را غصب کړل شوي دي چې هغوی هلاک شوي دي او

لتاسې څخه به یې بل څوک غصب کړي تردې چې خیر الوارثین ذات ته پاتې شي .

۞۞۞

امام دقاق فرمایي : هغه کس چې د مرګ ذکر او یاد زیات کوي نو الله ورته په دریو شیانو باندې عزت ورکوي:
١. توبه زر وباسي
٢. په زړه کې ورته قناعت ور اچوي
٣. له عبادت څخه خوند اخلي.
او هغه چې مرګ هېر کړي الله ورته په دریو شیانو عذاب ورکوي:
١. توبه وروسته کوي
٢. څومره شی چې ورسره وي په هغه خوشحال نه وي
٣. په عبادت کې سستیا کوي .

۞۞۞

اسامة فرمایي کله به چې موږ د حضرت سفیان الثوري سره کېناستو نو له هغه نه به مو همدا یو شی آورېدل مرګ ، مرګ ، مرګ (ډېر زیات به یې مرګ یادولو) .

۞۞۞

حضرت محمد بن واسع به په هغه هدیره تېرېدلو چې دده ملګري پکې وو او هغوی ته به یې اواز کولو فلانیه ، فلانیه ، اې فلانیه بیا به یې خپل ځان ته ویل دوی مړه شوي دي والله ټول مړه دي او ختم شوي دي داسې ښکاره کیږي چې له دوو ځپلیو څخه یوه ورکه شویده او دا بله هم زر ده چې

ورپسې ورشي (ځان به يې ښودو او ځان ته به يې ويل چې دوی درڅخه تللي دي زر دی چې ته به هم پسې ورشې) .

واقعه

حضرت ثابت البناني فرمايي : يوه شپه مې طواف کاوه چې يوه ښځه مې وليده ويل يې :
اللهم اعصمني حتى لا أعصيك، وارزقني حتى لا أسأل غيرك.
(ترجمة : اې الله ما وساته تردې چې زه ستا نا فرماني ونه کوم او ماته داسې روزي راکړه چې ستا نه بغير د بل چا څخه سوال ونه کوم)
زه نېږدې ورغلم او ورته مې وويل : دا دعاء تا له چا آورېدلې ده ؟ هغې راته وويل : له خپل پلار طاووس نې مې آورېدلې ده ما ورته وويل : واده د شته؟ دې راته وويل : والله چې ته ددنيا مشهور بزرگ ثابت شې هم که زه واده وکوم ما ورته وويل : زه ثابت البناني يم .. هغې په حيرانتيا سره راته وکتل راته يې وويل : اې ثابته ته چې مرگ يادوې تا لدې څخه نه مشغول کوي چې ته د ښځو په اړه فکر وکوې دا خبره يې راته وکوله او الله اکبر يې وويل په مانځه يې شروع وکوله .

❁❁❁

حضرت حاتم الاصم به فرمايل : په جنازه پسې تلل غوره خبره ده ، په جنازه باندې مونځ کول سنت دي ، په جنازه باندې د خپل زړه علاج کول فرض دي .

❁❁❁

د بلخ قاضي وو د هغه مور په حق رسېدلې وه حضرت حاتم اصم ورغلو هغه ته يې دعاء کوله ورته يې وويل :

إن كانت وفاتها عظة لك؛ فعظم الله أجرك على موت أمك، وإن لم تتعظ بها؛ فعظم الله أجرك على موت قلبك.

ترجمة : که چېرته د مور وفات ستا لپاره پند او نصيحت شوى وي نو الله د تاته ستا د مور د وفات اجر درکړي او که چېرته د هغې مرگ ستا لپاره پند او نصيحت نه وي شوى نو بيا ستا زړه مړ دى الله د تاته ستا د زړه د مړ کېدو اجر درکړي .

۞۞۞

حسن بصري د يو بيمار پوښتنې ته ورغلو چې وېې ليدل هغه په ځانکدن کې وو او ځانکدن يې ډېر زيات سخت وو کور ته چې راغلو رنگ يې بدل شوى وو او ډارېدلى وو د کور خلکو ورته وويل : خوراک تيار دى ده ورته وويل : تاسې خوراک وکوئ ما يو داسې حالت وليدو چې څو زه ژوندى وم د هغه حالت لپاره به تيارى کوم .

۞۞۞

حضرت حبيب فارسي ته په هغه بيماري کې وويل شول په کومه چې هغه وفات شو : دا دومره فرياد او شکايت د څه وجې کوې؟ ده وويل :

سفري بعيد بلا زاد، وينزل بي في حفرة من الأرض موحشة بلا مؤنس، وأقدم على ملك جبار، قد قدم إلي العذر.

ترجمة : سفر مې ډېر لرې دى او توښه مې نشته ، اوس به مې په يوه ژوره ډاروونکې کنده کې ور ښکته کوي چې هلته به مې هېڅوک لما سره الفت

کونکی نه وي او جبار بادشاه ته به ور وړاندې کېږم او هېڅ عذر مې نشته .

۞۞۞

ای د الله بندګانو څوک چې د عقل په نظر باندې دنیا ته وګوري نو پدې پوهیږي چې د دنیا نعمتونه یوازې ابتلاء ده ټول ژوند یې یوازې لکه د یو خوب لیدل داسې دي پدې کې به د نعمتونو خوند څوک څنګه واخلي چې په هېڅ دقیقه او هېڅ ثانیه کې د مرګ نه امن نشته او وروسته له مرګه بیا داسې حالت وي چې هېڅ د عمل موقع او فرصت نه وي . 1

۞۞۞

په دنیا کې ددې خلکو عمرونه داسې ښکاریږي لکه دا چې فصلونه وي او څومره فصلونه بغیر د پخېدلو نه و ریبدل شول ۞ څومره خلک پداسې حالت کې مړه شول چې پنځه کاله ، لس کاله وروسته به یې د یو کار اراده وه ۞ ډېر کسان په داسې حالت کې مړه شول چې له خلکو سره یې کړې وعدې نیمې پاتې شوې ۞ نو ای انسانه .....! ستا د پاره لا تر اوسه پورې بازار ګرم دی او سرمایه هم ستا په لاس کې شته خپل ځان واخله او فکر وکوه چې دا دنیا ټوله شپه ده او ته پکې ویده یې او کله چې د چا د مرګ خبر آورې فکر وکوه چې دا یو اواز کونکی اواز کوي چې شپه په ختمېدو ده د پاڅېدلو وخت دی او که اوس هم ته بیدار نه شوې نو یو څه وخت وروسته

---

1 **كتاب الزهدلابن مبارک**

به ستا د مرګ اواز کيږي او خلک به ترېنه عبرت اخلي . 1

❁❁❁

حسن به فرمايل :

هغه کس چې مرګ يې په مخه کې وي.

د قيامت ورځ د هغه وعده وي.

او د الله په وړاندې يې حضور وي هغه ته په کار دي چې خفه شي . 2

❁❁❁

حضرت ابو الدرداء به ويل : په نصيحت کې مرګ بس دی او دا زمانه بس ده چې انسان ته ور وښيي چې څه شی ښه او څه شی بد دي انسان يوه ورځ دلته او بله ورځ په قبر کې وي همدومره نصيحت کافي دي . 3

❁❁❁

حضرت ابو عبيده بن الجراح ډېر تقوی دار او له الله نه زيات ډارېدونکی انسان وو هغه به کله کله ويل : کاش زه انسان نه وای چې د مرګ نه وروسته به را سره حساب کيږي کاش چې زه ګډ

---

1 **الفوائد لابن قيم**

2 موسوعة ابن ابي الدنيا

3 موسوعة ابن أبي الدنيا

واى او خپل اهل حلال كړى وى زما غوښه يې خوړلې واى او زما ښوروا يې څښلې واى . حضرت حذيفه بن اليمان چې سخت بيمار شو او بيا له همدې بيمارۍ نه وفات شو سخت سخت يې وژړل چا ورڅخه پوښتنه وكوله ولې ژاړې؟
ده وويل : زه په دنيا پسې نه ژاړم او نه پدې ژاړم چې له دنيا نه ځم بلكه لدې دنيا نه اوس هم مرگ راته محبوب دى لكن ژاړم پدې چې زه نه پوهېږم چې داسې ځاى ته ورځم چې هلته زما لپاره غصه ده او كه رضا . 1

۞۞۞

حضرت سعيد بن جبير به فرمايل : كه چېرته د مرگ وېره زما له زړه څخه لرې شي زه پدې ډارېږم چې زما زړه به راته خراب شي . 2

۞۞۞

حضرت صفية فرمايي يوه ښځه حضرت عايشې ته راغله شكايت يې ورته كاوه چې زړه مې سخت دى (كله چې زړه سخت شي وعظ وربانديې تاثير نه كوي ، ژړا نه ورځي .... او داسې نور) حضرت عايشې ورته وفرمايل مرگ ډېر يادوه زړه به د نرم شي يو څه وخت وروسته هماغه ښځه راغله د حضرت عائشې شكريه يې اداء كړه .

۞۞۞

حضرت عمر بن عبد العزيز يوه ورځ په مجلس كې خبرې كولې او په مجلس كې د مرگ په اړه خبرې روانې وي ده فرمايل : دا مرگ د دنيا په خلكو باندې دا د دنيا تازگي خرابوي او هغه

---

1 **موسوعة ابن ابي الدنيا**
2 **السير**

وخت چې خلک د دنیا په راحتونو کې خوشحال وي یودم د مرګ اواز وربانديږ وشي او هغه هرشی ورته خراب کړي او په ده بانديې دنیا ړنګه کړي افسوس د هغه چا په حال دی چې له مرګ څخه نه ډاريږي افسوس د هغه چا په حال دی چې کله دی په سمو او خوشحالو حالا تو کې وي مرګ ده ته نه ور په زړه کيږي هغه کسان چې هر وخت مرګ یادوي هغوی د آخرت لپاره کار کوي او افسوس د هغه چا په حال چې کله مړ شي ور معلومه شي چې ده د هغه ژوند لپاره هېڅ نه دي کړي او بیا په هغه وخت کې هېڅ نه کيږي بیا حضرت عمر بن عبد العزيز په ژړا شو ژړا يې سخته شوه او له مجلس نه پاڅېدو . 1

❁❁❁

حضرت عنبسة بن سعيد فرمايي : ما د حضرت عمر بن عبد العزيز نه خدای په اماني ا خیستله کله مې چې ورسره خدای په اماني وکوله ترې روان شوم دوه ځله يې راته اواز وکولو ای عنبسة ، ای عنبسة ما ورته مخ واړولو .. ده مبارک راته وويل : مرګ ډېر یادوه ځکه چې ته څومره په فراخي کې وي مرګ بې دربانديې تنګوي (ځکه بیا به ته فکر کوې چې مرګ را پسې دی نو ډېره خوشحالي به يو شي ته نه کوې) که ته په څومره تنګ حالت کې وي هغه به يې درته فراخ کړي (بیا به ته فکر کوې چې دا تنګي د موقت وخت لپاره ده آخره موږ مړه کيږو) . 2

❁❁❁

[1] موسوعة ابن أبي الدنيا
[2] موسوعة ابن أبي الدنيا

حضرت عیسی به چې خبره کوله د تکیه کلام په ډول به یې ویل: **بحق اقول لکم** (زه تاسې ته رښتیا وایم) یوه ورځ یې ویل : زه تاسې ته رښتیا وایم لکه بیمار چې ناست وي او بهترین خوراک ورته ایښی وي لکن د درد د زیات والي له امله هغه له هغه خوراک نه خوند نشي اخیستلی په همدې ډول هغه کسان چې په زړه کې یې د دنیا مینه وي له عبات نه خوند نشي اخیستلی هغه کسان چې له دنیا سره مینه کوي د عبادت خوږوالی نشي محسوس کولی زه تاسې ته رښتیا وایم په کومه سپرلۍ باندې چې سپرلي ونشي او له هغې نه کار وانه اخیستل شي د هغې عادتونه خرابیږي همداسې زړونه دي چې هغه د مرګ له ذکر سره عادت نشي او له هغه سره نرم نشي هغه کلکیږي او سختیږي . 1

۞۞۞

حضرت کعب الاحبار به فرمایل : عمل داسې کوه لکه ته چې د بوډا توب نه بغیر نه مړ کیږې (اوږد عمر د وي) او له مرګ نه پداسې توګه ډاریږه او داسې ورته تیار اوسه لکه ته چې سبا مړ کېږې . 2

۞۞۞

حضرت لقمان خپل زوی ته په نصیحت کې فرمایل : بچیه چې کومه ګناه درڅخه کېدله نو توبه کول یې مه وروسته کوه ځکه چې د مرګ څه وخت نه دی معلوم هغه یو دم راځي .

---

[1] موسوعة ابن أبي الدنيا
[2] موسوعة ابن ابي الدنيا

❁❁❁

حضرت ليث بن ابي سليم فرمايل : کله چې حضرت حذيفه بن اليمان ته مرګ راغلو سخت يې وژړل چا ورڅخه پوښتنه وکوله په څه ژاړې؟ هغه وفرمايل : په دنيا پسې نه ژاړم مرګ مې خوښ دی لکن پدې ژاړم چې زه نه يم خبر چې زه به رضا ته ورځم او که قهر ته (زه پدې نه پوهېږم چې الله به ماته په قهر او که لما نه به رضا وي) .

❁❁❁

حضرت مطرف بن الشخير به فرمايل : که زه پوه شم چې زه څه وخت مړ کېږم نو زما عقل به کار پرېږدي لکن الله په بندګانو باندې دا يو احسان کړی دی چې دوی يې له خپل مرګ څخه نا خبره کړي دي که چېرته دا غفلت نه وی نو دوی به له هېڅ عيش څخه مزه نه وای اخيستې او نه به د دوی په مينځ کې دا بازارونه جوړ شوي وو او نه به د چا دومره حوصله وه چې اخيستل او خرڅول وکوي او يا له کوم نعمت نه خوند واخلي . [1]

❁❁❁

حضرت معاذ بن جبل د مرګ په بستره باندې چې پروت وو فرمايل يې : ای الله ته خو پوهېږې چې زما په دنيا کې اوسېدل دلته د نهرونو او ونو او ښو باغونو له امله نه وو خوښ بلکه دلته مې ژوند يوازې ددې لپاره خوښ وو چې:
په اوږده شپه کې انسان اوږد مونځ وکوي .
په ګرمه ورځ کې روژه ونيسي .

---

[1] صفة الصفوة

په علماوو پسې د څه زده کړې لپاره اوږده اوږده سفرونه وکوي .

۞۞۞

حضرت میمون بن مهراب فرمایل : دا چې زه په خپل لاس باندې یو درهم صدقه کړم ما ته له هغه سلو درهمونو څخه زیات خوښ دی چې زما د مرګ نه وروسته یې زما خپلوان په ما پسې خیرات کوي . 1

۞۞۞

د ابراهیم بن ادهم نه روایت د ی هغه فرمایي : مخکنیو علماوو به ښه ګڼله چې د مرګ په وخت کې بیمار ته د هغه نېک عملونه ور په زړه کړي ترڅو یې په الله باندې ګمان ښه شي او د الله رحمت ته یې امید پیدا شي.2

۞۞۞

د حضرت عمر بن عبد العزیز زوی عبد الملک وفات شوی وو څوک ورته دعاء ته راغلي وو او ده ته یې تعزیه وویله ده مبارک ورته وفرمایل :
له مرګ سره موږ خپل نفسونه عادت کړي دي (هر وخت یې ورته یادوو) نو کله چې واقع شي موږ ته نا اشنا او عجیب نه ښکاره کیږي . 3

۞۞۞

د عطاء السلیمي نه پوښتنه وشوه دا ته هر وخت ولې خفه وې؟ ده ورته وویل : زه څه وکوم

---

[1] **الحلية**
[2] **موسوعة ابن أبي الدنيا**
[3] **موسوعة ابن أبي الدنيا**

مرګ مې په غاړه کې دی ، قبر مې کور دی، په قیامت کې به د الله په حضور کې درېږم ، په پل صراط مې تېرېدل په مخه کې دي نو دا هرشی چې ما ته یاد وي خوشحالی ته مې نه پرېږدي .

واقعه

د لمة بن الهزال نه روایت دی هغه فرمایي : په یوه جنازه کې د حسن سره شریک وم په هغه جنازه کې فرزدق او نور علماء وو له یو بل سره یې د مرګ په اړه خبرې کولې حسن وفرمایل : ای ابا فراس ددې ورځې لپاره تا څه تیاری کړی دی؟

ده وویل : نه والله ما ددې ورځې لپاره هېڅ نه دي تیار کړي صرف دا یوه د شهادت کلمه ده چې له اتیا کلونو څخه یې وایم حسن ورته وویل : په همدې باندې ثابت اوسیږه او دا زیری قبول کړه چې تا دې ورځې ته همدا ښه تیاری کړی دی . 1

❁❁❁

د لوی مطلب حصول په لوړ همت باندې موقوف وي او هغه څوک چې لوړ همت ورسره نه وي هغه اعلی مطلب ته نشي رسېدلی نو کله چې نیت صحیح شي نو انسان په هغه لاره باندې روانیږي چې کومه اصلي مطلب ته تللې وي نو په ښه نیت سره انسان لاره پیدا کولی شي او په ښه همت سره انسان اصلي مطلب ته رسېدلی شي . 2

واقعه

[1] موسوعة ابن ابي الدنيا
[2] الفوائد لابن قیم

د حضرت مالک بن دنیار نه روایت دی هغه فرمایي :
ما مسلم بن یسار د هغه د مرګ نه یو کال وروسته په خوب کې ولید سلام مې ور باندې واچولو هغه زما د سلام ځواب را نه کړو .
ما ورته وویل : تا ماته د سلام ځواب ولې را نه کړو؟
ده راته وویل : زه خو مړ یم مړی د سلام ځواب څنګه ورکړي؟
ما ورته وویل : نو بیا د مرګ نه وروسته درسره څه وشول؟ (پدې وخت کې د مالک بن دینار په سترګو کې اوښکې راغلې) .
مسلم راته په خوب کې ویل : و الله ډېر مشکلات مې ولیدل ..
ما ورته وویل : نو بیا درسره څه وشول؟
هغه راته وویل : ته څه ګمان کوې چې د کریم ذات سره د چا څه معامله راشي هغه به ورسره څه وکوي بس زموږ نیکي یې قبولې کړې او ګناهونه یې راته وبښل او له موږ نه یې مشکلات لرې کړل او لدې سره په مالک بن دینار باندې څه چل وشو او بېهوشه شو چې را په خود کې شو تبه یې وه او بیا څو ورځې نا جوړه وو . 1

❁❁❁

د وخت ضائع کېدل له مرګ نه سخت دي ځکه د وخت ضائع کېدل تا د الله او د آخرت څخه لرې کوي او مرګ تا له دنیا او د دنیا له نعمتونو لرې کوي ددنیا د نعمتونو څخه لرې کېدل اسان دي د آخرت له نعمتونو نه د لرې کېدلو څخه . 2

[1] **موسوعة ابن ابي الدنيا**
[2] **الفوائد لابن قيم**

۞۞۞

دوه شیان دي چې لما نه یې د دنیا لذت اخیستی دی (د دوو شیانو له امله د دنیا د نعمتونو څخه خوند نشم اخستلی) :
یو د مرګ یادېدل (مرګ هر وخت را ته را یادیږي) .
بل د الله په وړاندې درېدل (چې د هغه ذات په مخ کې درېدل دي چې هغه په هره پټه او ښکاره خبره باندې خبر دی) . 1

۞۞۞

دنیا له اول نه تر آخره پورې ددې قیمت او ارزښت نه لري چې څوک یې په اړه یو ساعت غم وکوي نو د ټول عمر غم خو ډېره لویه خبره ده . 2

۞۞۞

محمد بن نضر الحارثي فرمایي : هغه کسان چې په رښتیا معنی باندې یې مرګ پېژندلی هغوی د دنیا له نعمتونو څخه خوند نشي اخیستلی او یوازې هغه کسان کامیاب دي چې د مرګ له راتلو وړاندې یې دا احساس کړی وي چې مرګ به ده ته راځي . 3

۞۞۞

مرګ یو داسې شی دی چې معلومه نه ده چې کله به لتا سره مخامخ کیږي خو ته ورته مخکې لدې تیاری وکوه چې هغه یو دم درسره مخامخ نه شي .

---

1 حضرت ابراهیم التیمي
2 الفوائد لابن قیم
3 موسوعة ابن أبي الدنیا

❁❁❁

مسلسله زده کړه او د خلکو سره مرسته کول چې هغوی هم دین زده کړي یوازینی هغه څه دي چې له مرګ نه وروسته هم د انسان نوم ژوندی ساتلی شي .

❁❁❁

هغه کس چې چا ته یې په ژوند کې څه خیر نه رسیږي د هغه په مرګ باندې سترګې اوښکې نه کوي .

❁❁❁

حضرت یزید رقاشي به خپل ځان ته خطاب کاوه او فرمایل به یې :
افسوس دی ستا په حال ای یزیده ته چې مړ شې
ستا په ځای به مونځ څوک کوي؟
ستا په ځای به روژه څوک نیسي؟
ستا د مرګ نه وروسته به څوک ستا رب لتا نه راضي کوي؟
بیا به یې ویل : ای خلکو تاسې پدې خپل پاتې عمر کې د خپل ځان د پاره نه ژاړئ؟ هغه څوک چې مرګ پسې ګرځي ❁ قبر یې کور وي ❁ خاورې یې آخري فرش وي ❁ د قبر چینجي یې ملګري وي ❁ ددې سره سره د قیامت د ورځې انتظار کوي د هغه حال به څنګه وي؟ بیا به یې ژړل .

❁❁❁

یو حکیم خپل ملګري ته لیک لیکلی وو په هغه کې یې ورته لیکلي وو ای وروره ! له مرګ نه وډار

شه مخکې له دې چې داسې يو ځای ته لاړ شې چې هلته به ته مرګ غواړې او نه به درکول کيږي .[1]

❁❁❁

يو عالم چاته په نصيحت کې ليکلي وو : ای وروره ستا به دا ګمان وي چې ته مقيم يې لکن داسې نه ده ته په يو همېشني سفر کې يې مرګ در پسې دی او دنيا ستا له شا نه په تا پسې تولیږي کومه ورځ او کوم وخت چې ستا له عمر نه تيريږي دا کله هم بېرته په تا باندې نه راځي نو هره دقيقه ، هره ثانيه چې تېروې فکر پکې کوه او د خپل ځان د راتلونکې په اړه هوښيار اوسه .

❁❁❁

حضرت العلاء بن المسيب به فرمايل چې په دنيا کې تر مرګ وړاندې چې په انسان هرشی راځي هر ډول مصيبت وي نو مرګ تر هغه ډير سخت دی او تر مرګ وروسته چې په انسان هر ډول مصيبت راشي لږ تر لږه مرتبه يې دا وي چې مرګ تر هغه نه اسان وي ځکه خو به د قيامت او دوزخ په سختيانو کې خلک مرګ غواړي خو مرګ به نه ورکول کيږي .

❁❁❁

يو کس حضرت وهب بن منبه ته راغلو ورته يې ويل داسې څه را وښيه چې الله وربانډې ماته فايده راکړي هغه ورته وفرمايل : مرګ ډير

---

[1] كتاب الرقائق

يادوه ، خپل اميدونه دې په دنيا كې لنډ كړه او دريم خصلت درته ښيم كه ورته ورسېدلې (كه د وكولى شواى) نو ته به كامياب شې .. ويل كوم يو؟ حضرت وهب ورته وويل په الله باندې توكل .

❁❁❁

له امام احمد بن حنبل څخه پوښتنه وشوه : څه حال مو دى؟ ده مبارك ورته وفرمايل : بس مسكينان خلك يو خپل رزقونه ختموو او د خپل مرګ انتظار وباسو .

❁❁❁

ټول امت پدې اتفاق كړى دى چې د مرګ لپاره كوم معلوم عمر ، كوم معلوم وخت ، كومه معلومه بيماري نشته نو ځكه انسان بايد هر وخت ورته تيار وي . 1

❁❁❁

ځينې علماوو به فرمايل كه چېرته د يو انسان په وړاندې هېڅ مصيبت ، آفت نه وى بغير د مرګ د سلګيو څخه نو بيا هم بايد انسان ته هر وخت ياد وى چې دى يې زياتې خوشحالى او غفلت ته نه پرېښودى .

❁❁❁

ډېر ځله داسې كيږي چې فصل خپل د پخېدلو حالت ته نه وي رسېدلى هغه پرې كړل شي نو ته هم پدې

[1] امام قرطبي

تمه مه کینه چې زه خو لا ځوان یم مرگ ته مې وخت شته همدا اوس خپل ځان واخله بازار لا تر اوسه پورې قائم دی او ستا په لاس کې مبلغ هم شته .

۞۞۞

محمد بن نضر الحارثي فرمايي : هغه کسان چې په رښتیا معنی باندې یې مرگ پېژندلی هغوی د دنیا له نعمتونو څخه خوند نشي اخیستلی او یوازې هغه کسان کامیاب دي چې د مرگ له راتلو وړاندې یې دا احساس کړی وي چې مرگ به ده ته راځي . 1

۞۞۞

مرگ یو داسې شی دی چې معلومه نه ده چې کله به لتا سره مخامخ کیږي خو ته ورته مخکې لدې تیاری وکوه چې هغه یو دم درسره مخامخ نه شي .

۞۞۞

مطرف بن الشخیر فرمایل : دې مرگ له خلکو څخه د نعمتونو خوند اخیستی دی تاسې د داسې نعمتونو تالاش وکوئ چې په هغه کې مرگ نه وي. 2

۞۞۞

اصمعي فرمايي کله چې زما نیکه علي بن الاصمع ځانکدن ته نېږدې شو نو خپل زامن یې را وغوښتل او ورته یې وویل :

---

[1] موسوعة ابن أبي الدنيا
[2] صفة الصفوة

زه تاسې ته يو نصيحت کوم چې په خلکو کې داسې ژوند وکوئ چې ترڅو تاسې په خلکو کې وئ نو هغوی تاسې ته رجوع کوي او لتاسې سره کينې او پاڅيږي او کله چې تاسې مړه کيږئ نو هغوی په تاسې باندې وژاړي . 1

❁❁❁

حضرت ابو هريره د ځانکدن په وخت کې وژړل . چا ورڅخه پوښتنه وکوله: ولــــــــې ژاړې؟

ده مبارک وويل : ستاسې پدې دنياګۍ پسې نه ژاړم بلکه ژاړم په خپل اوږده سفر او کمه توښه باندې زما شپه په يوه لوړه باندې را روانه ده چې يا به له هغه لوړې نه د اور او يا جنت لوري ته ور غورځېږم او زه اوس پدې نه پوهېږم چې زه به کوم لوري ته ولوېږم . 2

❁❁❁

حضرت عثمان بن عفان فرمايل : کله چې د چا ځانکدن شي نو هغه ته په خوله کې دا کلمه ورکړئ لا اله الا الله ځکه د کوم بنده چې آخري خبره دا وي د هغه لاره جنت ته وي . 3

❁❁❁

حضرت عمر بن الخطاب فرمايل : د هغه کس سره په خوا کې کينئ چې د هغه ځانکدن وي ځکه هغه

---

1 موسوعة ابن أبي الدنيا
2 موسوعة ابن ابي الدنيا
3 موسوعة ابن أبي الدنيا

داسې شيان وينې چې تاسې يې نه وينئ او هغه ته په خوله کې د شهادت کلمه ورکړئ . 1

❁❁❁

مسلم بن بشير بن جحل د حضرت ابو هريره د ځانکدن په اړه فرمايي چې هغه په ژړا شو چا ورڅخه پوښتنه وکوله : ولې ژاړې؟ ده ورته وفرمايل : ستاسې پدې دنيا ژړا نه راځي بلکه ژړا په خپل اوږده سفر او کمه توښه راځي ځکه زه په يو داسې لوړ ځای درېږم چې يا به مې دوزخ او يا به مې جنت ته ور وغورځوي او ماته معلومه نه ده چې چېرته به اچول کيږم .

❁❁❁

عبد العزيز بن رواد فرمايي : يو کس ته ورغلم چې د هغه ځانکدن وو ما ورته وويل : ووايه لا اله الا الله هغه ويل لا اله الا الله يو څه وخت تېر شو بيا چې ما ورته وويل : لا اله الا الله ... ده راته وويل : څو ځله يې ووايم ؟ دا ته چې څه وايې زه دا بيخي منم نه ... او په همدې کې يې ساه ورکړه ما يې له ښځې نه پوښتنه وکوله چې ددې خاوند د څه حال وو دده آخره خو ماته ښه ښکاره نه شوه دده څه اعمال وو؟ هغې راته وويل : ده ټول عمر په شرابو کې تېر کړو او ډېر زيات او همېشه يې څښل پدې ځای کې به عبد العزيز بن ابي رواد فرمايل : له ګناهونو څخه ځان وساتئ چې ايمانونه مو سلامت شي . 2

---

1 موسوعة ابن أبي الدنيا
2 موسوعة ابن أبي الدنيا

۞۞۞

عمرو بن العاص چې کله جوړ وو هغه به ویل چې زما خوښیږ ي چې یو هوښیار سړی وای په هغه باندې مرګ تېر شوی وای ما لیدلی وای بیا هغه ماته د مرګ قصه کړې وای چې مرګ څنګه وي کله چې دده ځانکدن وو او بیماري وربانديې سخته وه چا ورته وویل : تا به ویل چې زما خوښیږي چې یو هوښیار سړی وای په هغه باندې مرګ تېر شوی وای ماته یې ویلي وای چې مرګ څنګه وي اوس ته موږ ته ووایه مرګ څنګه حالت دی؟ ده وویل : زه داسې محسوس کوم لکه زمکه او اسمان چې له یوبل سره سریښیږي او زه د دوی دواړو په مینځ کې بندي یم او ماته داسې ښکاره کیږي لکه زما نفس چې د ستنې تر سپم (سوري) وزي .

۞۞۞

کله چې خلیفه بشر بن مروان ته مرګ راغلو د ځانکدن په حال کې یې ویل :
و الله زما دا خوښیږي چې کاش زه یو تور حبشي غلام وای په دښته کې مې ژوند کړی وای د خلکو مال مې څرولی او دا اوس مې چې څه حال دی پدې حال کې نه وای (مالدار او امیر نه وای).
دده ددې خبرې په اړه سفیان ثوري فرمایي : حمد ثناء ده هغه ذات الله لره چې دوی موږ ته را تښتي (د ژوند په آخر کې ارمان کوي چې غریب وای) او موږ دوی ته نه ور تښتو (موږ ددې ارمان نه کوو چې کاش مالدار وی) دوی په موږ کې یو عبرت وینې او موږ په دوی کې یو عبرت وینو . 1

[1] موسوعة ابن أبي الدنيا

کله چې د حضرت سلمان فارسي ځانکدن شو هغه په ژړا شو چا ورڅخه پوښتنه وکوله ولې ژاړې ته خو د رسول الله ﷺ ملګری وې؟ ده وویل ددې امله نه ژاړم چې له دنیا نه ځم زه خفه یم بلکه ژاړم پدې چې رسول الله ﷺ یو ځل موږ ته یوه خبره کړې وه هغه موږ پرېښوده (هغه موږ ونه منله) رسول الله ﷺ موږ ته ویلي وو **ليكن بلغة أحدكم مثل زاد الراكب** (پتاسې کې د دیو کس ټوله بودیجه دومره وي لکه د یو مسافر توښه).

آخره (خاتمه)

د آخرت په اړه د کامیابي او ناکامي په اړه لویه خبره داده چې د چا له دنیا نه خاتمه ښه شي الله د د کوم انسان خاتمه نه خرابوي ډېر ځله یو انسان ډېر نیک کارونه کوي خو آخره یې خرابه شي او ډېر ځله یو بختور بنده بد عملونه کوي لکن آخره یې بیا ډېره ښه شي .. دا ښه خاتمه څه ته وایي او بده خاتمه څه ته وایي پدې برخه کې به پدې باندې بحث وکوو اول به په بده خاتمه خبرې وکوو او بیا به په ښه خاتمه خبرې وکوو ترڅو زموږ د کتابونو هم په حسن خاتمه باندې ختم شي ..

بده خاتمه

بده خاتمه دېته وایي چې انسان پداسې حالت کې مړ شي چې ده له الله نه مخ اړولی وي ، هغه کارونه کوي چې د الله د غصې سبب کیږي ، هغه کارونه چې الله وربانذې کول لا زم کړي وي نه کوي ، بېشکه چې انسان پداسې حالت کې مړ شي دا ډېره بده خاتمه ده او همدا هغه څه دي چې رښتیني مؤمنان ورڅخه ډاریږي او د الله نه په دعا ګانو کې غواړي چې لداسې حالت نه موږ وساته نو په همدې حالت کې مړه کېدل بد مړه کېدل دي ددېنه علاوه په ځینو خلکو باندې د بدې خاتمې نښې هم ښکاره شي (الله د موږ ترېنه وساتي) د مثال په ډول د ځانکدن په وخت کې یې په کلمه باندې ژبه نه ګرځي ، د ځانکدن په وخت کې له کلمې ویلو څخه انکار کول ، د ځانکدن په وخت کې د حرامو شیانو په اړه بحث کول ، ځینې داسې وي چې کومه سندره یې چې خوښه وي د ځانکدن په وخت کې یې هغه په ژبه باندې روانه

وي پدې اړه يو څو مثالونه ستاسې په وړاندې ايږدم .

په ځانکدن کې له کلمې ويلو انکار

علامه ابن قيم فرمايي : يو کس چې په ځانکدن کې وو ورته وويل شول : لا اله الا الله ووايه .... ده وويل : دا زما لپاره هيڅ نشي کولی ما ته نشي ياد چې ما تر اوسه پورې يو مونځ هم کړی وي ... په همدې خبرو کې يې ساه ورکړه او کلمه يې ونه ويله .[1]

امام ابن رجب له يو عالم عبد العزيز بن ابي رواد نه نقل کړي دي هغه فرمايي : زه د يو کس ځانکدن ته حاضر شوم چې هغه ته د کلمې تلقين کېدو (په خوله کې ورکول کېده) يو ځل يې وويل چې بيا ورته تکرار شوه هغه وويل : څومره يې ووايم زه (هغه کس خپل ځان ياد کړو) دا بيخي منم نه او په همدې حالت کې مړ شو .. ما يې د ښځې نه د هغه د عملونو په اړه پوښتنه وکوله هغې راته وويل : دا د شرابو معتاد وو بيا به امام عبد العزيز فرمايل : له ګناهونو څخه ځان وساتئ .[2]

د شرابي ځانکدن

په همدې ډول امام ذهبي ذکر کړي دي چې يو کس به شراب څښل کله يې چې ځانکدن شو يو کس ورته راغلو د کلمې تلقين يې ورته کولو ده همدا ويل : اول يې ته وڅښه بيا يې ماته راکړه .. په همدې خبرو کې مړ شو .

---

1 الجواب الكافي
2 جامع العلوم و الحكم

د سطرنج كوونكي ځانكدن

همدارنګه امام ذهبي نقل كړي دي چې يو كس وو هغه به سطرنج كولو كله يې چې ځانكدن شو ورته وويل شول : ووايه لا اله الا الله .. هغه به هماغه د سطرنج الفاظ ويل : داسې نه كيږي ، دا زما دانه ده ، پدې لاره نشې راتلی .... او په همدې خبرو كې مړ شو .[1]

په ځانكدن كې موسيقي

امام ابن قيم نقل كړي دي چې يو كس وو سندرې به يې زياتې خوښې وې د ځانكدن په وخت كې ورته كلمه ويل كېده ده د موسيقي پېښې په خوله كولې او ويل يې : تاتنا تنتنا ... په همدې كلمو باندې يې ژبه ګرځېده او كلمه توحيد او شهادت يې ونه ويله مړ شو .

د تاجر ځانكدن

همدارنګه ابن قيم نقل كړي دي چې ماته د يو مشهور تاجر د مرګ قصه وشوه چې هغه ته كله په خوله كې كلمه وركول كېده هغه ويل : دا ټوټه ډېره ارزانه ده ، دا ډېره ښه سودا ده او همداسې د ارزان او قيمت په مينځ كې يې خبرې كولې چې مړ شو او كلمه يې ونه ويله .

---

[1] الكبائر

دا ټول عبرتونه دي

د داسې قصو په اړه امام ابن قيم فرمايي : پاكي ده الله لره خلكو ته څومره عبرتونه ور ښيي او دا خو هغه څه دي چې خلك يې په سترګوويني او هغه حالت چې دوی يې نه ويني نور هم ډېر لوی كارونه دي انسان بايد فكر وكوي چې لږ په ديني لحاظ كمزوری شي چې په ښه حالت كې وي ښه تكړه وي دماغ، زړه او ژبه يې ټول په اختيار كې وي شيطان وربانديې مسلط شي او د خپلې مرضي لپاره يې استعمالوي او زړه يې د الله له ذكر نه غافلوي او ژبه يې په لهوياتو كې استعمالوي او داسې نور نو هغه كس چې د ځانكدن حالت ته ورسيږي په ځانكدن كې ذهن كار پريږدي او شيطان خپل ټول كوښښ وربانديې شروع كړي دا د شيطان لپاره د خوشحالي خبره ده چې د كوم انسان خاتمه خرابه كړي او كه د كوم بنده خاتمه ښه شي نو د شيطان د ټول عمر خواري عبث كيږي نو شيطان د يو انسان لپاره پدې وخت كې تر بل هر وخت نه زيات قوي وي او انسان د شيطان لپاره پدې وخت كې تر بل هر وخت نه زيات كمزوری او ضعيف وي په هغه وخت كې يوازې هغه خلك ټينګېدلی شي چې كوم رښتيا ټنيګ خلك وي الله فرمايي :

يُثَبِّتُ اللّهُ الَّذِينَ آمَنُواْ بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ وَيُضِلُّ اللّهُ الظَّالِمِينَ وَيَفْعَلُ اللّهُ مَا يَشَاء (27) . [1]

ترجمه :مضبوطوی الله هغه كسان چې ايمان ئې راوړی دی په خبره ثابته سره په ژوندون د دنيا (په وقت د فتنې او په آخرت كې) (يعنی په قبر كې) او ښويوی الله ظالمان (له دغې ثابتې خبرې او

1 سورة ابراهيم

هیروي ئې ترې په دنیا او عقبی کې) او کوي الله هر هغه څه چې اراده وفرمائي (د کولو ئې له اهداء د مومنانو او اضلال د مشر کانو).

او هغه کس چې زړه یې له الله نه غافل وو ، د خپلو خواهشاتو لپاره تابع وو ، الله د هغه په زړه کې نه وو ، ژبه یې په ذکر مصروفه نه وه ، پنځه وخت د مونځ پابند نه وو ، کوم شیان چې الله منع کړي وو له هغې نه یې ځان نه ساتلو هغه به څنګه په خپله خبره باندې مستقیم پاتې شي؟ .

بده خاتمه په دوه ډوله ده

الله د موږ د بدې خاتمې نه وساتي دا په دوه ډوله وي :

یو هغه وي چې انسان پداسې حالت کې مړشي چې د الله او د الله له دین او کلمې نه انکار وکوي او یا یې په مومن به (هغه شیانو چې موږ وربانديې ایمان راوړی دی او په هغه باندې ایمان راوړل تر مرګه پورې ضروري دي) کې شک وي نعوذ بالله دا کس په ډېره خرابه خاتمه کې مړ شو دده لپاره به دائمي عذاب وي .

دوهم ډول بده خاتمه تردې نه لږ سه ده دا هغه حالت دی چې کله انسان د ګناه په حالت کې او یا د ګناه په فکر کې مړ شي د مثال په ډول څوک چې سندرې ډېرې اورې او د موسیقي مجلسونو ته ورځي اوس یې هم په زړه او یا په ژبه هماغه محفل وي او یا چې انسان په کومه بله ګناه باندې آخته وي په هماغه د ګناه په حالت کې مړشي ده ته د عذاب نه ویره ده خو بیا هم تر مخکني کس نه بختور دی چې په ایمان باندې ټینګ دی او په هغه کې یې هېڅ ډول شک نشته .

خاتمه ولي خرابيږي؟

د عقيدې خرابېدل

د خاتمې د خرابېدو لوی عامل د عقيدې خرابېدل دي د چا چې عقيده خرابه شي د الله مرسته ورسره کمه شي او په آخر کې وخت کې شطان وربانديې غالب شي او خاتمه يې ور خرابه کړي .

له دنيا سره مينه

له دنيا سره ډېره مينه هم ددې سبب کيږي چې د انسان خاتمه ور خرابه کړي .

له هدايت نه مخ اړول

د هدايت نه اعراض کول (مخ اړول) او د اسلامي هدایاتو پابندي نه کول هم ددې سبب کيږي چې د مرگ په وخت کې ورته خپل گناهونه مخې ته کيږي او په هماغه کې دده زړه او دماغ مصروف کيږي .

په گناه عادت کېدل

په کومه گناه باندې همېشه والی کول ، کوم انسان چې کومه گناه همېشه کوي بيا يې زړه او دماغ هرڅه لدې گناه سره وتړل شي هر وخت همدا ورته په زړه کې را گرځي او تاويږي نو په ځانکدن کې هم بيا شيطان له موقع نه فايده پورته کړي او ده ته همدا گناه ور مخې مخې ته کوي ترڅو د هغې په تصور باندې مصرف پاتې شي .

امام ابن کثير پدې اړه فرمايي : **ان الذنوب والمعاصي والشهوات تخذل صاحبها عند الموت، مع خذلان الشيطان له، فيجتمع عليه الخذلان مع ضعف الإيمان، فيقع في سوء الخاتمة** .

ترجمه : بېشکه ګناهونه او شهوتونه خپل خاوند شړيوي د مرګ په وخت کې سره ددې چې پدې وخت کې شيطان هم د انسان د ښويولو کوښښ کوي نو د انسان ګناهونه او شيطان دواړه ورته ملګري شي او دده ايمان هم کمزوری وي نو هغه دواړه وربانديې زورور شي او دده خاتمه ور خرابه کړي . پدې اړوند امام ابن کثير د قرآن کريم آيت نقل کوي او وايي : الله فرمايي :

وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلْإِنسَانِ خَذُولًا (29) . [1]

ترجمه : او دی شيطان دپاره د انسان لغزوونکی غولوونکی.

نو ګرانو ورونو که انسان غواړي چې خپله خاتمه ښکلې کړي نو له ګناهونو څخه د لاس واخلي او په کومو حرامو کې چې لګيا وي ځان د ورڅخه وساتي خپل اندامونه د له ناروا څخه را منع کړي تر څو يې آخره خاتمه ښه شي او د الله په وړاندې د اجر او ثواب مستحق شي .

---

[1] سورة الفرقان

ښه خاتمه

ښه خاتمه دې ته وايي چې انسان مخکې له مرګ نه ټول ګناهونه پرېږدي او الله ته مخه کړي او له خپلو ټولو ګناهونو څخه توبه وباسي طاعتونو او عبادتونو ته مخه کړي نېک عملونه زيات کړي ، او بيا په همدې ښه حالت کې الله ورته مرګ نصيب کړي او پدې وخت کې انسان ډېر بختور دی او هر وخت چې انسان نيک عملونه ډېر کوي ددې معنی داده چې الله له ده سره مينه کوي پدې اړه حضرت انس فرمايي رسول الله فرمايل :

إذا أراد الله بعبده خيراً استعمله قالوا: كيف يستعمله؟ قال: (يوفقه لعمل صالح قبل موته) . [1]

ترجمه : کله چې الله کوم بنده ته د خير اراده وکوي هغه مستعمل کړي صحابه وو ورڅخه وپوښتنه وکوله څنګه يې مستعمل کړي؟ رسول الله ورته وويل : د مرګ نه وړاندې ورته د نېک عمل توفيق ورکړي .

د ښې خاتمې لپاره دوې واقعې ستاسې په وړاندې ايږدم

واقعه

حضرت فُضيل بن عياض چې له لويو بزرګانو څخه دی په اول کې غل وو تبر به يې په لاس کې وو او د شپې به يې لاره نيوله او څوک به چې په مخه ورتلل نو هرڅه به يې ترې اخيستل او چا به چې په ساحه کې سفر کولو خلکو به ورته ويل چېرته له فُضيل سره مخامخ نه شې ...

[1] رواه الامام احمد و الترمذي

يوه ورځ يې چې له يوه كور نه غلا كول غوښتل په ديوال ور پورته شو ويې كتل چې يو سپين ږيرى سړى په كور كې دى او وړوكې شمع ډوله چراغ ته تلاوت كوي او د تلاوت سره ژاړي فُضيل چې د غلا لپاره راغلى وو اوس كېناست او د سپين ږيري سړي تلاوت ته يې غوږ كېښود او د سپين ږيري سړي سره په كور كې يوه لور ده چې دده د خوراك انتظام كوي پدې وخت كې د فضيل يقين وو چې دى په اسانه لدې كور نه چې هرڅه وغواړي وړلى شي دى په ځواني كې وو او ښه تكړه وو په سلاح هم مسلح وو هلته سپين ږيرى چې دده د مقابلې نه وو او بله خو ماشومه وه او يا ځوانه نجلۍ وه چې دده ترېنه سترګه نه سوزېده خو د سپين ږيري تلاوت ته يې غوږ كېښود تردې چې هغه په تلاوت كې دې آيت ته ورسېدو :

أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنْ الْحَقِّ وَلا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمْ الأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ .[1]

ترجمه : آيا نه دى راغلى وقت هغو كسانو لره چې ايمان ئې راوړى دى (د دې) چې وويريږي زړونه د دوى (له جهته) د ذكر (وعيد) د الله نه او (له جهته د) هغه څيز چې نازل شوي دي له حق څخه (چې قرآن دى). او نه دې كيږى (په سختوالى د زړه كې) په شان د هغو كسانو چې وركړل شوى وو هغوى ته كتاب پخوا له دې څخه نو اوږده شوه په دوى باندې زمانه نو سخت شول زړونه د دوى او ډير له دوى څخه فاسقان نافرمانان دي.

هغه سپين ږيري سخت وژړل فُضيل پدې وخت كې اسمان ته وكتل او ويې ويل : اى ربه زه پدې شپه كې او په همدې ساعت كې تاته توبه وباسم

[1] سورة الحديد آية ١٦

له هغه ځای نه چُپ را ښکته شو او غسل یې وکولو پاکې جامې یې واغوستې جومات ته لاړو تر صباپورې یې وژړل او له هغې ورځې نه یې د الله اطاعت او عبادت شروع کړو او داسې حد ته پکې ورسېدو چې امام الحرمین (د مدینې منورې او مکې مکرمې امام) ورته ویل کېدل .

واقعه

د حسن بصري نه روایت دی هغه فرمایي زما مجوسي ګاونډی وو کور یې زما د کور په خوا کې وو او لما سره یې ښه ګاونډي توب درلود ، ښه سړی وو ، ښه اخلاق یې وو ، ما به هر وخت امید کاوه که دا مسلمان وی او په اسلام باندې مړشوی وی ډېره به ښه وه هغه سخت بیمار وو زه یې پوښتنې ته ورغلم ورته مې وویل : څنګه یې؟ ده راته وویل :

بیمار یم صحت مې نشته ، بدن مې مریض دی قوت راسره نشته ، د وېرې نه ډک قبر ته ورځم ملګری را سره نشته ، په اوږده سفر روان یم توښه راسره نشته ، په نري پل روان یم او اجازه راسره نشته ، اور مې په مخ کې دی او ساتونکې مې ترې نشته ، عالي شان جنت راته مخې ته دی زما پکې برخه نشته ... ده چې له دمې سره ماته خبرې کولې نو ما په زړه کې وویل کاش اوس ایمان قبول کړي نو مې ورته وویل : نو چې دومره پوهېږې ولې اسلام نه راوړې چې پدې هرځای کې په امن شې ... هغه چې سپین ږیری وو سره ددې چې مجوسي وو خو ډېر پوه سړی وو راته یې وویل : **إنَّ المِفتاح بيدِ الفتاح ، والقفُل هاهنا** (کیلي د فتاح ذات سره دي او قفل (قلف) دلته دی) سینې ته یې اشاره وکوله او لدې خبرې سره بې هوښه شو ما وویل : ای الله که چېرته دې مجوسي لدې نه وړاندې کوم نېک عمل کړی وي د هغه نیکي له

برکته مخکې ددې چې دده روح دده له بدن څخه لاړ شي د هغه نیکي بدل ده ته ورکړه او په اسلام یې مشرف کړه ... پدې کې مجوسي سترګې را خلاصې کړې او راته یې وویل : فتاح ذات کیلي را ولېږله لاس د را اوږد کړه او زه ددې ګواهي ورکوم چې نشته په حقه لائق د عبادت مګر یوازې الله دی او محمد د الله رسول دی ... څنګه یې چې دا وویل روح یې ترېنه والوتلو او په حق ورسېدو .....

د ښې خاتمې نښې

د ښې خاتمې لپاره څه نښې دي ځینې یې داسې دي چې هغه کس یې پېژني چې ځانکدن یې وي او ځینې یې داسې دي چې دده سره په خوا کې ناست کسان وربانډې پوهیږي هغه نښې چې د ځانکدن خاوند پخپله وربانډې پوهیږي له هغې نه یوه داده چې د ځانکدن په وخت کې د الله له لوري نه ده ته زیری ورکول کیږي چې الله ورڅه راضي دی لکه الله چې فرمایي : **إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ (30)** . [1]

ترجمه : هغه کسان چې ویل یې رب زمونږ الله دی بیا په همدې خبره ټینګ پاتې شوې وي ملائکې ورته نازلیږي او ورته وایي تاسې مه ډاریږئ مه خفه کېږئ او د هغه جنت زیری قبول کړئ چې لتاسې سره یې وعده کېده.

او دا زیری نیکانو بندګانو ته هم په ځانکدن کې ورکول کیږي ، هم په قبر کې او هم هغه وخت کله چې د قبرونو څخه را پورته کړل شي په همدې ډول د حضرت ام المؤمنین عائشې نه

---

[1] **سورة فصلت**

روايت دى هغه فرمايي : رسول الله فرمايل : **من أحب لقاء الله أحب الله لقاءه، ومن كره لقاء الله كره الله لقاءه فقلت: يا نبي الله! أكراهية الموت، فكلنا نكره الموت؟ فقال ليس كذلك، ولكن المؤمن إذا بشر برحمة الله ورضوانه وجنته أحب لقاء الله، وإن الكافر إذا بشر بعذاب الله وسخطه كره لقاء الله وكره الله لقاءه .** [1]

ترجمه : څوک چې د الله سره مخامخ کېدل خوښوي الله هم له ده سره مخامخ کيدل خوښوي او څوک چې د الله سره مخامخ کېدل بد ګڼي الله هم له هغوى سره مخامخ کېدل بد ګڼي بيا ما ورته وويل : اى د الله رسوله ددې مطلب د مرګ بد ګڼل دي موږ ټول مرګ بد ګڼو؟ رسول الله وويل : نه داسې نه ده بلکه مؤمن ته چې کله د الله د رحمت زيرى ورکړل شي او د هغه د رضا زيرى ورکړل شي نو د الله سره مخامخ کېدل يې خوښ شي او ورته محبوب شي او کافر ته چې کله د الله په عذاب زيرى ورکړل شي او د الله د غصې زيرى ورکړل شي نو د الله سره مخامخ کېدل ورته بد شي او کرکه ترېنه وکوي نو الله هم دده سره مخامخ کېدل نه خوښوي .

امام خطابي فرمايي : **معنى محبة العبد للقاء الله إيثاره الآخرة على الدنيا، فلا يحب استمرار الإقامة فيها، بل يستعد للارتحال عنها، والكراهية بضد ذلك**

ترجمه : د الله د ملاقات د خوښولو معنى داده چې انسان آخرت په دنيا باندې خوره کړي او دلته يې پاتې کېدل نه وي خوښ بلکه هر وخت له دنيا نه د تللو لپاره تيارى کوي او د الله د ملاقات نه خوښول ددې په ضد دي (بنده غواړي چې په دې دنيا کې پاتې شي او د آخرت لپاره د تلو تيارى نه کوي) .

---

[1] **متفق عليه**

ﷲ هم فرمايي :

إِنَّ الَّذِينَ لاَ يَرْجُونَ لِقَاءنَا وَرَضُواْ بِالْحَياةِ الدُّنْيَا وَاطْمَأَنُّواْ بِهَا وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُونَ (7) أُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمُ النُّارُ بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ (8)[1] .

ترجمه :بېشکه هغه کسان چې نه لري امېد د ملا قا ت زموږ (او له آخر ته منکران دی) او خوښ دي په دې ژوند لږ خسېس او آرام ئې نېولی (راضي شوي دي) په دې (ژوند پورې او له حشره غافلان دي) او هغه کسان چې دوی له آېتونو (دلا ئلو د قدرت) زموږ نه غافلان دي. دغه مذ کوره کسان ځای د ورتلو د دوی اور (د دوزخ) دی په سبب د هغه چې وو دوی چې کول بی ئې.

د ځانکدن په وخت کې کلمه

د ښې خاتمې بله نښه داده چې د ځانکدن په وخت کې د انسان ژبه په کلمه وګرځي پدې اړه رسول ﷲ فرمايي :

من كان آخر كلامه لا إله إلا الله دخل الجنة .[2]

ترجمه : د چا چې آخري خبره کلمه وي ﷲ به يې جنت ته داخل کړي .

په تندي باندي خوله راتلل

په تندي باندې په ځانکدن کې خوله راتلل د ښې خاتمې نښه ده پدې اړه رسول ﷲ فرمايي : **موت المؤمن بعرق الجبين .**[1]

---

[1] سورة يونس
[2] رواه الحاكم

ترجمه : د مؤمن مرګ د تندي د خولې کېدلو سره دی .

د جُمعې په شپه او ورځ کې مرګ

د جمعې په شپه او یا د جُمعې په ورځ مرګ هم د ښې خاتمې نښه ده رسول الله فرمايي :

ما من مسلم يموت يوم الجمعة أو ليلة الجمعة إلا وقاه الله فتنة القبر

ترجمه : کوم مسلمان چې د جُمعې په ورځ او یا جُمعې په شپه مړ کيږي الله يې د قبر له فتنې څخه ساتي .

شهادت

د الله په لاره کې شهادت هم د ښې خاتمې نښه ده يا همدارنګه په نورو هغه وجو باندې وفات کېدل چې په هغه باندې څوک وفات شي رسول الله ورته شهيد ويلي دي لکه وبا ، د ګېډې بيماري ، غرقېدل پدې اړه يو حديث دی رسول الله له صحابه وو نه پوښتنه وکوله : **ما تعدون الشهيد فيكم؟ قالوا: يا رسول الله ، من قتل في سبيل الله فهو شهيد، قال: إن شهداء أمتي إذا لقليل قالوا: فمن هم يا رسول الله ؟ قال: من قتل في سبيل الله فهو شهيد، ومن مات في سبيل الله فهو شهيد، ومن مات في الطاعون فهو شهيد، ومن مات في البطن فهو شهيد، والغريق شهيد .** [2]

ترجمه : تاسې شهيد څه ته وایاست؟ صحابه وو ورته وويل : هغه چې د الله په لاره کې ووژل شي هغه شهيد دی رسول الله وويل : بيا خو به زما

---

[1] رواه احمد و الترمذي

[2] رواه مسلم

د امت شهیدان ډېر کم وي دوی ورته وویل : نو بیا شهید څوک دی یا رسول الله ؟ رسول الله وفرمایل : هغه چې د الله په لاره کې ووژل شي هغه شهید دی ، څوک چې د الله په لاره کې وزي او مړ شي هغه شهید دی ، څوک چې په وبا مړ شي هغه شهید دی ، څوک چې د ګېډې په بیماري مړ شي هغه شهید دی ، څوک چې غرق شي هغه شهید دی .

په یو بل حدیث کې هغه هم ورسره شمارل شوی دی چې کوم ځای پرې را ړنګ شي او ترې لاندې وفات شي رسول الله فرمايي : **الشهداء خمسة: المطعون، والمبطون، والغرق، وصاحب الهدم، والشهيد في سبيل الله** .[1]

ترجمه : شهیدان پنځه دي هغه چې په وبا مړ شي ، هغه چې د ګېډې په بیماري مړ شي ، هغه چې غرق شي ، هغه چې کوم ځای پرې را ړنګ شي ، او هغه چې د الله په لاره کې شیهد شي .

ښځه د ماشوم په ولادت کې مړه کېدل

د ښځې لپاره یوه بله د ښې خاتمې نښه ده چې ښځه په اولاد مړه شي پدې اړه د رسول الله حدیث دی حضرت عبادة بن صامت یې روایت کړی دی هغه فرمايي رسول الله موږ ته د شهیدانو ذکر کاوه او یوه پکې هغه ښځه یاده کړه چې د اولاد په پیدا کېدلو کې مړه شي هغه به هغه ماشوم چې پیدا شو یا د پیدا کېدو په حالت کې یې مور مړه شوه او پیدا نه شو د جنت خواته ور کش کوي او په هغه شي به مور ورسره تړلې وي چې کوم د ماشوم د نو

[1] صحیح البخاري

سره تړلي وي او بيا وروسته له ولادت نه تريته پرې کول کيږي .[1]

په اور سوزيدل

په اور سوزيدل او په ذات الجنب بيماري باندې مړه کيدل هم د آخرې خاتمې د ښه والي نښه ده ځکه دې دواړو ته هم شهيدان ويل شوي دي رسول الله چې کله شهيدان حسابول نو دا دواړه يې هم پکې شمار کړي وو چې دا هم شهيدان دي .

په ظلم سره وژل کيدل

څوک چې د ظالمانو په لاس ووژل شي دا هم ددې کس د ښې خاتمې نښه ده پدې اړه رسول الله فرمايي :
من قتل دون ما له فهو شهيد، ومن قتل دون دينه فهو شهيد، ومن قتل دون دمه فهو شهيد .[2]

ترجمه : هغه چې د خپل مال په دفاع کې ووژل شي هغه شهيد دی ، هغه چې د خپل دين په دفاع کې ووژل شي هغه شهيد دی ، هغه چې د خپل ځان په دفاع کې ووژل شي هغه شهيد دی .

د نيک عمل نه وروسته مړه کيدل

هغه څوک چې څه نيکه خبره وکوي او وروسته پسې نورې خبرې ونه کوي او يا نيک عمل وکوي بيا پسې نور څه عمل ونه کوي پدې حالت کې وفات شي دا هم د دې کس د ښې خاتمې نښه ده رسول الله

---

[1] رواه الامام احمد
[2] رواه ابو داود

فرمايي : **من قال لا إله إلا الله ابتغاء وجه الله ختم له بها دخل الجنة، ومن تصدق بصدقة ختم له بها دخل الجنة .** [1]

ترجمه : چا چې د الله لپاره كلمه وويله او پدې سره دده د ژوند خاتمه وشوه او چا چې صدقه وركړه او پدې سره دده د اعمالو خاتمه شوه دا به جنت ته ننوزي .

دا پورته علامې دي نورې به هم وي خو دا علامې ښكاره كېدل د خوشحالۍ خبره ده او دا معنى يې نه ده چې دا علامې له چا نه ښكاره شي هغه به جنت ته ننوزي او موږ به د هغه په جنتي كېدلو فيصله كوو .

د ښې خاتمې لپاره اسباب

دا چې الله چا ته ښه خاتمه وركوي ددې لپاره څه اسباب دي چې يو څو يې زه تاسې ته مخې ته ږدم .

استقامت

هغه چاته الله ښه خاتمه وركوي چې هغه په دين باندې مستقيم وي او همدا يې د ژوند لاره ګڼلې وي او د هغه مطابق ژوند كوي مخكې آيت تېر شو الله فرمايي :

إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ (30) . [2]

---

[1] رواه الامام احمد

[2] سورة فصلت آية ٣٠

ترجمه : هغه کسان چې ویل یې رب زمونږ الله دی بیا په همدې خبره ټینګ پاتې شوې وي ملائکې ورته نازلیږي او ورته وایي تاسې مه ډاریږئ مه خفه کیږئ او د هغه جنت زیری قبول کړئ چې لتاسې سره یې وعده کیده.

په الله باندې ښه ګمان

هغه کسان چې د الله نه ډاریږي او د هغه نا فرماني نه کوي او ددې سره سره یې په الله باندې نیک ګمان وي چې هغه به ما بښي د هغه هم خاتمه ښه کیږي د حضرت ابي هریره نه روایت دی چې رسول الله فرمایل : **یقول الله تعالی أنا عند حسن ظن عبدي بي .**[1]

ترجمه :الله فرمایي زه د بنده له ګمان سره یم (څنګه چې هغه په ما ګمان کوي زه هماغه ور پیښوم) .

تقوی

هغه کسان چې له الله نه ډاریږي الله د هغوی هر کار ورته اسانوي او آخره خاتمه چې مهم کار دی دا هم الله ورته ښائسته کوي الله فرمایي :

وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا (2) .[2]

ترجمه :او هغه چوک چې ویریږی له الله ځان ساتی له معاصیوو وبه ګرځوي ده ته یو ځای د ورتلو (له دنیوي او آخروي غمونو نه)

---

[1] **رواه البخاري ومسلم**
[2] **سورة الطلاق**

همېشه اطاعت

هغه کسان چې هر وخت د الله اطاعت کوي مونځ په پابندي سره کوي روژه د اهتمام سره نيسي او د الله له محرماتو څخه ځان ساتي هغه ته هم الله ښه خاتمه ورکوي .

د مرګ زيات يادول

هغه کسان چې مرګ ډېر يادوي او هر وخت يې په زړه دا غم پروت وي چې دى به مړ کيږي او له ده سره به د مرګ نه وروسته څه کيږي او د دې حالت لپاره تيارى کوي هغوى ته الله د ښې خاتمې ښه قسمت ورکوي .

د بدې خاتمې نه ډاريدل

هغه کسان چې له بدې خاتمې نه ډاريږي او د الله نه سوالونه کوي چې ده ته ښه خاتمه ورکړي او پورته چې د بدې خاتمې کوم سببونه تېر شول له هغې نه ځان ساتې نو اميد دى چې الله ده ته هم نصيب کړي **حسن خاتمه**

ماخذونه

1. القرآن الكريم
2. البرهان في علوم القرآن
3. الإتقان في علوم القرآن
4. تفسير القرطبي
5. تفسير ابن كثير
6. تفسير الطبري
7. تفسير المنار
8. صحيح البخاري
9. صحيح مسلم
10. سنن الترمذي
11. سنن النسائي
12. سنن أبي داود
13. سنن ابن ماجه
14. سنن الدارمي
15. سنن الدارقطني
16. شرح النووي على مسلم
17. فتح الباري شرح صحيح البخاري
18. حاشية السندي على ابن ماجه

19. عون المعبود
20. تحفة الأحوذي
21. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح
22. السيرة النبوية (ابن هشام)
23. كتاب الشفا بتعريف حقوق المصطفى
24. زاد المعاد
25. البداية والنهاية
26. جامع العلوم والحكم
27. سير أعلام النبلاء
28. بداية المجتهد ونهاية المقتصد
29. بيان المختصر شرح مختصر ابن الحاجب
30. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع
31. تحفة المحتاج في شرح المنهاج
32. جمع الوسائل في شرح الشمائل
33. رد المحتار على الدر المختار
34. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء
35. فتح القدير
36. البحر الرائق شرح كنز الدقائق
37. الأشباه والنظائر على مذاهب أبي حنيفة النعمان

38. القواعد النورانية الفقهية

39. أنوار البروق في أنواع الفروق

40. مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين

41. الجواب الكافي لمن سأل عن الدواء الشافي

42. موعظة المؤمنين من إحياء علوم الدين

43. القاموس المحيط

44. لسان العرب

45. النهاية في غريب الحديث والأثر

46. مختار الصحاح

47. الحاوي للفتاوي

د مؤلف چاپ شوي آثار

1. د حضرت محمد د نبوت معجزې

پښتو

2. ږنګه څاله

پښتو

3. آشيانه سوخته

فارسي

4. په اسلام کې د انسان حقوق

انګليسي

5. دین یې دام دی ددنیا په لار کې اېښی
پښتو

6. فرار از کزار
فارسي

7. له کزاره تېښته
پښتو

8. زوړ دین نوی مسلمان
پښتو

9. ډم ډمکو جي او لیکوال
پښتو

10. ادیان پشت در
فارسي

11. له دروازې تر شا دینونه
پښتو

12. د انصاف او اعتدال لاره
پښتو

13. کفري الفاظ
پښتو

14. کل بچه فارسي

15. معلومات عمومي
فارسي

16. د حج لارښود پښتو
او انګلیسي

17. محمد رسول الله ﷺ سيرت اخلاق او پېژندنه
پښتو

18. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه اول
پښتو

19. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه دوهم
پښتو

20. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه دريم
پښتو

21. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه څلرم
پښتو

22. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه پنځم
پښتو

23. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه شپږم
پښتو

24. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه اوم
پښتو

25. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه آتم
پښتو

26. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه نهم
پښتو

27. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه لسم
پښتو

28. د فقهي کتابونو له پانو څخه اول پښتو
29. د فقهي کتابونو له پانو څخه دوهم پښتو
30. د فقهي کتابونو له پانو څخه دریم پښتو
31. د فقهي کتابونو له پانو څخه څلورم پښتو
32. د فقهي کتابونو له پانو څخه پنځم پښتو
33. د علم حدیث مطالعه پښتو او انګلیسي
34. د فقهي کتابونو له پانو څخه شپږم پښتو
35. کلمه طیبة پښتو
36. الدعاء پښتو
37. اللهم عربي، پښتو، انګلسي
38. المسجد پښتو
39. قرآني معلومات لمړی برخه پښتو

40. سلام پښتو

41. د فقهي کتابونو له پانو څخه اومه برخه پښتو

42. د وخت اهمیت (لمړی برخه) پښتو

43. د وخت اهمیت (دوهمه برخه) پښتو

44. د وخت اهمیت (دریمه برخه) پښتو

45. الحکمة ۱ پښتو

46. الحکمة ۲ پښتو

47. الحکمة ۳ پښتو

48. الحکمة ٤ پښتو

49. حتمي سفر (مرګ) پښتو

50. حتمي سفر (شهادت) پښتو

51. حتمي سفرل (قتل) پښتو

52. حتمي سفر (ځانکدن) پښتو

53. حتمي سفر (کفن، غسل، جنازه) پښتو

54. حتمي سفر (قبر)
پښتو
55. حتمي سفر (د قيامت وړې نښې)
پښتو
56. حتمي سفر (د قيامت لوې نښې)
پښتو
57. حتمي سفر (قيامت)
پښتو
58. حتمي سفر (جنت)
پښتو
59. حتمي سفر (دوزخ)
پښتو
60. حتمي سفر (خاتمه) ستاسې
په لاس کې